د اومر موسسی خپرنیزارگان

دویم خپرنیز پړاو، شپږم کال، اتویشتمه گڼه

امن





ترخه واقعیتونه





اثار تاریخی میوزیم هرات تلف گردید

د ودان افغانستان په هیله د اومر هڅې

مطالعه سؤ تغذی در کلینك اومر

امن

د اومر موسسې دوه میاشتنۍ مجله

په دې ګڼه کې

مضمون ______________ مخ

AMN

د امتیاز خاوند : اومر موسسه

موسس : الحاج فضل کریم فضل

مسوول مدیر : قاضی سید اختیار سباوون

کتنپلاوی : ذکریا پایاب، پوهندوی ډاکتر غلام دستیګر حضرتی، پوهنمل ډاکتر مسعود صافی.

عکاس: حبیب الله توخی

پته

په افغانستان کې:

کابل وزیراکبرخان لسم سرك د کور لمبر ۲۰۶ افغانستان.

تیلیفون : ډیجیتل : 0093 (0) 20-2100833
0093 (0) 20-2301203

پېښور : اومر موسسه

حیات اباد فیز III پېښور

تیلیفون : ۰۹۲-۸۱۲۰۸۴

فاکس : ۰۰۸۷۳-۷۶۳۲۲۴۳۳۲

omarintl@liwal.com
omarintl@psh.paknet.com.pk

امن مجله کې خپاره شوي مضامین د لیکوال خپل نظر دی او مجله یې ننګه نه کوي



بسم الله الرحمن الرحيم

خپلې خبرې

افغانستان زموږ د ټولو ټاټوبی

درنو لوستونکيو!

په هېواد کې د نوی بدلانه له راتلو سره سم د هېوادالو هيلې ټاندی شوي دي او ديته ليواله دي چې د ملي يووالي تر چتر لاندې په يوه سوليزه فضا کې د خپلواك او پرېمنو ولاړ افغانستان سر څنګه کولو ته متې راونغاړی.

يو وخت زموږ هېواد د لرغونو نو پيړيو يو ژوندی تاريخ او په سيمه کې يې لرغونتيا ثابته وه د خلکو فرهنګ مو د نړيوالو فرهنګونو سره انډول او ان پرګاونډيو باندی وه.

خو په بېلا بېلو پلمو پرديو لاسوهنو زموږ هر هرڅه له خاورو سره خاوری کړل. زموږ ملي پياوړی اقتصاد له منځه ولاړ فرهنګی شتمنی مو څه تری پخوا او څه طالبي بې فرهنګو د اور او بارودو خوراك کړه تاريخی اثار د پرديو په لمسون په دغه او هغه نامه يا خرڅ يا ونړول شول که څه هم طالبانو نړی ته د شهکار په توګه دا خبره لکه بو څه کوله چې موږ امنيت راوستی دې خو د کيبل درې او زندان دروازې نه وې تړل شوې ايا امنيت ديته وايی چې د عسکرو په لاسوکې دې تل د زولنو ګيډی شرنګيږي. او خلك دې د کورونو پرېمنو دوته اړ شي؟

د همدغی بی کفايتی له امله يی په بيساری ډول ټولنيزی ستونزې راوزيږولې.

او د طالبي لنډ غرو په واسطه زموږ هيواد کې دننه د پوهی دروازی وتړل شوی او پوهنتونونه دجنګ له پاره له منتظره قطعو څخه ډك شول، زموږ ګڼ شمېر پوهان يا په سيندونو کې واچول شول او پاير ديو هېوادو ته په تيښته اړشول او په شعوری توګه دغی ناپوهو طالبانو زموږ پر تاريخ او جغرافی پر له پسې ملنډې ووهلې.

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

د فرهنګي بیارغاونې یو څنګ:

د کابل پوهنتون اوسنۍ بڼه د عاجلو مرستو غوښتونکې ده

سرمحقق زلمی هېواد مل

هغو ښاغلیو چې کابل پوهنتون د تېرې میلادي پېړۍ د شپېتو او اویایمو کلونو په (۱۹۶۶-۱۹۸۸م) په جریان کې لیدلی وی مانا دا چې تحصیل یې پکې کړی وی، یا تدریس. هغوی پدې پوهیږي. چې دا مهال د کابل پوهنتون د سیمې له ډېرو ښو پوهنتونونو څخه و.

د پاچهي دوران په وروستیو کلونو او د سردار محمد داود د جمهوریت په دوران کې کابل پوهنتون تر امیتونو. اسانتیاوو. امکاناتو. کادرونو او زبده استادانو د منطقې په هېوادونو کې ساری نه درلود. کابل پوهنتون خارجي محصلین درلودل.

د لیسانس (B.A) کوم د پلوم چې کابل پوهنتون فارغانو ته ورکاوه حتی د غرب په عمده پوهنتونونو کې دمنني وړو. ما ته چاویلي وو. چې یو وخت د انګلستان په پوهنتونونو کې د پاکستان د پوهنتونونو (M.A) دپلوم نه منل کېده. خو د کابل پوهنتون د (B.A) دپلوم یې مانه. د کابل پوهنتون د اسنادو په وړاندې د نړۍ د سترو پوهنتونونو له دې وړچلندونو څخه ښکاري چې کابل پوهنتون یو وخت څومره بین المللی اعتبار درلود.

د مرحوم سردار محمد داود د جمهوریت په اواخرو کې د کابل پوهنتون ځینو دیپارتمنتونو کې ماستری د (M.A) کورسونه هم شروع شول. زموږ د کابل پوهنتون زیاترو دیپارتمنتونو خپلو استادانو او امکاناتو ته په پاملرنه ستنهرد ماستری کورسونه شروع کولای او سمبالولای شول. داچې ولې یې نه پیلول پرته له مالي ستونزو بل علت سړی ورته نشي پیدا کولای.

ما چې په وروستیو دوولسیزو کې دسیمې د هېوادو ځینې پوهنتونو نه وکتل. په زیاترو کې له ماستری سربېره د Ph.D سند هم ورکوي. هغه استادان چې د Ph.D دکور سونو په تدریسو بوخت وو. د کابل پوهنتون د هغه تاکل شوي وخت استادان ترې په سویه. تجربه او علمي مهارتونو کې په مراتبو لوړ وو او اوس هم دي. مانا دا چې که زموږ پوهنتون غوښتي وای هغه وخت یې حتی د Ph.D لپاره د شاګردانو دروزلو توان درلود.

د ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور کودتا له امله چې زموږ پر خلکو، هېواد، اداره او ټولو اجتماعي. فرهنګي بنسټونو کوم مصیبتونه راغلل. هغه له هیچا پټ نه دي خو د کابل پوهنتون د تحصیلي معیارونو د ټیټېدلو او د ظرفیتونو او امتیازونو له لاسه ورکولو مرحله د همدغې بدمرغې کودتا له لومړیو میاشتو پیل شوه:

د کابل پوهنتون حتی باتجربه او ډېر پاخه استادان دوی په هماغه ۱۳۵۷ هـ ش کال کې تقاعد کړل. په غرب کې د روزل شویو استادانو زنداني کول پیل شول. د زنداني کېدلو او وژلو له ویرې له پوهنتون او نورو علمي مراکزو تېښته هم پېل شوه.

له داخلي استادانو سربېره دکابل پوهنتون غربي خارجي استادان هم په بېلا بېلو لارو تهدیدېدل او مجبورېدل چې خپلو هېوادو ته ستانه شي، د خارجي استادانو په ستنیدو سره توامیتونه نور هم متزلزل شول زیانمن کړل او یو په بل پسې قطع شول.

د پوهنتون د استادانو د تقرر لوایح هم تر پښو لاندې شول او د حزبي معیارونو پر اساس د استادانو مقرري د مقاماتو د مکتوبونو له مخې کېدله.

د پوهنځیو مو قوتې خپرونې مرکزي کېدو په پلمه بندې شوې او د پوهنتون د (۹) مجلو پر ځای دوې مجلې خپرې شوې، چې دې کار د استادانو د تحقیقي کارندتوب په پښتیا کې خپله ونډه ودرلوده. دغو یادوشویو او ځینو نورو عواملو د کابل پوهنتون د تحصیلي معیارونو په راپریوتو کې خپل ځانګړی د حزب د موکراتیك د څورلس کلن حاکمیت په دوران کې پوهنتون خپل ټول امتیازونه له لاسه ورکړل. خو بیا هم په پښو ولاړو. کله چې تنظیمونه واك ته ورسېدل دغو تنظیمونو ترمنځ کور ډاګو جنګونو پوهنتون له خپل لوړ نامه سره پر زمکه راغورځار کړ او د افغانستان د لوړو زده کړو له دغه لرغوني او نامتو مرکزنه د بې ګناه انسانانو وژنځای جوړ شو. ټولې شتمنۍ یې ورچور کړې کتابونه او کتابخانې یې یاوسوځول شول او یا هم غلا او وپلورې شوې څو پرله پسې کلونه چا د پوهنتون خواته حتی کتلای نشول.

په ۱۳۷۴ هـ ش کال کې د تنظیمي جنګي ډلو ترمنځ د مصیبتباره جنګونو په ترڅ کې له پوهنتون سیمه له پرې حاکمې جنګي ډلې پاکه شوه. چارواکو بیا هڅه وکړه چې پوهنتون بیرته پرانیزي. دا کارو شو، خو پوهنتون خپل ډېر څه له لاسه ورکړي اونه جبرانیدونکي معنوي زیانونه وراوښتي وو او په سوونو میلیونه ډالره مادي زیانونه یې ګاللي وو.

دغه مهال پریسته پروت پوهنتون کې امکانات ډېر محدود شوي وو. محصلین په داسې ډول چې علمي او اکادمیکو نورمونو ته توجه نه کېدله. استادان د لوړو مقاماتو په احکامو مقرریدل او محصلیت هم له مختلفو مراجعو معرفي کیدل. پرته له دې چې یې د استاد په مقررۍ او محصل په جذب کې علمي موازینو او اکادمیکو رمونوتو ملرنه کړې وي. داسې استاد لیدل شوي چې چارواکو به په مقررۍ کې د استاد لپاره علمي رتبې هم ټاکلې مانا دا چې دا سړی دې وهندوی مقرر شي.

کابل پوهنتون په نیم ځاني ډول ځان د طالبانو سلطې ته راورساوه. په دې دوران کې سره له دې چې د پوهنتون د بیارغاونې او د درسي معیارونو د وچتولو لپاره هیڅ ونه شول. اکادمیك نور مونه تر پخوا لاړیاته تر پښو لاندې شول. د محصل جذب او د استاد استخدام په اکادمیکو نور مونو برابر نه وو. بلکه د اختناق او عقبه ګرایي یوه فضا پرکابل پوهنتون حاکمه وه. په نام پوهنتون و. نورنو نه علمي معیار موجود و او نه د علمي او اکادمیکو لوایحو مراعات. خو بیا هم په کابل پوهنتون کې به متېې سا چلیدله او ترد طالبانو د سلطې ترپای ته رسیدو وروسته یو وران ویجاړ پوهنتون نومې نظام پاتې شو. داسې پوهنتون چې د تیر ۱۳۸۰هـ ش کال د حوت په میاشت کې زه یوه ورځې د کابل پوهنتون له رئیس پوهنوال پوپل سره ناست وم. چې دیونسکو یو هئیت راغی اونه بناغلي پوپل سره یې کتل ما غوښتل چې له مجلسه ووزم. د پوهنتون رئیس راته د ناستې او په مجلس کې د کښیناستې اشاره وکړه، زه په مجلس کې کښیناستم او د پوهنتون رئیس چې هینته د پوهنتون کوم حال بیان کړ په لنډیز یې ترجمه داده:

۱- د کابل پوهنتون د اوبو رسولو شبکه له منځه تللې ده د ټول پوهنتون تشنابونه غیر فعال دي. د ۱۳۸۱ تعلیمي کال لپاره تر درې زرو زیاتې ښځینه محصلینې پوهنتون ته راغې موږ به ددوی د تشنابونو مسال څنګ حلوو: یا دهلکانو لپاره ځاك اندازونه یوې فرانسه یې موسسي جوړ کړې دي

۲- پوهنتون برېښنا نه لري

۳- د پوهنتون تلیفونونو شبکه ویجاړه شوې ده، په ګرده پوهنتون کې موږ یو تلیفون نه لرو. ده مثال ورکړ، چې څه موده د مخه د پوهنتون پر یو ځای اور ولګید په ټول پوهنتون کې یو تیلیفون نه و. چې موږ اطفائیه پرې خبره کړو. ناچاره مو د اطفائیې د خبرولو لپاره یو سړی په ټکسي کې واستوه. تر هڅو چې اطفائیه راتله. هغه ځای سوی و.

۴- قرطاسیه نه لرو په دریو میاشتو کې موږ پوهنځیو ته قرطاسیه نه ده توزیع کړې

۵- ترانسپورتي وسایل نه لرو. د لیلي وسایل مو په نشت شمار دي. او داسې نور په سلګونو مشکلات به

داسې انداز کې بيان کړی، چې ما تره ژړا راوسته او ما ته هغه د مرحوم داود خان د جمهوريت د وران ملې ودان پوهنتون په مغزو کې تاو راوتاو شو او بيا دا اوسنی پرسينه پروت پوهنتون په هر صورت دا يوازې د کابل پوهنتون نه دی چې دومره ستونزې لري، بلکه زموږ ټول هېواد له دغسې بربادېو او ورانيو سره مخ دی او يوازې د افغانانو اورنی وطنی مينه او نړيوال ملاتړ دا ستونزې برطرفه کولای او افغانان د ابادۍ او هوسيايي پرلور روانولای شي.

موږ پوهېږو، چې زموږ د هېواد ټول فرهنګي، اجتماعي او اقتصادي بنسټونه وران ويجاړ دي او جدي بيارغاونې ته اړتيا لري، خو زما په پوهه د ځينو موسسو بيارغاونه په اوليتونو کې شمېرلی کيږي. کابل پوهنتون هم پدې اوليتونو کې شامل دی. دا پوهنتون بنسټيزين بيارغاونې ته اړتيا لري. ددې ستر علمی کانون د بيا رغاونې لپاره زما ځانګړي وړانديزونه دادي:

۱- ددې پوهنتون پخوانی تکړه او اکاديميکو لايحو او مقررو سره برابر مقرر شوی استادان ډېر لږ پاتې دي. زياتره يې وتلي يو څه چې پاتې دي ډېرې زاړه او سپين ږيري و: دردونو او غمونو رنځورولی او اخوا لو کړولي دي، زياتره موجود استادان فرمانی مقرر شوی دي، اکادميك او علمی سطح يې لوړه نه ده. ددوی د علمی سطحې د لوړولو اوله علمی معيارونو سره ددوی د اشنا کولو لپاره بايد د لنډې او اوږدې مودې لپاره دوې خارج ته واستول شي، تر هغې چې موږ دا کار ونه کړو د پوهنتون د زده کړو علمی معيار نشو وچتولای.

۲- د شاګردانو او محصلينو په جذب کې بايد علمی موازين ترپښو لاندې نشي او د کانکور د ازموينې له تيرولو پرته بايد هيڅ فرمان محصل ته د شمول اجازه ورنه کړل شي. د محصلينو د شمول له پاره نه يوازې دا چې کانکور بايد شرط وي بايد يو کانکور کې د برخه اخيستونکيو د بکلوريا ددور اسناد هم بايد دقيق کتل شوی وي، دقيق په دې مانا چې زياتره د جعلی اسناد و خاوندان وي په کانکور کې ګډون کوي بيا دواسطو، وسيلو او بيسولو لارې ځانونه کاميابوي.

په پوهنتونونو او عالی تحصيلاتو علمی محيطونوکې بايد د رشوت او خنايت له چټليو پاك وي. له بده مرغه چې اوس موږ په دغسې پاکو محيطونو کې ددغسې چټليو دموجوديت اوازی اورو. وايي چې د علمی او لوړو تحصيلاتو په ببلا ببلو ساحوکې په ببلا ببلو نومونو پيسې کښنته پورته کيږي. که په موږ په دغسې محيطونو کې د پيسه خوريو مخوونه نيسو نوله نورو ادارو به څه ګيله کوو.

۴- ناکامانو ته د ازموينو د چانسونو په ورکولو کې بايد موږ د عالی تحصيلاتو د موسسو لوايحو ته جدی پاملرنه وکړو. له لوړو دولتی مقامونو څخه بايد جدي غوښتن وشي، چې محصلينو ته د ځانګړيو اوامرو په ورکولو سره د عالی تحصيلاتو د موسسو او پوهنتونونو علمی شوراوي صلاحيت ولری نه د مقاماتو امرونه. پر اوامرو د چانسونو د زياتولو يوه بله نقيصه داده، چې واسطه والاد بيا د ازموينی چانس پيدا کوي او بې واسطی غريب بيا هغه صفت يا هغه مضمون د يو بل کال لپاره له سره وايي دا ار د تحصيلی موسساتو صلاحيتونه هم محدودوی او علمی موازين ترپښو لاندې کوي.

۵- پر داسې نصاب يوجدی او هر اړخيز غورته ضرورت دی. زموږ د پوهنتونونو اوسنی درسي نصابونه ډېر زاړه او د نوري نړۍ له معيارونو سره برابر نه دي. هر پوهنځی بايد د مجربو استادانو او حتی له پوهنتونه د باندې پوهانو په شمول يو عملی بورډ جوړ کړي، هر ديپارتمنت پر داسې نصاب له سره غور وکړي. له نويو شرايطو سره برابر نصاب جوړ کاندې د نو يو علمی پرمختيا وو او نويو څېړنو په رڼا کې دغو عالمی موسسو ته درسي مواد تهيه شي او د زړو موادو له تدريس له يو مخې مخنيوی وشي.

۶- د استادانو د څېړنو د خپرولو او ددوی د مطالعاتو د نتايجو د مشر لپاره به کاردي چې په ټولو عالی تعليمی موسسو کې موقوتی خپرونې جاري شي، بلکه د کابل پوهنتون د هر پوهنځی پخوانی مجلی دې بيا په خپرونو پيل وکاندي د استادانو د علمی

ترفیعاتو او درسي اثارو چاپ ته باید د اولیت حق ورکړل شي او د عالي تحصیلاتو وزارت مطبعه دې د یوې مرکزي مطبعې په توګه دا کارونه اجراکاندي.

۷- داستادانو او محصلینو لپاره د یوې ازادې فضا ایجادول موږ پوهیږو ، چې له حزب دموکراتیك خلق د حاکمیت له لومړ یو ورځو بیا د تنظیمونو او طالبانو دواکمنۍ ترپایو په لیلیو اودرسې ساحو کې په یوه او بله نامه د روسي استخباراتو افراد او اشخاص موجود وو، د محصلینو او استادانو لپاره یې یوه ختنقه فضا جوړه کړې وه، موږ پوهیږو چې مختنقه فضا د تحصیل او تدریس پر امکاناتو ډېرې ناوړې اغیزې شیندي او زموږ محصلین او استادان پریوه ډېر ناوړه رواني حالت کې ژوند کوي. اوس چې زموږ دولتي سیستم د دموکراسي، پر لور روان دی او اهداف یې د خلکو ازادیو ته د احترام پر محور جوړې کړه اوس د استخباراتو او ځینو نورو ډلو خاص استازي په عالي تحصیلي موسسو کې استادان او محصلین ځو روی نو دابه یو ډېره لویوه نا انصافي وي.

۹- په پاچهی د وران او د مرحوم سردار محمد داود خان د جمهوریت په دوران کې د کابل پوهنتون زیاترو پوهنځیو او ځینو نورو موسسو د نړۍ عالي تعلیمي موسسو سره توامیتونه درلودله. زموږ استادانو په خارجي پوهنتونونو کې او د نورو هېوادو زموږ په پوهنتون کې استادان درلودل، تګونه راتګونه وو د محصلینو او استادانو لپاره د لنډې او اوږدې مودې بورسونه وو، چې د ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور له د تا وروستو دا ټول تو امیتونه له منځه لاړل. دا توامیتونه باید بیرته احیا شي او د هغه پوهنتونو مرستې جلبې شي، ځکه په اوسنیو شرایطو کې موږ دهاغو خلکو د مرستو پرته هیڅ هم نشو کولای.

۱۰- د کابل پوهنتون مرکزي کتابخانه د پوهنځیو کتابخانی او حتی د دیپارتمنتونو د کتابخانو احیا ته ترهرڅه زیاته اړتیا لیدل کیږي. دغه کتابخانې باید ژرتر ژره احیا شي او نوی اثار پکې ځای پرځاي شي زما په پوهه دا هغه عاجل ضرورتونه وو، چې زموږ پوهنتون او په مجموع کې د عالي تحصیلاتو نور موسسات ورته تر هر څه له مخه اړتیا لري او که ووایو چې یادې شوې برخې د پوهنتون په معنوی بیارغاونه کې راځی نو ډېره اشتباه به مونه وي کړې، له دې معنوی بیارغاونې سره جوخت موږ د پوهنتون دابو، بریښنا، تیلیفون د شبکو بیارغاونې ته اړیو، او نورې هغه اړتیاوې چې یې دوی د لیلیو. دودانیو جمنازیوم، ادیتوریم، کفتېریا او نورو مربوطو موسسو د بیا احیا لپاره لری هغو ته هم باید سملاسي توجه وشی، ځکه د یوې برخې احیا له بلې سره تړلې ده. که یوه نیمګړې پاتې شي بیا هم کارونه سم پرمخ ته ځي کابل پوهنتون او د لوړو عالي تحصیلاتو نور موسسات په اوسینو شرایطو کې له ډېر وستونزو سره مخامخ دي، دولت او نور هغه نړیوال موسسات چې زموږ د هېواد د بیارغاونې سره دلچسپي لري، هغوي باید دې برخې ته ترهر څه د مخه جدي توجه وکړي، ځکه د پوهنتون او عالي تحصیلاتو د وزارت د نورو موسسو بیارغاونه موږ په اولویتو کې شمارو ځکه دغه موسسات دي، چې افغانستان ته کادرونه روزي، دا کارونه که په یو سالم محیط، ښو شرایطو او د مجهزو وسایلو په شتوالی کې وروزل شي، نو هم به یې سویه لوړه وي. او هم به په کارونو پوهیږي او د خپلې پوهې په استفاده او وطني مینه به خپل هیواد او خپلو خلکو په خدمت کې وي.

ددې یادښتونو په پای کې زه ددې خبرې یادونه هم کوم، چې د پوهنتون یا پوهنتونونو د مادي او معنوي بازسازۍ لپاره پوهنتون د چارواکو مینې دلسوزۍ او له خپلو موسساتو سره شوق او علاقې ته هم ضرورت لیدل کیږي. که موږ د خپل وطن کاغذ پرانیواو بیوروکراسي ته وګورو او کارونه عادی جریان ته وغورځو، خپله پسې منډه و نه کړو، دهر کار پوښتنه ونه کړو. نو زموږ د بازسازۍ کارونه به سم او پر خپل وخت تر سره نه شي. دا د علمي موسسو د چارواکو اساسي دنده ده، چې د خپلو موسسو د مادی او معنوی بیارغاونې لپاره شپه او ورځ کار وکړي او په هر کار پسې خپله منډه وکړي.

ليک: سيد محی الدين هاشمی

دادبي ليکنو د جوړښت توکي او ځانګړني

دادب يوه عامه پېژندنه داده چې : هرهغه وينا (ويلي) (شفاهي) وي او که ليکلي(تحريري) ،نظم وي که نثر،خو چې هنري ارزښتا ولري ((ادب)) بلل کيږي هنريت يا ((هنري ارزښت)) چې ادبي او نوري عامي يا غېر ادبي ليکنې سره بيلوي. په ادبي اثر يا هنري ليکنو کې ددليکوال يا دادبي اثر رامنځته کوونکي ذوق،احساس ياتمايلات دواقيت يامطلب دافادې له پاره بنسټيز حېثيت لري .
ليکوال چې څه ليدلي ،اورېدلي او يا احساس کړي يا يې په خيال او ذهن کې تېر شوي وي، بيانوي، خو دڅېړنيزو او علمي ليکنو په څېر دليل راوړلو ته هيڅ اړتيا نه لري .

په هنري---ادبي ليکنو کې دادیب تصور اوتخيلي ځواک ستر نقش لري چې دبېلابېلو منظر کشيو،انساني ځانګړو خصوصياتو ،روحياتو او عاداتو حالاتو او په الفاظو انځورلو او وړاندې کولو له پاره تري کار اخستل کېږي په دې ډول ليکنو کې ليکوال دتخيلي ځوا ك په ملتيا دليکوالۍ دفنې مهارتونو په واسطه دمنظر کشۍ او صحنه جوړونې چار سرته رسوي او حالات يا واقعيتونه په الفاظو کې داسې رانغاړي (انځوروي)چې لوستونکي يا اوريدونکې فکرکوي چې هرڅه په خپلو سترګوويني او ځان کټ مټ په صحنه کې شامل احساسوي .
دانو دليکوال په ليکنې استعداد او مهارت پورې اړه لري چې چې انساني رواني حالات دخلکو غوښتنې او هيلې،جذبات، عواطف او احساسات څنګه ترسيموي مقابل لوری(اورېدونکي يا لوستونکي) ته احساس او جطبه څنګه ورلېږدوي او دهغوی په عواطفو کې خوځښت راولي .
هنري او ادبي ليکنې دفورم او بڼې له مخې بېلابېل ډولونه لري چې ډېر عام يې دادي : لنډه کيسه،ناول،ډرامه، رومان طنز، ټکل، ادبي ټوټه ،ادبي راپورتاژ،ادبي سفرنامه ادبي انځور اوداسې نور... .په دې ډولې ليکنو کې دروحي حالاتو ،احساساتو او جذباتو له شرحې نيولې ترعلمي تاريخي عقيدوي ديني مذهبي، سياسي پورې هرډول مسايل مطرح کولای شو.

دجوړښت توکي او ځانګړتياوې:

لکه څرنګه چې مو ددې ليکنې په پېلامه کې اشاره وکړه چې هنري ارزښت دادب مهمه او بنسټيزه ځانګړنه ده او تخيل ددغه هنري ارزښت اساسي برخه جوړوي ،نو لاړمه بريښي چې دلته تخيل ديوځانګړي څنګزن سرليك لاندې دروپېژنو اوز بياې پر نورو ځانګړنو بحث وکړو:
تخيل :

کانديد اکادمېسن روهي په خپل اثر(شعر پېژندنه) (۴۲ مخ) کې وايي کې دتخيل دکلمې دتوضيح، تشريح،او پېژندنې په لړ کې ليکي: ((داروا پوهانو په عقيده شيان او پديد ېدحواسو له لارې په ارګانېزم باندې اغېزه کويچې په لومړۍ مرحله کې احساس وي او بيا دادراك پړاو ته رسېږي (پېژندل کېږي))) دادراك له لپارسې انسان يو شی پېژني. کله چې يو شی غايب وي ادراك او احساس هم محوه کيږي،خودهغه شي اثريه ذهن کې يو ايماژ(تصوير) پرېږدي . ذهني تصويرونه دچاپېريال دانګېزو په اغېز کله په خپل اصلي صورت څرګندېږي چې هغې ته تداعي يادونه يا(Recollection) ويل کيږي او کله په بدله څېره کې تجلي کوي چې پدې صورت کې تخيل بلل کېږي. .شاعرانه تخيل دځينو په نظر شهود او الهام ته ورته دی او دځينو نورو په عقيده په هغه کې يوه شعوري هڅه شامله ده.))
دفلسفي قاموس (۱۹۶۷ کال چاپ) تخيل داسې راپېژني:
((تخيل هغه استعداد يا قابليت دی چې له واقعيت نه لاس ته راغليو انطباعاتو پر اساس په بشري شعور کې نوې حسي يافکري ايماژونه(انځورونه) تخليق کړي، هغه چې په ټاکلې شېبه کې موجوديت ونه لري.))
تخيل يواځې په هنر او ادب کې نه بلکې په ساينس کې هم اهميت لري ،ځکه دتخيل په واسطه فرضيې،ماډل مفهومونه او دتجربو له پاره مفکورې رامنځته کېږي اما په تخليقي فنونو کې تخيل يو اساسي عنصردی. تخيل په شعر کې دتسبيهاتو ،استعارو،څېرو او اسطورويه بڼه تبارز کوي څېره دموجودو شيانو او پديدو عيني تصوير دی چې دانسان په واك اوقلمرو کې وي،خو اسطوره يو ايډيالي او ارماني تصوير دی چې په موجود وخت کېدانسان له واکه وتلې وي تحيل دترکيب له لارې مختلف

شيان سره پيوندوي ياګډوي.))په هنر او ادب کې همدغه تخيل دی چې عادي پېښې ته ښکلا وربښي بڼه او لوری ورته ټاکي.ټولې ادبي پدېدي کـه څه هم ريښتيني پېښې وي دتخيل په ورانګو دښکلا پوړ او حد ته رسيږي. له تخيل څخه پرته ادبي ليکنې اورې ځانګړنې هم لري ،چې په هغـو کـې ډېرې عـامې ځانګړنې ساده ګي او رواني دخبرې زړه راښکون،دلفظ او معنا سموندي چې دلته هره يوه جلا جلا درپېژنو:

۱ سادګي يارواني

سادګي په ادبي ليکنو کې ډېره مهمه ځانګړنه ده چې بريـاليو ليکوالانو دخپلو اثارو په تخليق کې هميشه هغې ته پاملرنه کړې ده پخوا به له ذهن او محاورې نه لرې کړکېچنې او پېچلې کلمې دښو ليکنو ځانګړتيا ګڼل کېده خو اوس دا ډول ليکمنې ادبي معقوليت او عام تژتولنيز مقبوليت نـه شي ترلاسه کولای او نه يې څوك دغوره ادبي اثارو په ډله کې شمېري.

هرڅومره چې يوه ليکنه ساده ،طبيعي بې تکلفه او عـام فهمـه وي لـوړ ادبـي ارزښت لري.

۲ دخبرې زړه راښکون:

بله ځانګړنه چې دادبي اثارو ليکوالان يې بايد له پامه ونه غورځوي هغه دکلمو او الفاظو زړه راښکون دی . همدغه زړه راښکون دلوستونکي پر ذهن دمفهوم او معنا داغېز له پاره ډېر موثر دی يا پـه بـل عبـارت سـره زړه راښکونکـې خبره دليکـوال فکـر او عواطـف پـه ډېرې چټکـۍ او اسـانۍ سـره لوسـتونکي يـا اوريدونکي ته ليږدوي او دليکوال او لوستونکي دذهني فضا په پېوستون کې ډېرذه مرسته کوي.

۳ دلفظ او معنا برابري:

په ليکنه کې معنا دروح او کلمې دجسم حيثيت لري يا په بله وينا لفظ لکه ظرف او معنا دهغې ظرف محتوی ده نـو هغسې چې دروح او جسم يـا دظـرف او مظروف تر منځ اړيکي او تناسب وي دلفظ او معنا ترمنځ هم دغسې برابری او يوشان والی پکار دی .ادبي ليکنه بايد داسې وي چې لوستونکی پرته له معنا بل څه ته پام ونه کړي ،دبېلګې په ډول :

کله چې هنداري ته ګورو يکې خپل تصوير وينو ، پخپله هنداري ته هيڅ توجه نه کوو. نو لفظ هم بايد داسې وي چې دمقابل لوري پاملرنه پخپله ځانته نـه ،بلکې خپلې معنا ته واړوي .

اوس چې مو دادبي ليکنو دجوړښت اساسي توکي او نورې ځانګړنـې وپېژندلې ،لازمه ده چې دعادي او ادبي ليکنو په توپير هم پوه شو.

دادبي او غير ادبي ليکنو توپيرونه

ادبي ليکنې له نورو هغو سره دسبك او جذابيت له مخې ډېر جـوت تـوپير لـري، دلوستونکي معنوي او روحي تنده په ډېره اغېزمنـه توګه خړوبوي ،ژورې اغېزې ښندي عواطف او جذبات رالړزويادبي ليکنې له غير ادبي هغو سره دموضوع لـه مخې کوم توپير نه لري يواځنی شی چې دغه دواړه ليکنې سره بيلوي هغه تخيل منظرکښنه او ليکنی سبك دی،دبېلګې په تو ګه که ووايو چې(شمال لګېده) دا يوه عـادي خبري جمله ده خو که ووايو (نری نـری شـمال لکـه ديـو مـهربان لاس پـه څېر وو چې پر تنده کېښودل شـي) دا يـوه هنـري ادبـي جملـه ده او ليکـوال برسېره پردې چې يو واقعيت بيانوي له خپل ذهن نه هم پرې يو څه ورزياتوي ليکوال په استعاري توګه دشمال لپاره ((مـهربان لاس)) راوړی او ددواړو تر منځې اړيکې قايمې کړي دي. يا پـه بـل عبـارت سـره ليکـوال مـهربان لاس سره شمال تشبيه کړی دی. کله چې پـه ادبـي ليکنـو کـې ليکـوال دخپل مقصد دبيـانولو لـه پـاره تشبيه يا استعاره کاروي دا کـار دخپـل خيـال پـه مرسـته ترسره کوي همدارنـګه کله چې خپل مقصد په مجازي يا رمزي ډول بيانوي له خپل خيال څخه پراصلي خبره يو څه ورزياتوي.دلتـه دادبي ليکنو دجوړښت پرتوکيـو بـاندې لـه دې پورتـه خبرو نه وروسته يوه عادي ليکنه پـر يـوې ادبـي ليکنـې اړوو چـې تـرپـير يې ښه څرګند شي او دغسې پدې سره دابحث پای ته رسوم.

عادي ليکنه

((ونه)) دطبيعت لـه ارزښمنو پيداوارو څخه ده هرچېرې چې ګڼې ونې وي خلك هلتـه اسـتوګنه غـوره کـوي .دبڼونـو ،باغونو ځنګلونو پـارکونو کورونـو او.... ښېرازي پـه ونـو ده ونـه داسـې موجود دی چې دنوروژوندېواو ساکښوپه څېر تغذيـه کـوي وده مومـي بـالاخره زړيـږي او لـه منځه ځي.))

اوس مـوږ کـوزلای شـو چـې لـه همدغـې پورتنۍ ليکنې څخه دشـخص لـه مخـې دفعلونـو پـه بدلونسـره چـې ددريـم ګړي شخص له پاره دي په لومړي شـخص بـدل کړو ،يعنې مفهوم پخپله دونـې پـه ژبـه بيان کړو ، او دغسې يو عادي ليکنـه پـر ادبي ليکنې اړوو :

((زه دطبيعت يوه ارزښتناکه زېږنده يـم ،هرچېرې چې دې زما دهـم نوعـو ګڼوالـی تـر سـترګو کيـږي تاسـې (انسـانان) بـې اختيـاره هلتـه ورځـۍ او هلتـه اسـتوګن کيږۍ ستاسې کورونه، ځنګلونه،پارکونه بڼونه او ... زه ښېرازوم ، زه يو ساکښ يم چې دنوروساکښنو په څېر تغذيه کېږم وده کوم، بالاخره زړېږم او له منځه ځم پوهېږۍ زما نوم ونه ده.

پوهندوی احمدشاه زغم

دادب په ډګر کې دښځو ونډه

ښځه ستړه او پیاوړې هستي ده .نه یواځې داچې یو ظریف موجود دی بلکې دنړۍ ټولې ښکلې په ښځه پورې تړلې دي ښځه په لومړي پړاو کې مور ده .مور دعظمتونو سمبول او نښه ده .دښېرازۍ او پېرزوينې ملکه ده.دانسان او انسانيت د لوړ مقام هستوونکې او پياوړې قوه ده لکه څنګه چې ښځې له نارينه سره دژوندانه په هر ډګر کې خوا په خوا برخه اخستې ده، دادب ډګر يې هم په خپلو ظريفو نوښتونو سره لاښکلى کړى دى او له نارينه سره يې په هرډګر خپله ملتيا او ملګرتيا ښوولې ان داچې دجګړې په ډګر کې يې دوي پرشاتګ ته نه دي پرېښودي او په خپلو زړورو نارو يې ددښمن پرضد ددوى احساسات راپارولي دي لکه.

که په ميوند کې شهيد نه شوې
خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

او پدې وياړې چې جانان يې پر وطن سر
جارکړ او وايي چې

جانان مې سر په وطن کېښود
په تاردزلفو به کفن ورته ګنډمه

شهادت جانان ته وياړ ګڼي خو پدې اړه بې ننګي نه مني او له دې کبله دداسې پښتنې ښځو سپېڅلي احساس دډېر درنښت وړ دی يعنې ښځو دادب په ډګر کې هم لکه دژوندانه په نورو ډګرونو کې دظرافت زانګو ده نو ښځو په خپلو ظريفو ،نازکو او بختورو لاسو په ډېر متانت سره دغه زانګو زنګولې ده.

فريد ريك رينولد وايي((کېدړايشي پرته له ښځې ژوندي واوسو.خو ژوند کول حتمي او ممکن نه دی)) نو دادب په ډګر کې هم دښځو ونډه همداسې درواخله څومره چې دادب ډګر نارينه و تود کړی وو ښځو په خپل ظريف انداز هغه ته لاښکلا او ځلا وربښلې، که چېرې دښځو لطيف فطرت اوښکلا سربښندنې،زړه خوږي ، مېړانې، غېرت او نورو نورو خانګړتياوو ته ځير شو نو د(کارل کوندوکو) خبره راپه زړه کوي چې : ((ښځه د خلقت د اسرارو لويه زېرمه ده)) (۱) دبشريت او په تېره بيا زموږ په ټولنه کې چې څومره حوادث او پېښې رامنځ ته شوي او دمومنو انسانانو ژوند ژواك يې له ګواښ او تېري سره مخامخ کړی ،ښځو په داسې حساسو شېبو کې له نارينه سره اوږه په اوږه برخه پکې اخستې ده. اوهمدا لامل دی چې اټالويان متل کوي چې:((ښځه اوشيشه هېڅکله له طوفانو نه په امان نه دي))

ديو هېواد پرمختګ اوخپلواکي دښځو د فکري ودې نښه ګڼلای شو.

ښځې ډېرې عاطفي وي او په دوی کې عرفاني تفکر هم ډېر پياوړی وي ځکه نو زياته وي که دژوند اړخونو ته ځير شو نو ښځې پکې په پوره مېړانه په هر ډګر برخه اخستې ده دلته يواځې په پښتو ادب کې دښځو ونډې ته کتنه کوو او پرله پسې به دځرې پښتنې اديبې پېژندنه او کارنامو باندې لږ ډېره رڼا واچوو:

۱ \ زرغونه کاکړه (رح):

زرغونه کاکړه دپښتو په ادب کې وتلې او نامتو شاعره تېره شوې ده دپښتو ادب اخلاقي پياوړتيا ددې دفکر محصول ګڼل کېدايشي .

زرغونه کاکړه دملا دين محمد لور او دکندهار دپنجواى اوسېدونکې وه . دوخت مروجه علوم او ديني زده کړې يې له خپل پلار ملادين محمد نه کړې وې او له دې سره سره يې عرفاني پوهې ته ډېره پاملرنه کړې وه ، واې چې دادب او اوپه تېره دنظم او نثر ډېر کتابونه يې له خپل پلاره لوستي وو دعرفان ، بلاغت او فصاحت په مسايلو هم پوره پوهېده او دسعدالله خان نورزي سره يې واده وکړ ،زرغونه کاکړه ډېره لويه عالمه او فاضله ښځه وه ډېر وخت يې په رياضت او عبادت کې تېراوه او دکتاب،نو په ليکلو يې ډېره پاملرنه کوله او خورا زيار يې وکېښ.

پټه خزانه دهغې په اړه ليکي: دشيخ مصلح الدين سعدي (۶۹۰-۶۹۱) مشهور اثر ((بوستان)) يې په پښتو

راژباړلی او په ښکلش خط یې په خپل قلم لیکلی دی، دپټې خزانې مولف دهغې په نورو اوصافو سر بېره دښکلي خط هم ډېره ستاینه کړېده او وايي: زرغونې کاکړې هرډول خط لیکلای او لوستلای شو او دهغې دحسن خط له مخې خلکو خط زده کاوه، دخطاطی اولوړ علمي او ادبي استعداد سره سره يې په شعري دنيا کې خپل فکري زين کړی اس ځغلولی او خوږه شاعري یې کړې ده ډېراشعار یې درلودل او دخپل وخت په فصحاو کې دپوره نامه څښتنه وه خو له بده مرغه دزماني تاړاکونو یې اشعار راټخه یو مخيز خاورې کړي دي خو یو شعر يې له نیکه مرغه د وخت له تروړونکو منگلو نه خوندي راپاتې شوی چې پټې خزانې خوندي کړی او ترموږ یې رارسولی دی:

اورېدلي مې کیسه ده
چې له شاتو هم خوږه ده
د اختر په ورځ سهار
بایزید (؟) چې وو رويدار

خدای بښلی استاد حبيبي په خپل اثر (دپښتو ادبیاتو تاریخ) کې دزرغونې داخلاقي شاعري، دژوند دحالاتو او همدارنگه دنوموړې دشعر سپړلو او تشریح په ترڅ کې لیکي:

((که موږ په پښتو ادب کې داخلاقي شاعرانو له پاره یوه مخصوصه ډله ومنو، نو زرغونه کاکړه به دخپل بوستان سره دهغوی په سر کې ولاړه وي موږ زرغونه دسعدي د بوستان په ترجمې سره داخلاقي شاعرانو له ډلې څخه بللای شو)) (۱)

زرغونه دخپل وخت لويه عالمه او عارفه وه دادب دډگر اتله پاتې شوېده او دچا خبره دهغه مهال په تیارو کې یې دپوهې ډیوې بلې کړې وې دادب په ډگرکې دښځو برخه يې ثابته کړې هم ده ،دادب په تاریخ کې یې دښځو له پاره جلا پاڼه پرانستې ده ارواد ې ښاده او نوم دې یې یاد وي دا هم د نوموړې له پښتو بوستان څخه دهغې دژباړې یوه نمونه :

حکایت

اورېدلي مې کیسه ده
چې له شاتو نه خوږه ده
د اختر په ورځ سهار
بایزیدچې وه رويدار
له حمامه راوتلی
په کوڅه کې تېرېدلی
ايري خاوري چا له بامه
راچپه کړلې نا پامه
مخ او سریې شو ککړ
په ایرو او خاورو خړ
بایزید په شکر ښو شو
دخپل مخ په پاکېدو شو
چې زه وړ يم دبل اور
چې په اور کې شم نسکور
له ایرو به څه بد ورمه
ياپه لړ شکوه کومه
هو: پوهانو ځان ایرې کړ
له لوېيني یې ځان پرې کړ
ځوك چې ځان ته گوري تل
خدای ته نشي کړای کتل
لوېي تل په گفتار نه ده
لو خبره په کار نه ده×
تواضع به دې سر لوړ کا
تکبر به دې تل خوړ کا


(نور بيا)

اخځونه:

۱ سید محي الدين(هاشمي) . دافغانستان مشاهير ، لومړی ټوك، څلورم چاپ، پېښور ،داریاك دگرځنده کتابتونونو اداره ،۱۳۷۹، ۱۴ مخ

۲ محمد هوتك، پټه خزانه، کندهار چاپ،دويم چاپ،۱۳۳۹، ۱۹۴ مخ

× لو د(لوی) یا (لوي) مخففدی، يو خو دکندهار په لهجه کې دلو ی پرځای کله کله د(لو) (LOU) کلمه راځي او بل داچې دلته د(لو) کلمه دشعري وزن له امله هم مناسب وو چې دشعر وزن پرې پوره کړي



نویسنده: نایله "ایوبی" سوپر ویزر پروگرام صحی

فعالیت کلینیک صحی اومر طی هشت ماه اخیر در ننگرهار



موسسه خیریه او مر از بدوتاسیس تاکنون طی مدت بیشتر از دودهه در ساحات مختلف مصدر خدمات ارزنده وسودمندبرای هموطنان در دیده ومظلوم گردیده است ودر امربازسازی واحیا مجدد کشور سهم بارز ونقش بخصوص داشته بویژه فعالیت های تطهیر اغوش پاکیزه مادر وطن از وجودلوشا ماین (ماین پاکی) پروگرام اگاهی و مصونیت از خطرات ماین پروگرام صحی وسایر فعالیت های بشر دوستانه این موسسه در خود ستایش وشایان تذکر است.

در جریان جنگ های ویران کن دو دهه اخیر دامان پاک واغوش مهربان میهن فضا پاکیزه وهوا خوش گوار ان اگنده با دود بارود شده وسایر محلات محیط زیست شدید امعدوم گشته است لهذا در شرایط کنونی ازیکطرف غربت فقر گرسنگی بیکاری بی درمانی حالت نهایت بد اقتصادی واجتماعی وسطح نازل زندگانی. جهالت. بی سوادی فقدان تعلیمات صحی. پائین بودن حفظ الصحه فردی و محیطی دامنگیر کثرت فامیل ها بوده واز طرف دیگر الودگی محیط زیست. فقدان آب صحی آشامیدنی کمبود خدمات طب معالجوی کاهش خدمات طب وقایوی وفقدان تدابیر واقدامات محافظوی امراض قابل کنترول بخصوص امراض ساری وانتانی درکشور عزیز فراهم اورده که تاسرحدمرگ مردم رامی رنجاندو باعث ارقام بلند وفیات در جامعه افغانی اعم دراطفال. اناث وبزرگ سالان شده است.


به منظور کاهش در تعداد فیات اطفال اناث ومردان سالخورده وبه خاطر بلند بردن سطح اگاهی صحی فامیل ها و مساعدت زودرس طبی برای مردم بی بضاعت.

درکشور موسسه خیریه اومر در پهلوی سایر پروگرام های صحی خویش که در نقاط مختلف کشور افتخار عرضه خدمات صحی را برای هموطنان ستمدیده احراز داشت، پروگرام صحی را نیز در ننگرهار اساس گذاشت پروگرام صحی موسسه خیریه اومر ولایت ننگرهار در دو بخش عمده فعالیت می نماید که به منظور اطلاع هموطنان وارایه معلومات مزید برای خوانندگان گرانقدر مجله وزین امن ذیلا پیش کش میشود.

۱ کلینیک سیار طبی

کلنیک سیار طبی موسسه خیریه اومره دربرج فبروری سال جاری عیسوی در ولایت ننگرهار به فعالیت اغاز نمود که تاکنون مساعدت های صحی خویش رابطور احسن برای نیازمندان عرضه میداردو دراین عرضه مصدر خدمات نهایت مفید به هموطنان شده است شایان یاد اوری است که کلنیک سیار صحی اومر به خاطر ارتقا وبلند بردن در تعداد سطح اگاهی صحی مادران وزنان مسکونه قریه جات مختلف ولسوالی های بهسود. کامه. سرخرود ولایت ننگرهار. قریه غندی ولسوالی قرغه یی حصارشاهای و سمرخیل جلال اباد پروگرام تعلیمات صحی و تغذی را به مساعی خستگی

ناپزیر پرسونل ورزنده مجرب ومسلکی زنانه پیش می برد که نهایت امر سودمند بوده ودر این عرصه به موفقیت های چشم گیرنایل امده است. افزون بران کینک سیارطبی اومر از طریق عرضه خدمات ارزنده صحی خویش درسطح دهات وقریه جات ولسوالی هی تذکر رفته درکاهش ارقام اساس پلان فعالیت ماهوا در دهات مختلف ولسوالی های تذکر رفته فعالیت می نماید قسمیکه نماینده اداره موسسه یک روز قبل از ورود کلنیک به قریه مورد قریه دار قریه مربوطه را در جریان گذاشته تا مسکونین قریه مطلع وامادگی قبلی داشته کلینیک سیار بعد از مواصلت تعلیمات صحی در مورد مزایا شیرمادر. نقایص شیر پودری اهمیت اب صحی اشامیدنی حفظ الصحه فردی و محیطی کم خونی. حاملگی تغذی اطفال شیرخوار حاملگی. تغذی اطفال شیرخوار، تغذی مادران شیردهی و حامله، نقش و ارزش واکسیناسیون. تداوی اطفال مصاب




گراف اول: خدمات شعبات مختلف پروگرام صحی موسسه اومر را در ننگرهار نشان میدهد.

وفیات اطفال اناث وسالخورده گان نقش درخود ستایش را ایفا مینماید، کنیک سیار طبی دارای زنانه اطفال کنیک دندان زنانه شعبه تغذی شعبه نرسنگ. شعبه راجستریشن مریضان درملتون سیار ویک عراده امبولاس مجهزو یک عراده فلاینگ کوچ میباشد. امورات کنیک صحی سیار توسط یک داکتر مجرب زنانه، یک داکتر ورزیده مردانه یک داکتر تجربه کار دندان. یک معلم مسلکی تعلیمات صحی و تغذی زنانه دو نرس یاک زنانه ویک مردان یک دواساز و دو نفر درایور به قریه مورد نظر در محل قبلا تعین شده توسط قریه دار در یک منزل در دو بخش از هم مجزا برای اناث وذکور جابجا میگردد که ورود سایر باشندگان قریه به ان سهیل باشد.

بعد از جابجا شدن کنیک معاینه مریضان اغاز میگرد بقسیمکه نخست تمام مریضان در شعبه راجستریش را جستریشن مریضان زنانه مجزا از راجستریشن مردانه درج کتاب ثبت مریضان میگردند وبعدا جهت فراگرفتن تعلیمات صحی و تعلیمات تغذی به شعبه تعلیمات صحی معرفی اسهال طرز تهیه واستعمال ORS و محلول نمک وبوره و موضوعات دیگر معلومات ارایه میگردد. افزون بران معلم تعلیمات صحی پیغام های وقایوی بعضی امراض مانند ملاریا، محرقه توبرکلوز اسهالات وغیره رابرای مادران میرساند.

درشعبه تعلیمات تغذی برعلاوه از اینکه مسول شعبه تعلیمات تغذی در مورد تغذی اطفال طی سن های مختلف قبل ازسن مکتب. شروع اذا های مایع نیمه مایع، نیمه جامد وجامد برای اطفال وتغذی مادران



گراف دوم: و وقوعات امراض را در گروپ اطفال (شامل دختران و پسران)، اناث و ذکور میدهد

پیش میرود شایان تذکر است که کلنیک سیار صحی این موسسه به گردیده که طی تدویر هرکورس چهل دقیقه یی برای چهل مادر توسط معلم حامله وشیر دهی هنگام تدویر کورس عملی تهیه مواد غذایی صحبت می




نماید در اخیر کورس غذا های پخته   است که اطفال سوتغذی درشعبه تغذی

۲- کلنیک مرکزی جلال اباد:

به منظور کمک بیشتربه هموطنان نیازمند موسسه خیریه اومرد، ماه اپریل سال جاری پروگرام صحی خویشرا وسعت بخشیده در منطقه چشمه خانجی مربوطه ناحیه اول شهر جلال اباد کلنیک صحی را تاسیس نمود

کلنیک صحی جلال اباد همه روزه به استثنی روزهای رخصتی علاوتا راپورها بیانگر این حقیقت است که تاکنون (۲۵۳۲۵) تن مریضان مشتمل



گراف سوم وقوعات امراض را در گروپ های مختلف عمر اطفال نشان میدهد

شده از قبل شور با برنج فرینی شور باترکاری وغیره را برای اطفال توزیع می نماید علاوتا در اختتام هرکورس تعلیمات تغذی به منظورتغذی اطفال برای شاملین کورس Super-Flourتوزیع میگردد.

قابل توجه است که هرکورس تعلیمات تغذی مشتمل بر ۳۰ مادر شیر دهی چهل دقیقه را بوده وهر کورس مدت چهل دقیقه رادر برمیگیرد.

شایان ذکراست که مریضان معاینه شده در OPD زنانه وکلنیک دندان زنانه ادویه خویش رابطور مجانی از درملتون اخذیس رابطور مجانی از درملتون اخذمی نمایند قابل یاد اوری

کینک سیار توسط دکتور موظف پروگرام راجستر و طبق پلان شعبه مواد غذایي برای شان بطور مجانی توزیع میگردد

بر اطفال، اناث و ذکور از مساعدت های صحی OPD عمومی پروگرام صحی عمومی از ساعت هشت صبح الی دوازده ظهر به روی مریضان باز





بوده و خدمات صحی خویش را برای اطفال و اناث مسکونه ناحیه اول شهر و مناطق دور و پیش آن بطور مجانی عرضه میدارد. قابل توجه است که کلنیک مرکزی جلال آباد مشتمل بر دیپارتمنت تغذی OPD اطفال، OPD اناث، کلنیک دندان، دیپارتمنت تعلیمات صحی و تغذی، کارنر ORT و جراحی صغیره، دیپارتمنت واکسیناسیون، لابراتوار مجهز با تجهیزات و سامان الات عصری، درملتون و شعبه اداری می باشد که امور آن توسط ستاف ورزیده مسلکی انتظام یافته است.


شایان ذکر است که در OPD اناث زنان حامله وسایر مریضان زنانه معاینه د تداوی میشوند و زمانی حامله که ایجاب توجه دقیق و معاینه تعقیبیه را می نماید، در کتاب ثبت مریضان راجستر و منظم به خاطر ارزیابی قراخوانده میشوند.

موسسه اومر مستفید گردیده و ادویه مجانی به اختیار شان گذاشته شده است که (۷۸۸۲) واقعه انرا ذکور و (۱۷۴۴۳) واقعه انرا اناث تشکیل میدهد. افزون بر ان قابل خاطر نشان میگردد که امور کلنیک سیار و کلنیک مرکزی جلال آباد و چگونگی جریان فعالیت آن توسط مسوول پروگرام صحی موسسه اومر، سوپر وایزر پروگرام صحی اومر در ننگرهار و نماینده موسسه تمویل کننده (JVC) ارزیابی کنترول و بررسی میگردد.


علاوتا یک اکسپرت مسلکی زنانه جاپانی در ترکیب تیم صحی این کلنیک مصروف عرضه خدمات صحی برای نیازمندان می باشد. راپور های واصله نشان میدهد که از شروع فعالیت پروگرام صحی موسسه اومر در ننگرهار تا اخیر سپتمبر سال جاری (۸۶۰۵۵) تن اعم از اطفال اناث و ذکور از خدمات صحی این موسسه در دهات مختلف ولسوالی های بهسود، کامه د سرخرود ولایت ننگرهار، ولسوالی قرغه ولایت لغمان و کمپ های مهاجرین و بیجاه شده گان داخلی حصار شاهی و سمرخیل ننگرهار و مسکونین ناحیه اول شهر جلال آباد بهرو شده اند که در گراف اول نشان داده شده است.

تذکر است که (۱۰۸۱۵) واقعه انرا کاهلان و (۱۴۵۱۰) واقعه انرا اطفال تشکیل داده که در گراف دوم نشان داده شده است.

همچنان راپور فعالیت OPD اطفال کلنیک سیار و کلنیک مرکزی نشان میدهد که (۶۷۷۱) واقعه مریضان گروپ اطفال را پسران و (۷۷۳۹) واقعه انرا دختران تشکیل داده است. علاوتا راپورهای OPD قابل توجه است که از شروع فعالیت کلنیک سیار و کلنیک مرکزی جلال آباد تاکنون (۱۷۴۷۰) مادر از تعلیمات صحی و (۱۳۶۲۰) مادر از تعلیمات تغذی شعبه تعلیمات صحی به زور شده در حالیکه (۱۳۰۹۰) طفل از غذاهای پخته شده شعبه تغذی استفاده نموده و تغذیه شده اند و برای (۷۶۱۰) طفل سوپر فلور (مخلوط اردگندم نخود و



گراف ششم و قوعات سوتغذی را از نظر قوعیت بیان میکند.



گراف پنجم وقوعات سوتغذی را در گروپ های مختلف عمر کمتر از ۵ ساله نشان میدهد


برنج) بطور مجانی و رایگان از طریق بهبود کامه سرخرود و کسب های



شعبه تعلیمات تغذی توزیع شده است.
شایان ذکر است که (۱۵۸۲) طفل دارای عمر کمتر از ۵ سال در شعبه واکسیناسیون کلنیک مرکزی در برابر سرخکان، سیاه سرفه، توبرکلوز، تیتانوس، دفتری و پولیو واکسین شده (۳۳۶) مادر حامله در برابر تیتانوس واکسین گردیده است.
اطفال پروگرام صحی موسسه اومر بصراحت بیانگر این است که بلندترین ارقام و قوعات امراض در گروپ اطفال، در اطفال دارای عمر کمتر از ۵ سال بوقوع می پیوندد که گراف سوم گویا این حقیقت است همچنان راپور های اخیر نشان میدهد که برای (۱۸۶۱) تن مریضان تست های لابراتواری مشتمل بر تست روتین ادرار، مواد غایطه و خون، معاینه ملاریا تست های سیرالوژی و بیوشیمی خون بطور مجانی اجرا گردیده است. علاوتا شایان تذکر است که (۱۲۶۳) تن مریضان از خدمات شعبه جراحی صغیره و پانسمان بهره مند گردیده است.
از راپور های ساحه و کلنیک مرکزی جلال آباد به وضاحت استنباط میگردد که امراض طرق تنفسی، سو تغذی، کم خونی و اسهالات از مشکلات عمده صحی مسکونین ولسوالی های حصار شاهی و سرخیل و اهالی قرغه ولایت لغمان بحساب میرود در حالیکه امراض جلدی امراض عقلی و خاطر نشان میگردد که اطفال شامل این گروپ، اطفال معروض بوده که تعداد وفیات در انها بلند می باشد.
عصبی، تب ملاریا و محرقه از مشکلات معمول صحی مردم محسوب میگردد.
راپور ها و مشاهدات جریان معاینات روزمره مریضان در کلنیک سیار و کلنیک مرکزی عملا به اثبات می رساند که سو تغذی از مشکلات عمده صحی اطفال دارای عمر کمتر از پنج ساله میباشد. قابل یادآوری است که از شروع فعالیت صحی این اداره در تاکنون (۱۵۲۸) طفل مصاب سو تغذی از خدمات شعبه تغذی (توزیع مواد غذایی چون روغن، شیر، دال نخود، لوبیا، برنج، کیله و تخم مرغ) بهرمند گردیده است. افزون بران راپور فعالیت شعبه تغذی نشان میدهد که وقاعات سو تغذی در گروپ دختران به تناسب گروپ پسران این بود. گذارش مختصر فعالیت کلنیک های سیار و مرکزی موسسه اومر در ننگرهار که خدمت بلند است که در گراف چهارم تذکر رفته است.

***

علاوتا یاد آور میگردم که فیصدی مریضان مصاب سو تغذی در گروپ اطفال دارای عمر (۱۲-۳۶ ماهه) به تناسب سایر گروپ های عمر اطفال کمتر از عمر ۵ ساله بلند است که در گراف پنجم نشان داده خوانندگان محترم جریده وزین امن تقدیم شد. امیدوارم در آینده نیز این کلینیک ها در امر خدمت شده است. همچنان راپور ها به وضاحت بیان میدارد که نوع مرسموس (فقدان کالوری) سر فهرست وقوعات سوتغذی را تشکیل میدهد که به تناسب انواع دیگر وقوعات بیشتر دارد که در گراف ششم نشان داده شده است. به مردم وظایف درخود تقدیر و ستایش را به انجامد



گراف چهارم، وقوعات سوتغذی را از نظر جنس نشان میدهد

کل وسواس له احتیاط پیدا کیږي
زړه له ډېرې هوښیارۍ نه لیونی شوم

اغیزمنې غونډې

Effective Meeting

پوهندوی ډاکتر غلام دستگیر حضرتی

په یوه سازمان یا اداره کې داړوندو چارواو او کار کوونکو یوه ډله د ګډو موخو لاس ته راوړلو، د چارو د څېړلو او ارزولو، د ستونزو د لیرې کولو یا هغې ته د حل لارې او چارې د موندلو او دیته ورته نورو مسایلو له پاره اغیزمنې غونډې او ناستې دایرېږي که چېرې په یوه اداره کې غونډه د یوه ځانګړې موخې یا مقصد لپاره تر سره شي او په ګډو پریکړو او پایلو باندې یې چې د غونډې له بهیر څخه لاس ته راغلې وي عمل وشي، نو اغیزمنتوب به یې د یوې ادارې او سازمان د راتلونکو فعالیتونو د پراختیا او پرمختګ لپاره ګټور ثابت شي.

له اړنګه پرته چې غونډې د یوې ادارې یا سازمان د فعالیتونو له رسمي تعامل څخه عبارت دي. چې په ځانګړو موضوع ګانو باندې د اړوندو چارواکو او کارکوونکو لخوا بحثونه او مذاکرې سر ته رسیږي او یوې ستونزې ته د حل لارې چارې، مفاهمې او ګډې پریکړې لاره پیدا کیږي. مذاکره یا مفاهمه د ځانګړو ډلو ترمنځ د رسمي خبرو اواترو فرصتونه دي، چې دغونډې ګډونکوونکې هڅه کوي چې په یوې موضوع باندې موافقې ته سره ورسیږي.

په یوه غونډه کې مهمې او بنسټیزې مسئلې او ټکې دادي:

- غونډې باید د یوه ځانګړې موخې لپاره تر سره شي.
- هر غونډه باید یوه ټاکلې اجندا ولري، چې مخکې له مخکې ترتیب شوې او په ګډونکوونکو باندې ویشل شوې وي.
- په غونډه کې باید د ادارې داسې کار کوونکې سره را ټول شي، چې د فعالیتونو په اړه یو له بل سره اړیکې او مفاهمه ولري.
- د غونډې د کنترول او څارنې لپاره یو شخص باید د مشر او بل د منشي یا سکرتر په توګه ټاکل شوی وي، چې مشر غونډه وڅاري او منشي د غونډې د بهیر فیصلې او پریکړې ولیکې د پام وړده چې په یوه اداره کې غونډې د ټاکلو سکالو ګانو په اړه جوړیږي او ځانګړې موخه لري. د غونډې بنسټیزې موخې او مقصدونه دادي:
- برخه والو ته د یوه سکالو په اړه معلومات ورکول کیږي
- د برخه والو له نظریو او سپارښتنو څخه د موضوع په اړه نوې معلومات رابرسیره کیږي
- د ادارې کارکوونکې خپلو کارونو ته چمتو کیږي او د هغې پراختیا لپاره هڅیږي.
- د یوې ستونزې لپاره د حل لارې او چارې پیدا کیږي.
- د فعالیتونو د اجراکولو په اړه د کارکونکو علاقه مندي معلومیږي.
- په غونډه کې هر څوک د هغې د کار په اړه خپل ارزښت او موقف ښکاره کیږي.
- د غونډې له لارې د چارواکو او کار کوونکو ترمنځ ګډه مفاهمه پیدا کیږي او هر څوک خپل د مسولیت صلاحیت او بریدونه معلومیږي.
- د ادارې یا سازمان د یوې ځانګړې موضوع او ستونزې لپاره ګډه تصمیم قبول کیږي

خرنګه چې مخکې وویل شول، هره غونډه یوه اجندا، یو مشر او یو منشي لري.

په اجندا کې چې مخکې له مخکې ترتیب شوی وي، ډول ډول موضوع ګانی د پریکړې لپاره وړاندې کیږي او په وارسره خبرې او بحثونه پرې کیږي. په دې برخه کې د پام وړده چې اجندا باید مخکې له مخکې ترتیب او د غونډې برخه والوته وړاندې شي تر څو په اجندا پوه شي او که کومه مهمه موضوع له اجندا پاتې وي له سره پرې غور وشي او په اجندا کې شامل شي. د غونډې مشر چې د غونډې مشري په غاړه لري موضوع ګانې د اجندا له مخې برخه والو ته وړاندې کوي، د غونډې بهیر څیړي او له بې ځایه او بې ضرورته خبرو څخه غونډه ژغوري تر څو په نورو خبرو وخت ضایع نشي. د غونډې مشر وخت کنترولوي او د خبرو او اترو په بهیر کې د برخه والو نظریو او مناقشو ترمنځ منځګړیتوب کوي او د غونډې بهیر څاري او ارزوي. د غونډې منشي دنده لري، چې د غونډې بهیر پرله پسې ډول ولیکي، د هر چا نظر ته پام وکړي او په پای کې د غونډې د برخه والو د نظریو، بحثونو او نتیجو نچوړ راوباسې او په پای کې ددوی د تائید لپاره وړاندې کړي.

له اړخه پرته چې د غونډې په بهیر کې د غونډې د مشر دندی او مسولیتونه ډېره درانه او حساس دي. په یوه اغیزمنه غونډه کې د مشر دندې او مسولیتونه دادي:

- برخه والو ته د اجندا له مخې د غونډې هدف او مقصد ښکاره او واضح بیان کړي.
- په ګټوره توګه غونډه دایره کړي.
- برخه والو پوښتنو ته ځواب وواېي او ددوی نظریو ته غور ونیسي.
- که چیری کوم برخه وال د موضوع په اړه وضاحت وغواړي، په فصیحه او روانه ژبه دې موضوع ورته توضیح او تشریح کړي.
- برخه وال پرې نږدی چې غونډه د بحث له موضوع ووځي.
- دی پخپله د غونډې په موضوع ګانو باندې و غږیږي. فعاله برخه په کې واخلی او خپلې نظریې او غوښتنې په نورو ګډونکوونکو په زوره تحمیل نکړي.
- خپل ځان د غونډې د نورو غړو په څیرو ګڼي او د ټولو برخه والو د نظریو درناوې وکړي.
- هر چاته په وار سره د خبرې کولو او نظریو وړاندی کولو موقع ورکړي او وخت په پام کې ونیسی.
- پدې خبره ډاډ لاس ته راوړي، چې هر څوك په غونډه کې فعاله برخه اخلی او د اړونده مسولیتونو سره دلچسپي لري.
- پدې خبره ډاډ حاصل کړي، چې د غونډې موخه او مقصد ترسره کیږي او د غونډې برخه وال پدې پوهیږي، چې له دوې څخه د څه شي توقع کیږي.
- د یوه موضوع په اړه د اکثریت رایو انډول و ازمایې او تایید یې کړي.
- د غونډې په پای کې غونډه ارزیابی کړي او دراتلونکی غونډې لپاره وخت او اجندا وټاکې.
- په راتلونکی کې د غونډې نتیجی او پریکړې د تطبیق ساحې و څاري او له عملی کولو څخه یې ډاډ لاس ته راوړي.

د یادولو وړده چې د یوې غونډې د نا اغیزمنتوب عوامل ډېر دي خو د یوې غونډې پاتې والی او ناکامی کله کله په لاندې عواملو پورې اړه لري.

- د غونډې اجندا دوخت په نظر کې نیولو سره نه وی جوړه شوی.
- هغه غوښتل شوی نتیجه چې غونډه د هغې پر اساس جوړه شوی وی. په لاس رانشی،
- د غونډې پریکړې او سپارښتنې په عمل کې پلې نشي او نتیجه یې یوازې د کاغذ پرمخ پاتې شي.
- د غونډې د برخه والود برخې اخیستنې ونډه په کې لږ یا ښکته وی.
- د غونډې برخه وال په نتیجه او هدف ونه پوهیږي او نتیجی ته متعهد ونه اوسیږي.

پاتی په (۱۹) مخ

ښاغلي حامد کرزي په بهر کې ترلاسه شوې تحفې ملي خزانې ته وسپارلې

دافغانستان داسلامي انتقالي دولت مشر ښاغلي حامد کرزي په بهر کې ترلاسه کړې ټولې قیمتي تحفې ملي خزانې او بانك ته تسلیم کړې په دغه تحفو کې زیاته برخه څو ورځې له مخه عربي هېوادونو ته دسفر پر مهال ښاغلي کرزي ته دځانګړیو ډالیو په توګه ورکړل شوې وې دعربي هېوادونو (سعودي عربستان، متحده عربي امارات او قطر هېوادونو) دسفر پرمهال ښاغلي کرزي ته (دالماسو او سرو زرو قیمتي ساعتونه ،په سعودي عربستان کې دحسن په نامه دقیمتي مانۍ یو زرین موډل، دسرو زرو یوه قیمتي چاړه ،او دطلايي ظروفو سېټ چې پکې عطرشیندونکي صراحي،یوه طلايې ګلدانۍ، طلايي پتنوس او یوه لویه صراحي شامل وو.

په فرهنګي او ملي چارو کې ددولت دریس سلاکار وزیر سرمحقق زلمی هېوادمل پدغه سفر کې له ښاغلي کرزي سره ملګری وو هغه په یوې غونډې کې دغه تحفې ژورنالستانو ته وښودې ، ښاغلي هېوادمل ژورنالستانو ته وویل ((دغه تحایف ددولت ریس خپل کور ته نه دي وړي ټول یې دافغانستان بانك او بیت المال ته تسلیم کړي دي چې ځینې یې بیت المال ته تللي او دغه ځینې نور چې تاسې ولیدل هم بیت المال ته تلونکي دي))

تردې وړاندې ښاغلي کرزي ځینې نور تحایف هم بیت المال ته سپارلي وې چې په هغو کې یو امیګا ساعت،یو دبرونز صلح مډال چې ۲۴ قیراطه طلا لري او په ایر لینډ کې ښاغلي کرزي ته ورکړل شوی وو، یوه غاړکۍ،یو جوړغوږ والۍ،یو لاس بندچې دالماسو او یاقوتو دانې یې لرلې اوډېر قیمتي وو دیو ترکي تجار له خوا ښاغلي کرزي ته دتحفې په توګه ورکړل شوې وو بانك ته تسلیم شوي دي.

دښاغلي کرزي دملي او فرهنګي چارو سلاکار وزیر ښاغلي هېوادمل زیاته کړه چې له عربي هېوادو پرته نورو هېواتدو هم ښاغلي کرزي ته یوڅه تحفې ورکړې وې چې هغه هم بانك ته تسلیم شویدي چې په هغې کې دروسیې هېواد یوه قیمتي توره چې ښکلی طلايي پوښ یې درلود ، دچین هېوادیو دسرو زرو طلايي ښامار او دجاپان هېواد یو دسرو زرو مجسمه هم شامله وه له دغو هې وادو پرته دسعودي هېواد ،دولت له خوا دکعبې شریفې ددروازې یو دسروزرو موډل هم ورکړی وو چې بانك ته وسپارل شو.

دافغانستان بانك مرستیال محمد عیسی (تراب) وایي ((ددغو شیانو ځینې برخه موږ ته راکول شوې او نور به هم راکول شي.)) دغه راز دافغانستان بانك دخزانې عمومي مدیر الحاج عبدالظاهر وایي چې ((دا لومړی ځل دی چې دافغانستان یو مشر خپلې ځانې او کورنۍ تحفې ملي خزانې ته سپاري ترڅو دټول ملت سرمایه وګڼل شي ښاې دغه شیان په ملیونونو ارزښت ولري.

اغیزمني ...

چې غونډه اوږده شي او په بې ځایه او بې ضرورته خبرو وخت تېر شي. چې په غونډه کې د موضوع په اړه غیر ضروری کسان برخه واخلی او اړونده ضروری کسان په غونډه کې لري پاتې شي. چې په راتلونکی کې په غونډه باندې بیا له سره کتنه نه کیږي یا دا چې د غونډې ته عملی جنبه ته ورکول او هر څوك داسې فکر وکړي، چې د غونډی دایرول هسې د وخت ضایع کول دی. په پای کې دیادولو وړ ده، چې د اغیزمنې غونډې جوړول د اداري او عملیاتي فعالیتونو د اصلاح او پیاوړتیا اود یوه سازمان د کارکوونکو چمتووالی او کار ته د هڅولو لپاره یو مثبت او اساسي ګام دئ، خو پدې شرط چې د هغی ټول پورتنې برخې په نظر کې ونیول شي او د غونډی پریکړی او سپار ښتني په عملی ډګر کې پلي شي.

له اړنګه پرته چې د غونډې ته مخکې اویا له هغی وروسته ځنې تګلارې موجودي دي، چې ښایی په جدی توګه د غونډی د اغیزمنتوب لپاره په پام کې ونیول شي.

ځکه نو، د هری غونډي له پیل نه مخکې باید:

د غونډې مقصد او غوښتل شوی نتیجه واضحه او روښانه شي. د اداری یا سازمان اړونده ګډونکوونکی وپیژندل شي او غونډی ته وبلل شي. د غونډې اجندا او مهال ویش جوړ او په برخه والو وویشل شي. د اجندا د موضوع ګانو له مخې ښکاره شي، چې کومې برخې د معلوماتو ګډولو یا مفاهمی او کومې برخې د تصمیم نیولو لپاره دي. د غونډې برخه وال د اجندا موضوع ګانې مواد مخکې له مخکې ولولی.

همدرانګه، د هری غونډی په پای کې باید:

د غونډې ټولې پریکړې او سپارښتنې یا د غونډې د بهیر نتیجه او خلاصه لږ ترلږه په دوو ورځو کې د سازمان یا اداری ټولو کارکوونکو ته تفهیم شي. مهمی او منل شوی پریکړی او فعالیتونه ثبت او ولیکل شي. په راتلونکی کې د غونډی اغیزمنتوب بیاترکتنی او څیړنی لاندې ونیول شي او ډاډ حاصل شي، چې پریکړی عملی شوی وی. د منل شویو او تصویب شویو موضوع ګانو او د فعالیتونو د پرمختګ او تطبیق په اړه په پرله پسې توګه جاج واخیستل شي.

نوشته: داکتر محمد قاسم (مراد)

د ایډز (AIDS) د ناروغۍ په باره کې

مقدمه:

ایډز یوه نوې پیژندل شوې ناروغی ده چې د لومړي ځل لپاره په (۱۹۸۳ع) کال کې د Dr. Robert او C.Gallo په واسطه د امریکا په متحده ایالاتو کې کشف شوه چې اوس په میلیونونو انسانان په ټوله نړۍ کې په دې وژونکې ناروغۍ اخته دي.

د AIDS کلمه د لاندې کلمو لنډیز دی:

AIDS= Aquired Immune Deficiency Syndrom

Aquired کسبي (چې له محیط څخه په کسبي ډول اخستل کېږي او ولادي نه دي) Immune (معافیت): دایډز ویروس د انسان د بدن په معافیتي سیستم حمله کوي او هغه د منځه وړي.

Deficiency یا کموالی: د بدن معافیتي سیستم د هر ډول انتان په مقابل کې خپل مقاومت دلاسه ورکویز

Syndrom : ناروغۍ د مختلفو اعراضو او علامو سره.

د ایډز د ناروغۍ ویروس د HIV (human Immune . deficiency. Virus) . په نامه یادېږي دا ویروس هر هغه چاته چې ورسره مخامخ شي په خاصو شرایطو کې انتقال کویز د جغرافیایي انتشار له نظره سرحد نه لري له همدې کبله په پرمخ تللو او هم په وروسته پاتې ملکونو کې لیدل کېږي.

په افغانستان کې تر (۱۹۹۲) کال پورې په هغه معایناتو کې چې د وینې په بانکونو کې تر سره شویدي دایډز هیڅ واقعه نه ده لیدل شوې ولی دهغی څخه راوروسته یې د جنګونو او نا آرامۍ له کبله هیڅ دقیقه احصائیه په لاس کې نشته.

سرایت (خپریدنه):

نوموړې ناروغۍ په ډېر سرعت سره خپره شویده د (۱۹۹۰) کال په منځنۍ برخه کې په دې مرض داخته کسانو شمېر (۱) میلیونه اټکل شوی و او داسې ویل شوي و چې تر (۲۰۰۰) میلادي کال پورې به په دې ناروغۍ د اخته کسانو شمېر ۴۰-۳۰ میلیونو ته ورسېږي اوس چې مونږ په ۲۰۰۲ کال کې اوسېږو په دې ناروغۍ داخته کسانو شمېر په کراتو کراتو د اټکل شوې اندازې څخه ډېر دی.

ددې ناروغۍ د ویروس خپریدنه د امریکا څخه شروع او په شمالي افریقا او منځني ختیځ کې ډېره وه چې اوس یې د نړۍ نورو برخو ته هم په چټکۍ سره سرایت کړیدی.

ایډز او ځوان نسل:

ایډز په ځوان نسل کې په چټکۍ سره خپور شویدی تقریباً ۲/۳ برخه هغه خلك په ایډز اخته دي چې عمر یې د ۲۵ کالو څخه تجاوز نه کوي ولې باید په یاد ولرو چې د ایډز غټ خطر هغه وخت دی چې کله یو ځوان دا احساس کړي چې هغه هم زړېږي او باید داسې کارونه وکړي چې په زوړوالي کې یې بیا توان نه لري ډېر ناروغان په همدې فکر کې دي چې دوی هم یو وخت مور او پلار ګرزي او همدا علت دی چې ناروغ همیشه د خپلې راتلونکې په باره کې اندیښنه لري یا داچې څرنګه د زماني سره جوړښت وکړي او څرنګه دراتلونکي دپاره خپله اقتصادي وضع تامین کړي تل په همداسې مسایلو باندې فکر کوي او داټکي ورته دومره اهمیت پیداکوي چې په دې باره کې هیڅ فکر نه کوي چې په داسې یو کوچني ویروس به اخته کېږي او ټول ارمانونه به یې د منځه ځي په ځوانانو کې د داسې ماسیلو د مخنیوي دپاره دا ضروري ده چې د هغوی د ژوند په ټولو اړخونو پوه شو چې دداسې حقایقو د پوهیدلو دپاره باید داخته شوو ځوانانو تیر ژوند مطالعه کړو.

د میلیونونو ځوانانو مرګ د نورو دپاره پند دی د ځوانانو مرګ نه یوازې داچې هغوی پخپله د منځه ځي بلکه د مملکت، ملت، ټولنې او دکورنۍ دپاره یې یوه اقتصادي ضایعه ده چې خپل ماشومان او سپین ږیري بې له کومې اسرې څخه په بې پروانړۍ کې پرېږدي په جنوبي افریقا کې تقریباً په میلیونونو ماشومانو د همدې لعنتي ناروغۍ له کبله خپل والدین دلاسه ورکړیدي او په یتیم خانو کې اوسېږي.

د ناروغۍ د سرایت طریقې:

۱- جنسي اړیکې: (Homosexual and Heterosexual)

دا ویروس د منتن شوي شخص څخه سالم شخص ته د هغه میکروسکوپیك زخمونو له کبله چې په تناسلي آله کې پیداکېږي انتقال کوي سالم شخص نپوهېږي چې مقابل طرف یې په AIDS اخته دی له دې کبله فحشا ددې ویروس د انتقال او سرایت یوه لویه منبع ده.

۲- زرقیات (Injections): د وینې د انتقال له لارې او همدارنګه د چټلو پیچکاریو (Syringes) او ستنو له لارې هم سرایت کوي (په ځانګړي ډول د نشه ای موادو په معتادینو کې).

۳- ولادي : یوه امیدواره مور چې په ویروس اخته وي کولای شي چې خپل ماشوم ته ویروس انتقال کړي.

۴- د مخاطي غشا له لارې هم انتقال کوي.

ایډز دلاندیني ورځیني اړیکو له لارې سرایت نه کوي.

۱- لاس ورکول او یا په غېږ کې نیول.
۲- په موټر او یا ټولګي کې د ناروغ ترڅنګ کیناستل.
۳- د لمبلو په ډنډونو کې.
۴- په دفتر، کور او یا ښاري ترانسپورت کې معمولي اړیکي.
۵- په هوټل کې خواړه خوړل او د کرایي لوښو څخه ګټه اخیستل.
۶- د تیلفون څخه استفاده کول.
۷- د شاور او کمود څخه ګټه اخیستل.
۸- ټوخی او پرنجی
۹- په روغتون کې د ناروغ پوښتنه.
۱۰- د حشراتو چیچل.

جدول: په ایډز د اخته کسانو فیصدي:

شماره	کتګوري	مجموعي فیصدي
۱	د غیر هم جنس سره جنسي اړیکي	۳۰.۴۵
۲	د هم جنس سره جنسي اړیکي	۱۴.۹۷
۳	د ویني انتقال (هغه کسان چې وینه ورکوي)	۱۹.۳۳
۴	هغه ناروغان چې وینه یې تصفیه کیږي	۰.۳۸
۵	امیدواره میاندی	۰.۴۲
۶	هغه کسان چې وینه یا دویني حجرې اخلي	۱.۹۸
۷	د ایډز د ناروغانو خپلوان	۰.۹۰
۸	د ایډز شکمن واقعات	۳.۶۸
۹	ددرملو معتادین (وریدي)	۱۸.۵۳
۱۰	مختلف	۹.۳۶

ایډز، جنسي مقاربت او ازدواج:

جنسي مقاربت د انسان د بدن یو وظیفوي جز دی چې له خپل ځان سره مختلفي غوښتني، ضرورتونه او قوانین لري چې باید په صحیح ډول د ټولني او مذهبي اصولو مراعت پکې وشي هغه جنسي مقاربت چې د ټولني او مذهبي قوانینو خلاف وي نه یوازې داچې د بې دیني نښه ده بلکه ځني خطرونه هم په څنګ کې لري که غواړي چې د ایډز د خطر څخه کاملاً په امان کې اوسي باید دوه لاندیني عمده اصله په نظر کې ونیسي.

۱- د ازدواج څخه مخکې د هر ډول جنسي مقاربت څخه ډډه وکړي.
۲- غیر له خپلو ښځو څخه د نورو سره ددې عمل څخه ډډه وکړي.

له دې کبله باید د ځوانانو د خلاصون په خاطر هرڅومره ژر چې کیږي هغوی ازدواج وکړي ولې په دې شرط چې د خپلې ښځې سره رښتیني اوسي.

دا امکان هم وجود لري چې د طرفینو (زوج یا زوجه) څخه یو یې HIV له بلې منبع څخه اخیستی وي او یا شکمن وي او یا د HIV تست پکې مثبت وي په دې صورت کې د Condom استعمال حتمي دی. Condom باید د استعمال څخه وروسته د منځه یوړل شي.

د ایډز سریري اعراض او نښې:

HIV د ملوثې وینې، ملوثې منوي مایع او نادراً د ملوث ادرار، غایطه موادو او لیاړو پواسطه سالم شخص ته انتقال کوي. د مصاب شخص په بدن کې لمفاوي حجراتو (په خاص ډول T4-Lymphocyte) ته داخلیږي چې په نتیجه کې د هغې د مقدار کموالی (حتی تر ٪۴۰ پورې) سبب ګرځي.

ددې ویروس د تفریخ دوره د شپږ و میاشتو څخه تر دوه کالو پورې ده په اخته شوي شخص کې د ناروغی په اولو وختونو کې خاص اعراض او نښې نه لیدل کیږي ولې کله کله تبه، ناراحتي، سردردي، عضلي دردونه، دوامدار اسهال، ستړیا، زکام او نور لیدل کیږي چې تقریباً دوه اونۍ دوام کوي او دوباره نورمال حالت ته راځي ویروس چې په لمفاوي حجرو کې ځای په ځای شویدي امکان لري چې د میاشتو او کلونو دپاره پټ پاتې شي.

دا ویروس د وجود معافیتي سیستم ضعیفوي چې دا د معافیتي سیستم ضعیف والی په خپله د نورو انتاناتو، پرازیتونو، باکتریاو، ویروسونو او فنګسي انتاناتو دپاره زمینه برابروي همدارنګه په ژبه کې سپین ټکي لیدل کیږي او یو ډول نیوپلازم چې د Kapiosis- Sarcoma په نامه یادیږي انکشاف کوي په لنډ ډول ویلای شو چې څوک په HIV اخته شو د ژوند سره دې خدای پاماني وکړي.

ایډز او د (Sexual. Transmited. Diseases) STD ناروغی:

د STD ناروغیو لکه ګونوریا، سفلیس اعراض ډېر ژر ظاهرېږي له دې کبله د هغوی علاج ژر کیږي له بله پلوه د هغوی دعلاج دپاره جذري درمل وجود لري هر کله که یو شخص ددې ناروغیو څخه خپل ځان وساتي نو دایډز څخه یې هم خپل ځان ساتلی دی. مهمه او د یادولو وړ خبره داده چې په ناروغی اخته شخص تل رنځ وړي او عقده پیداکوي چې وروسته بیا نورو ته د ویروس د انتقال تمایل پیداکوي.

د ایډز د تشخیص دپاره معاینې:

۱- د کلچر پواسطه ویروس تجرید شي.
۲- د ویروس اجزاوې باید په پلازما کې تثبیت شي.
۳- په سیروم کې باید د HIV د ویروس په مقابل کې انتی باډي تعین شي.
۴- ددې ویروس د تشخیص دپاره ښه تست ELISA دی.

تداوي Treatment:

ددې ناروغی د علاج دپاره ډېر کوښښونه شویدي ځني دواګاني هم جوړې شوي او استعمال شویدي چې په لمړیو مرحلوکې موثرې وي ولې د ویروس د Antigenic ساختمان د تغیر له کبله ددرملو په مقابل کې مقاومت پیداشویدی چې تر اوسه پورې ددې وژونکې ناروغی د علاج په برخه کې کومه کامیابي نه ده تر لاسه شوي.

پاتې (۲۱) مخ

نویسنده: نایله ایوبی سوپروایزر پروگرام صحی اومر درننگرهار

مطالعه سوتغذی اطفال در کلینیک صحی موسسه خیریه اومر



مقدمه

از نظر لغوی سوتغذی (Malnutrition) از کلمات Mal و Nutrition یونانی که اولی آن معنی بدو دومی آن معنی تغذی را ارایه میدارد تشکیل یافته است.

از نظر اصطلاح طبی سوتغذی دارای ابعاد وسیع بوده که مفاهم فرط و تفریط مواد غذایی را تفهیم میدارد.

راپور های واصل طبی نشان میدهد که سوتغذی در سراسر جهان یکی از اسباب عمده مرگ ومیر اطفال را تشکیل داده و از مشکلات عمده صحی جوامع رویه انکشاف، ممالک عقب مانده و جهان غربت محسوب میگردد.

جهان را تشکیل میدهد مصاب سوتغذی بوده که (۳۰۰) میلون آن که حوزه جنوب اسیا بسر می برند.

از مطالعه نشرات تازه به نشر رسیده به سهولت استنتاج میگردد که سوتغذی بالای جوامع بشری اثرات مستقیم واثرات غیر مستقیم وارد میاورد. اثرات مستقیم آن بشکل امراض ناشی از فقر غذای مانند کور شیر کور (فقدان پروتین)، مرسموس (فقدان کالوری) و امراض کمبود ویتامین ها و منرال ها بروز یافته در حالیکه اثرات غیر مستقیم آن باعث وقوعات ارقام بلند و فیات و تاخر نشونما جسمی ورباغی در مریضانیکه زنده می مانند، میگردد.



خاطر نشان میگردد که در جهان غربت و جهان سوم که کشور عزیزمان افغانستان جز آن است سوتغذی در اطفال و قوعات بیشتر داشته و از اسباب عمده مرگ و میر اطفال دارای عمر کمتر از ۵ ساله را تشکیل میدهد.

راپور های انتشار یافته هندی نشان میدهد که در تمام جهان ۴۶۰ میلون که پانزده فیصد نفوس

بویژه بدبختی ها وسیاه روزی های، ناشی از جنگ های متدام که تمام شونات زنده گانی اجتماعی جامعه افغانی را معدوم ساخته زمینه شیوع مرض را فراهم آورده که

با اثرات بد نجاور آن توام بوده و اطفال را بطرف سستی و انهدام ذهنی و جسمی و تغذی میکشاند.

هدف عمده این مطالعه شناسایی فکتور های مساعد کننده مرض و جمع آوری معلومات مفید در مورد سوتغذی اطفال دارای عمر کمتر از (۵) ساله می باشد تا باشد با رعایت پیشنهادات مبنی بر نتایج حاصله این مطالعه وقوعات سوتغذی را در جامعه افغانی تنقیص و تعداد وفیات ناشی از آن را تنزیل بخشید.

مواد و میتود:

این مطالعه بالای (۱۵۲۸) طفل دارای عمر کمتر از پنج سال که طی هشت ماه (فبروری الی اخیر سپتمبر سال ۲۰۰۲) اخیر در کلینک مرکزی و کلینک سیار موسسه خیریه اومر در جلال آباد و ولسوالی های کامه بهسود و سرخرود ننگرهار تحت تداوی قرار داشتند صورت گرفته است در این مطالعه در مورد عمر اطفال، جنس وزن، طول قامت، تعداد اعضایی فامیل، شغل پدر، عاید ماهوار فامیل، سواد مادر، سکونت اصلی وفعلی مریضان، تاریخچه و اکسنیاسیون. تاریخچه تغذی طفل و تاریخچه امراض که سپری نموده معلومات جمع آوری گردیده است.

تشخیص مرض توسط تاریخچه دقیق، لوحه کلنیکی و معاینات فزیکی گذاشته شده است. واقعات وخیم و مرگبار جهت تداوی به شفاخانه معرفی د فرستاده شده است خاطر نشان میگردد که درجه بندی سوتغذی به اساس چارت بستندرد ارزیابی نشوتما (وزن/قامت) یونسیف گذاشته شده است.

مشاهدات:

این مطالعه بالای (۱۵۲۸) طفل مصاب سوتغذی صورت پزیرفته که (۶.۰۳) فیصد مریضان عمومی OPD، (۱۰.۵۳) فیصد مریضان گروپ اطفال و (۲۶.۰۱) فیصد اطفال دارای عمر کمتر از پنج سال که در کلنیک مرکزی و سیار موسسه خیریه اومر در ننگرهار تحت معاینه و تداوی قرار گرفتند، تشکیل میدهند.

مطالعه دیموگرافیک:


از جمله مریضان تحت مطالعه (۵۳.۲۷) فیصد آن در شهر جلال آباد و (۴۶.۷۲) فیصد آن در ولسوالی های کامه، سرخرود و کشور ولایت ننگرهار په سر می برند.

مطالعه از نظر جنس:

سو تغذی هر دو جنس و قوعات داشته اما و قوعات آن در گروپ دختران نسبت گروپ پسران بلند می باشد که در گراف اول نشان داده شده است.

مطالعه از نظر عمر:

سو تغذی در تمام گروپ های عمر کمتر از (۵) ساله بوقوع می رسد اما وقوعات آن در اطفال دارای عمر (۱۲-۳۶) ماهه به نسبت سایر گروپ های عمر اطفال تحت مطالعه بلند می باشد که در گراف دوم تذکر رفته است.



گراف چهارم: وقوعات سوتغذی را در گروپ دختران و پسران نشان

تاریخچه اقتصادی و اجتماعی:

خاطر نشان میگردد که اطفال تحت مطالعه مربوط فامیل های گروپ پائین اقتصادی و اجتماعی بودند که اکثریت انها با فقر و بیکاری‌دست و گریبان بوده و اکثریت مادران از داشتن سواد محروم بوده شناسایی با پالیسی درست وصیح تغذی نداشتند. و تعداد اعضای فامیل بطور اوسط (۶) نفر بود.

تاریخچه و آکسیناسون:

از جمله مریضان تحت مطالعه (۴۵.۵۴) فیصد مریضان کورس واکسیناسیون را



تکمیل و (۵۴.۴۵) فیصد مریضان تحت مطالعه از نعمت واکسین بی بهره بودند.

مطالعه از نظر نوعیت مرض و درجه:

در اطفال تحت مطالعه تمام انواع سوتغذی مشاهده گردیده است اما و قوعات نوع Marasmus (فقدان کالوری) در بلند بوده که (۴۳.۲۵) فیصد واقعات، دیده شده در حالیکه کورشیر کور (فقر پروتین) در (۲۷.۲۶) فیصد واقعات مشاهده گردیده که در گراف شوم نشان داده شده است.

قابل تذکر است که از جمله مریضان سو تغذی به اساس چارک استنداد یونسیف نوعیت نشان میدهد. گراف سوم. وقوعات سوتغذی را از نظر (۳۸.۸۷) فیصد انرا سوتغذی درجه سوم با سوتغذی وخیم تشکیل داده که درگراف چهارم از آن تذکر بمعل آمده است.

تاریخچه حملات امراض:

بصورت اوسط تاریخچه حملات اسهال در نزد اطفال تحت مطالعه (۵) مرتبه تاریخچه حمله ملاریا نزد اطفال (ح) رتبه، تاریخچه حملات پیش نزد اطفال سوتغذی تحت مطالعه (۳) مرتبه تثبیت گردیده است.

فکتور های مساعد کننده:

امراض ذیل را میتوان بحیث فکتور مساعد کننده درج گرد.

۱- غربت ۹۸%

۲- بی سواری مادران ۹۱%

۳- اسهالات ۲۹.۵۱%

۴- پیچیش % ۲۶.۷۰

۵- سرخکان ۱۱.۸۴%




۶- ملاریا ۷.۱۹%

۷- سیاه سرفه ۲.۴۸%

۸- امراض طرق جنسی ۳.۲۷%

۹- فکتور های سواد ۱۸.۹۷%

مناقشه و نتیجه:



سوتغذی یکی از مشکلات عمده صحی اطفال دارای عمر کمتر از ۵ ساله بوده که (۲۶.۵۱) فیصد اطفال تحت مطالعه را تشکیل داده و در تمام گروپ های عمر اطفال دارای کمتر از عمر ۵ ساله بوقوع می رسد اما بلندترین رقم و قوعات انرا عمر سن (۱۲-۳۶) ماهه تشکیل داده است. علاوتا نوع فقر کالوری (مرسموس) عمومیت بیشتر داشته که اکثرانه بصورت وخیم سیر داشته است.

افزون بران فقر، اسهالات، پیچش، سرخکان، ملاریا و سیاه سرفه بحیث فکتور های مساعد کننده مرض شناسایی گردیده است که باید توجه خود را بدان معطوف.

پیشنهادات:

به منظور جلوگیری از وقوعات سوتغذی به نکات اتی باید توجه خود را معطوف نمود.

- مادران را از مزایا و فواید شیر مادر باید اگاه ساخت و برای شان تفهیم نمود که تغذی طفل باشیر مادر برای اطفال ارزش حیاتی داشته و توام بان شروع غذاهای متممه بعد از عمر چهار ماه اول حیات برای طفل نهایت سودمند و موثر است. تغذی با شیر مادر حداقل باید تادوسال اول حیات ادامه بخشید.

- مادران باید در مورد ارزش واکسیناسیون معلومات حاصل دارند و در راه تکمیل واکسیناسیون اطفال شان بذل مساعی بدارند.



گراف چهارم: درجه سوتغذی را در مریضان تحت مطالعه نشان میدهد.

- حمایت صحت اطفال و مادران، تامین حفظ الصحه فردی و محیطی. بلند بردن سطح اگاهی صحی مادران از طریق ارایه کورس های منظم تعلیمات صحی و تعلیمات تغذی که با ایجاد کلنیک های حمایه طفل و مادر و مراکز صحی اساسی ممکن میگردد در امر وقایه سوتغذی گام موثر پنداشته شد که جدا بدان باید توجه نمود.

- تدارک اب صحی اشامیدنی، بلند بردن سطح تولیدات زراعتی، رفع بیکاری میسر ساختن شرایط کار برای همه گان و شرایط اسان عرضه و مارکیتنیگ مواد مغذی از جمله فکتور های محسوب میگردد که میتوان بساط سوتغذی را از جامعه چید و از اثرات سو آن اطفال را رهایند.



دري له درېيو څخه مخکې غنيمت وګڼه:

۱. ژوند له مرګ څخه مخکې

۲. ځواني له بوډاوالي څخه مخکې

۳. صحت له ناروغۍ څخه مخکې.

ژباړن: سیدجمال
لیکوال: اوفلاهوتی (ایرلندی)

د غوا مړینه

خوسکی مړ زېږېدلی و. لومړی یې لکۍ د مور له نسه راووته او بیا پخپله لړ وراندې د وښو پر سر پروت او مړ و. څوك چې په هغه ځای کې ولاړ وو. ټول چوپ او سرونه یې ښورول. د بزگر میرمن چې د غوا ښبتنه وه. د زړه له تله یې سوړ اسویلی وکېښ او ویې ویل: (د خدای به همدا رضا وه)

غوا له ډېره درده رمباړه کړه. بیا په ډېر زحمت پر خپل ځای تاوه راتاوه شوه. پښې یې سستې او درنې شوې وې او سومان یې شیبه په شیبه پرځمکه ښخېدل. د خپل مړه خوسکي پر سر ودرېده او رمباړه یې کړه هغه یې بوی کړ او بیا یې پخپله ژبه د هغه دبدن په څټلو پیل وکړ.

کلیوالې مېرمنې چې د هغې تڼده گروله. په سترگو کې یې اوښکې ډنډوې. داځکه چې پخپله هم یوه مور وه او هر څه یې د زړه له تله احساسوله وروسته غوا. چې ټول وجود یې دردمن و. له خوسکي لیرې شوه او خوړند سر یوې گوښې ته ودرېده. په ډېرې سختۍ یې سا راښکله.

تاده ستمونه یې لکه دلمر وړانگې. چې له کړکۍ څخه دننه تیاره خونې ته ننوځي، ځلېدل.

غوایې د کروندې یوې گوښې ته بوتله هلته یې خپل سر پر لنډې دیواله کېښود او ډېره ستړې ستومانه ودرېدله. کله کله به یې خپله لکۍ ورور ورو یوه خوا بله خوا خوځوله.

خلکو مړ خوسکی له پښې ونیو. د وښو پر سر یې تر دیواله راښکود. چې له دیواله یې واړاوه. بیرته یې پر وښو وغورځاوه. په راښکودو راښکودویې د سیند تر غاړې ورساوه. او له لوړ پاڼ نه یې لاندې د سیند غاړې ته وغورځاوه.

خوسکی د سیند د غاړې پر ډېرو پریوت او بیا ورڅخه خلك بیرته د غوا پر لوري راغلل. د بزگر میرمنې شیدې راوړې وې. خو غوا نه څښلې. اخیریې د هغې خوله په زور بیرته کړه او شیدې ورواړولې. غوا لږ څه تیرې کړې. نور یې له وښکو یوه خوا بله توې شوې.

نور کلیوال ټول خپلو کارونو او کورونو ته ولاړل. خو د بزگر میرمنې لا هملته د خوسکي په غم اوښکې تویولې او خدای

ته یې سوالونه کول چې ناشکری یې وبخښي.

بزگر له خپلې غوا سره پاتې شو او دې ته سترگې پر لار و چې که پریوان (جف) یې راووځي... چې کله هغه راووت تر ډېرو لاندې یې ښخ کړ. بیا یې د ځکې له مخ څخه یو موټی خاورې راواخیستې. پر هغې یې د غوا تر څنگ د صلیب ننبه رسم کړه او لږه شیبه وروسته د خپل کور پر خوا روان شو.

غوا خپل سر هماغسې د دیواله پر کنډو ایښی و. څه شیبه ولاړه وه چې درد یې ښه کم شو. ناڅاپه پر خپل ځای راوڅرخیده. خپل سر یې وخوځاوه. لږه یې مخې ته منډه کړه. دردځپلو غړیو یې د نویو بوټانو په څېر ژغاری کاوه. بیا په یو ځای کې ودرېده. خپلې شاو خوا ته یې وکتل. خو هېڅ یې ونه موندل. د هغه ټیټ دیواله تر څنگ یې منډه کړه. یو ځای او بل ځای ته به یې د دیواله له کنډوونو سرور ور هسك کړ. لاندې به یې وکتل، خو هېڅ یې نه موندل.

څو ځلې یې رمباړه کړه. خو څه ځواب یې وانه ورېده او چې هرڅه یې منډې رامنډې وهلې خپله ورکه یې نه شوای

موندلی. نو لاپسې له ځانه بې ځانه او سر په هوا کیدله. کله به یې ځمکه بویوله. کله په کرار او کله به بیا په بیړه په وښو کې پر خپل ځای گرده تاویده راتاویده.

ناځاپه هماغه ځای ته ورسیده چې لږ د مخه یې خوسکی پکې زیږولی و. همغه ځای ته چې وابنه یې د بزگرانو او نورو نندارچیانو تر پښو لاندې غوبل شوي وو او اخوا دیخوا یې د ځمکې خاورې راکیندل شوې وې. غوا همداسې ځمکه بویوله او سر په هغه روانه وه. تر څو همغې ځای ته ورسیده چې خوسکی یې لومړی پکې پروت و. وابنه لا اوس هم لانده خیشته وو، په ډېره غوسه یې شا وخوا وکتل او بیا یې خپل اوربوز پر ځمکه کیښود. د بوی لیکه او پره یې ونیوله او پر هماغه خوا چې خوسکی یې پر ځمکه راښکلی و، روانه شوه. د دیوال خوا ته ودریده. خپلې سپږمې یې راښکودې او داهڅه یې وکړه څو پوه شي چې بوی پر کومه خوا ځي. بیا یې ددیواله پر کنډو ځان ورتکیه کړ.

که څه هم ډېرو یې سینه ژوبل کړه. خو ویې کړای شول چې هغه لنډې دیوال راوغورځوي. غوا په ډېرې چټکۍ پر هغې ور واوښتله. داخل یې غولانځه او تیونه هم تپې شول، خو پرته له دې چې د درد کومه پروا وکړیو وړاندې ولاړه، همداسې په بوی پسې پرمخ روانه وه.

خپل تگ یې لاپسې چټك کړ. کله به یې سر پورته، کله ځوړند او لکۍ یې نیغه نیولې وه. بیا یې لنډکی دیوال مخې ته راغی. دایې هم د هغه بل په څیر ونړاوه. ددیوال په چمانو کې ونښته. خو په ډېر زور یې ترې ځان خلاص کړ. دواړه ډډې یې ژوبلې او له ټپونو یې وینې روانې شوې چې د کیڼې ډډې سپین ټیکاری هم پکې ورك شو. په چټکۍ سره یې ځان د سیند د غاړې دلوړ پاڼ ژۍ ته ورساوه. ناځاپه یې سیند ولید چې څپو یې له ډېرو سره د لگېدو پر وخت شور وځوگ کاوه. نو ودرېده، لږه شان شاته راغله. هوایې بوی کړه، بیا ورور ورو . په ویره ویره ورمخکې شوه او بیخي د پاڼ څنډې ته، چې وابنه هم پکې نه وو راشنه شوي، ور ورسېده. پر داسې ځای ودریده چې تر پښنو لاندې یې له ډېرو پرته بل څه نه وو. په ډار راوڅرخیده، او بیرته راستنه شوه لیدل یې چې د خوسکي بوی یې هم دلته پای ته رسیدلی دی او نوره نشي کولای چې هغه مخکې تعقیب او پسې ولاړه شي.

هوایې هم بوی کړه، خو دسیند له تروه بویه یې نور څه پوزې ته رانغلل یوه دېره دردیدلې رمباړه یې وکړه او بیا یې لاندې دسیند د غاړې ډېرو ته وکتل.

ناځاپه یې سترگې پخپل خوسکي ولگېدې چې د سیند د غاړې پر ډېرو پروت و. داخل یې له خوښۍ ډکه رمباړه تر خولې وخته شاته راغله چې د ورښکته کیدو کومه لاره ومومي. هغه خوا دا خوایې هوا بوی کړه، د پاڼ له غاړې یې لاندې وکتل، په گونډو شوه او لاندې ډېرې یې ښې تر نظره تیرې کړې، خو هېڅ داسې لاره یې پیدا نه کړه چې ځان خپل خوسکي ته ورسوي.

بیرته پر شا راغله او همغه ځای ته ورسیده چې خوسکی یې ورڅخه لاندې غورځولی و. خپل سومان یې په دېر زور پر ډېرو ووهل او هڅه یې وکړه چې لاندې ولاړه شي. خو د خپلو پښو د ټینگولو له پاره یې ځای نشو موندلی. د پاڼه ژۍ لوړه او دسیند غاړه ډېره ژوره وه. خپلې بې ځواکه او ناتوانه معصومې سترگې یې، پرته له دې چې له خپله ځایه وخوځېږي، پر خوسکي ښخې کړې. پر له پسې یې رمباړې ووهلې. خو څه ځواب یې وانه ورید.

لیدل یې چې د سیند د غاړې د څپو اوبه ورو ورو راپورته او د خوسکي په شاوخوا تاوېږي راتاوېږي. یوه دېره له فریاده ډکه رمباړه یې وکړه چې خپل خوسکی له خطره خبر کړي، خو څپې یوه په بلې پسې راتللې او خوسکي یې ورو ورو ډوباوه.

بیوزلې غواگۍ بیا رمباړې کړې او خپل سر یې له ډېره ډاره یوه خوا بله خوا وخوځاوه، داسې لکه چې غوښتل دسیند څپې پر خپلو ښکرونو وډاروي او پر شایې وتمبوي.

خو ناځاپه یوه لویه څپه راپورته شوه، د سیند له غاړې سره ولگېده او چې بیرته ستنیده، نو خوسکی یې له ځانه سره یوړ او تر ستوني یې تر کړ. غوا یوه ډېره دردیدلې رمباړه وکړه او خپل ځان یې د پاڼ له لوړې څندې ښکته گوزار کړ.

د نجیب الله عامر ژباړه

هاتیان د انسانانو رښتیني دوستان

د شمالي تایي لینډ په سوین نومي ښار ګوټي کې هر کال د نوامبر په میاشت کې د پیلانو یوه لویه مېله جوړېږي. دغه مېله د هغې ورځې په یاد نمانځلی شي چې دغه د یونما ځناور د سیامي په خاوره ورداخل شوی و. سیام ته د ورداخلېدلو نه سمدستي وروسته دغه ځناور ددغه ځای د خلکو په روزنیزو چارو کې ورګډشو. د تیرو اووسوو کالونو راهیسې دغه هوښیار ځناور د تایي لینډ د خلکو په خدمت بوخت دی. دغه هاتیان نه یوازې داچې د یوځای نه بل ځای ته درانه بارونه وړي بلکې ددغه هېواد خطر ناکو ځنګلونو ته د ورتلو یوازېنۍ ذریعه ده. د سیام خلکو به په جنګونو کې هم د هاتیانو کومك تر لاسه کولو. دوی به په هاتیانو سپاره شول، جنډې به یې په لاس کړې او په دښمن به یې برید وکړو. پرته له دې په رسمي غونډو کې به هم هاتیانو ونډه اخیسته. هاتیانو تر اوسه د تایي لینډ د پاچاهانو او درباریانو په هره زاویه او هره کچه خدمت کړی دی. په دغو مېلو کې هاتیان ښودلی شي چې څنګه یې د جنګ په میدان کې د خپلو پوځیانو مرسته کوله. نزدې یونیم سل هاتیان چې جنګیالي پرې سواره وي په دغه مېله کې د جنګ مصنوعي میدان ته ورځي . کله دوی د زرې پوشو ټاکونو په څېر برید کوي او کله هم ددښمن د حملې دفاع کوي. په دغو هاتیانو سپاره جنګیالي په دښمنانو د غشوبارانونه ورروي اوسوره باز جنګیالي د هاتیانو د پښو تر شاه د ځان ساتنه کوي. چې کله کلا ونیول شي نو یو تن د پاچا په جامه کې په یو ښکلي او سنګار شوي هاتي سپور د جنګ میدان ته راځي او اعلان کوي.

"دغه منظره چې نن یې عقل نه مني، خو دا یووخت بیخي رښتونې حقیقت و."

خو نن سبا په تایي لینډ کې هاتیان ډېر برمرغه ژوند تیروي. ایشیایي هاتیان چې په کومو ځنګلونو کې وسیدل دغه ځنګلونه اوس مخ په ختمېدو دي. هم دا علت دی چې ددغه پر وقاره ځناور شمېره ورځ په ورځ په کمېدو ده.که ددغو ایشیایي هاتیانو غم ونه خوړل شي نو هغه ورځ لرې نه ده چې له دغو ځناورو څخه لاس ووینځل شي. د همدغه مقصد لپاره امریکا او څو نور ځناور پال هېوادونه د کال پنځوس لکه ډالره خرج کوي ترڅو ددغو هاتیانو د نسل ساتنه وشي.

دمځکې په سر دا مهال د هاتیانو دوه قسمونه ژوند کوي چې یو قسم یې افریقایي او بل یې ایشیایي نومېږي. ایشیایي هاتي په قد او کړو وړو کې له افریقایي هاتي نه نسبتاً وړوکی وي. هاتیان په عمومي توګه د یارلس فټه اوږده وي او وزن یې نزدې اته ټنه وي. په اسیایي او افریقایي هاتیانو کې بل توپیر داوي چې د افریقایي هاتیانو غوږونه لوی او د ایشیایي هغو واړه وي. څولسیزې د مخه په تایي لینډ کې د هاتیانو شمېره پنځوځلویښتو زرو ته رسېدله خو دامهال یواځې ۱۳۵۰ هاتیان په ځنګلونو کې په ازاده توګه ژوند کوي او ۲۵۰۰هاتیان د انسانانو غلامان دي یوه پېړۍ مخکې ایشیا په ځنګلونو کې څو لکه هاتیان موجود وو خو اوس یوازې د هند او برما په ځنګلونو کې په کم شمېر کې هاتیان موجود دي. د هاتیانو نسل له هغه وخته د تباهۍ سره مخ شو له کله نه چې انسان له دغه ځناور نه ددرنو پیټو د وړلو کار اخیستل شروع کړل . نن هم په نوموړو درې هېوادونو کې هاتي د انسانانو درانه پیتي په خپلو اوږو وړي راوړي.

د بنګال په شمال کې یوه غرنیزه علاقه موجوده ده. دغلته یو ښارګوټی دی چې لمپانګ نومېږي په دغه ښار ګوټي کې د هاتیانو د بقا یو مرکز جوړ شوی چې د هاتیانو روغتون هم پکې دی . په دغه روغتون همدا اوس

یو هاتي د تداوۍ لاندې دي کې پنځه ځلوېښت کلن سیدو کاتملا ددغه هاتي په درملنه بوخت دی. دغه هاتي پنګ نومېږي او د زخمي کیدو له کبله ډېر زیات سست شوی.

د روغتون په انګړکې ځلورو رنګونوکسانو د اوږدو لرګیو په سر د یوې ځلوېښت کلنې هاتنې مړی اوچت کړی. دوی غواړي دغه هاتنه چې سوفان نومېږي نن په دې ځنګله کې ښخه کړي.

سوفان چې کله کمزورې شوه نو مالك یې ترې مخ واړولو اودایې په رنځور ځان د مرګ پنجو ته وروسپارله.

د روغتون ډاکټرانو سوفان تر تداوۍ لاندې ونیوله خو ژوندیې بچ نه کړی شو. دسوفان لوی جسم اوس د هډوکو په یو سکلیټ بدل شوی و.

په نړۍ کې د هاتیانو دغه لومړنی روغتون په ۱۹۹۴ کې د یوې خواخوږې سوریدا سلاولا لخوا جوړ شو. تر دې مهاله په دغه روغتون کې د ۴۰۰ هاتیانو درملنه شوې ده په دغو مریضانو کې ددرنو بارونو وړونکي هاتیان، د مرګ سره مخامخ کمکي او یتیم هاتیان او د زړښت سره مخامخ هاتیان شامل دي. یوه زمانه وه چې هاتي پالونکیو به د خپلو هاتیانو سره مینه کوله او خواخوږې به یې ورسره لرله خو اوس د پنګ او سوفان غوندې د نورو ډېرو هاتیانو مالکان چې په پټه وې غوسوي او نورو ځایونو ته یې قاچاقوي خپل هاتیان په چړو اونیزو سوري کوي تر څو دوی په چټکو ګامونو منزل ته ورسي. اوتېز کاروکړي. اکثرو هاتیانو ته په خوراك کې داسې مواد ورکړل کېږي چې دوی د خپل خطري توان نه زیات کار وکړي.

سیلانیان هم د هاتیانو د ژوند سره لوبې کوي- په ناوړه لارو تربیه شوي هاتیان په خرابو او سختو غرونو او پیچومو سیلانیان په ملا سواره ګرځوي – کله ناکله دوی وخوځېږي او د زرګونو فټه اوچت ځای نه لاندې راګوزار شي. د هوټلونو کارکوونکي او دهاتیانو پالونکي ډېر په واړه عمر کې د هاتیانو بچي له خپلو میندونه رابیل کړي. دغو کمکیو هاتیانو ته غیر معیاري شوده (پی.) او سبزیانې د خوراك لپاره ورکول کېږي. نتیجه یې هم داشي چې دغه هاتیان مریضان شي او خپل ژوند له لاسه ورکړي – ډېر خلك مریضان هاتیان پخپله وژني ترڅو له غوښونه یې مستفید شي.

سوریدا داتوکالو وه چې د هاتیانو له دردناك ژوندون څخه خبره شوه – هغه یو ورځ د خپل پلار سره په چکر وتې وه چې یو زخمي هاتي یې ولیدلو – دغه هاتي یو ټرك په ډغره وهلی و – د هاتي ترځنګ د هغه مالك ناست و او ژړل یې – په داسې حال کې چې د سوریدا په سترګو کې اوښکې راپنډې دي هغې له خپل پلار نه وغوښتل چې دغه هاتي روغتون ته ورسوه – خو دا کار شونی نه و، چې کله دوی له دغه ځایه لرې مخکې لاړل او د ټوپك د ډز اواز شو سوریدا له خپل پلار نه وپوښتل:

"دا بې چاره هاتي ولې په سرك روان و" خو هغې ترننه د خپل دغه سوال ځواب ونه موندلو.

سوریدا چې کله پېغله شوه نو دخپلو ملګرو په کومك یې دایشیایي هاتیانو ملګري په نوم یوه ټولنه جوړه کړه دغه ټولنه او دې ته ورته نورې ټولنې د هاتیانو د ژوند د ژغورلو لپاره کار کوي. دغې ټولنې یو روغتون جوړ کړی چې دډېرو ستونزو د لرلو باوجود پرکار بوخت دی. ددغه روغتون میاشتنی مصرف د پنځو زرو ډالرو نه زیات دی. دغه پیسې د چندو له لارې لاس ته راځي – ددوی کار ستونزمن ځکه دی چې د هاتیانو ددرملنې په لوی (جمبو) سایز کې پکاروي دغه روغتون په ازاده فضا کې یوه لویه عملیات خانه لري چې د پنګ پانګ د لوبې د میدان هومره ساحه لري.

د هاتیانو لپاره چې کومه پیچکاري په کار راځي د هغې اوږدوالی دوه سوه مکعب سانتي متره دی. د انسانانو لپاره چې کومې ستنې استعمالېږي د هغې اوږدوالی ۰.۵ مکعب سانتي متر دی. کله چې یو هاتي ته شپیته سانتي متره اوږده پیچکارۍ لګولی شي نو په دغه وخت کې د یو پوی ډاکټر او د شپږو نرسانو ضرورت وي – دغه ستنې هغې هاتیانو ته لګولی شي چې غاښونه ترې قاچاق برانو په اره کټ کړي وي. که په وخت دغو هاتیانو ته ستنې ونه لګول شي نو دغه هاتیان معذوره کېږي او دمرګ سره پټ پټیوني شروع کوي. ددغه روغتون یو ډاکټر پریچاینګم وایي:

"انسان تر هغې د ځناورو سره علاقه لري چې کارترې اخیستی شي کله چې له کاره ولویږي نو انسانان له ځناورونه ځان خلاصوي"

یو نیم زر کاله مخکې د تایي لینډ په نوي فیصده ځمکه ځنګلونه ابادوو په

دغو ځنګلونو کې نژدې درې لکه هاتیان وسیدل په دغو کې یو لك هاتیان انسانانو خپله پاللي وو- دغو هاتیانو به مختلف کارونه کول - له پاچا نه نیولی تر بزګرانو پورې. له درباره تر کروندو پورې هاتیان د انسانانو په کار راتلل - همدا لامل دی چې د بود مذهب مندرونه دي او که شاهي محلونه په دیوالونو یې د هاتیانو عکسونه جوړ شوي - یو وخت و چې د تایي لینډ په ملي بیرغ د سپین هاتي نښه وه - له همدې کبله به ددغه هېواد وګړوته د سپین هاتي د مځکې وګړي نوم اخیستو. اوس تایي لینډ یوازې شل فیصده ځنګلونه لري او په دغو ځنګلونوکې د موجودو هاتیانو شمېره ورځ په ورځ مخ په کمېدو ده - د سیمې په نورو هېوادونو کې هم دغې ته ورته حالت دی - که کیسه همداسې روانه وي نو ډېر زر به ایشیایي هاتي د خپل افریقایي خپلواڼې سره یو ځای له هستۍ نه نابود شي - کله چې انسانانو ځنګلونه ووهل او د شنو واخو ورشوګانې یې تباه او بربادې کړې نو هاتیان له زوال سره مخ شول او په ورکېدو شول. کوم هاتیان چې تر اوسه ژوندي دي هغوی په ملي پارکونو کې ژوند کوي خو هلته هم ددوی ځاني دښمنان ددوی په ښکار بوخت دي.

د افسوس خبره داده چې د ځنګلونو نه د قیمتي لرګیو قاچاق بران تر اوسه د ونو د راغورځولو، د هغوی د یوځای نه بل ځای ته د وړلو او نورو چارو لپاره هاتیان په کار راولي. هاتیان د لرګیو درانه چارتراشونه له یو ځای نه بل ځای ته یا په ملا او یا هم په راښکلو رسوي - دغه کارګر هاتیان د برما په سرحد د سالوین په ملي پارك کې ډېر زیات موجود وي - دغه سرحد ۱۶۰۰ مربع کلومتره اوږدوالی لري، هلته د ونو وهل یو داسې غیر قانوني او ناجایز کار دی چې د انسان او هاتي دواړو له پاره د مرګ سوب ګرځي.

د ونو په ښکار په ۱۹۸۹ کال کې پیل شو کله چې د تایي لینډ حکومت په دې خبره ورسیدو چې د هېواد ځنګلونه ډېر په بېړنۍ توګه په ختمېدو دي نو د لرګیو په وهلو یې بندیز ولګولو - ددغه بندیز څخه وروسته د لرګیو قیمت څو چنده زیات شو - په زرګونو خلك بې روزګاره شول او د ونو په قاچاق کې په حیرانوونکې توګه زیاتوالی راغی- کله چې د هاتیانو مالکان د غربت په جال کې راګیر شول نو دخپلو هاتیانو نه یې د ونو د راغورځولو او یو ځای نه بل ځای ته د نقلولو کار اخیستل شروع کړل.

دغه غلامان او مزدور هاتیان د قاچاق برانو ډېر په کار راځي ځکه چې دوی تر هغه ځایه تلی شي تر کومې چې مشین نه شي تللی - د معاصرې دورې د لرګو دغه قاچاق بران د پولیسو نه په پټه خپل فعالیتونه جاري ساتي - دوی سره د تیزې رڼا برقونه او نور داسې آلې موجودې وې چې دوی ته د پولیسو د راتګ خبر ورکوي - شپه او ورځ په هاتیانو کار کولی شي - اکثر دغه هاتیان زخمي شي - د ډېرې سترتیا له کبله ددوی په داخلي اعضاوو کې ویني په توئیدو شي او یاهم کوم خطر ناك مرض ددوی سره مل شي.

د ډاکټر بریچا په وینا یوازې د شمالي تایي لیند په ځنګلونو کې ۱۵۰۰ نه زیات هاتیان په غیر قانوني توګه د ونو په راغورځولو کې کاروني شي خو حکومتي چارواکي شاید په دغه وجه ددې کار مخنیوی نه کوي چې که دغه غیر قانوني کارو بار ختم کړی شي نو هاتي به هم خپل ارزښت له لاسه ورکړي. او داسې به ددوی شمېره نوره هم کمه شي.

د پوهانو په نظر که د هاتیانو نه د سیاحت لپاره په سهي او مناسبه توګه کار واخیستل شي نو دغه کار هاتیانو لپاره ډېر ستونزمن نه دی دوی به په طبیعي ماحول کې پاتې کیږي. په خلاص مټ به خوراك تر لاسه کوي او نسل به یې هم بقا مومي.

له نیکه مرغه په تیروڅو کالونو کې د سیاحت په میدان کې د هاتیانو ونډه زیاته شوې ده - سیلانیان نه یوازې داچې د هاتیانو سېل کوي بلکه پرې سپرېږي اود ځنګل او زړو کلاګانو سیل پرې هم کوي. همدا اوس اوس د شمالي تایي لینډ د یو ښایستوکي ښارچیانګ مایي سره نږدې د هاتیانو یو ښکلي پارك جوړ کړی شوی دی. دغه پارك د طبیعي حسن نه مالا مال دی. هلته هره ورځ د جاپان، انګلستان، اټالیا او فرانسا څخه راغلي سیلانیان په شل پنځه ویشتو هاتیانو سپرېږي او دهغې درې د ښایستوو مناظرو سیل کوي - د هاتیانو په غاړه کې جرس کړنګاري کوي، دغه اواز ددې خبرې وضاحت کوي چې هاتي راروان دی- هم دغه

اواز هاتي پالونكي خبروي چې دادى هاتي يې له لاړې يو طرف ته موجودو پټو ته ورمخه كړې ترڅو ځان موږ كړي په داسې وخت كې دغه كسان په زوره اخري وهي چې:

پايي، پايي

يعني څه څه

ددغه پارك مالكه "سانګرون چليرټ وايي هاتيان په مينه او نرمۍ تربيه كېږي رښتيا هم د هاتيانو د تربيه كولو لپاره د تعليم سره سره هغوى ته د مينې وركول هم ضروري دى. كه داسې وشي نو هاتي هم دانسان په اشاره پل پورته كوي. د هاتي د خدمت صله داوه چې ورسره ښه رويه وساتل شي د پارك دغه مېرمنه چې سانګرون نومېږي د خپلو هاتيانو لپاره يو منظم تقسيم اوقات جوړ كړي چې څه داسې دي:

يو هاتي به روزانه دوه ساعته كار كويو ځليريشت ساعته بايد يو څوك د هغه پالنه وكړي - هاتيان بايد هره ورځ په نزدې بهيدونكي سيند كې د لامبو وهلو لپاره ويوړل شي.

كله چې سانګرون يو هاتي په كرايه يا په بيه واخلي نو كوشش كوي چې پالونكي يې هم له ځان سره په كارواچوي ترڅو د پالونكي او ځناور تر مينځه د مينې رشته قايمه وسي هغه په سرحدونو كې خرڅېدونكي هاتيان رانيسي چېرته چې له اتو كالونه نيولي تر دولسو كالو پورې د هاتي يو صحت منده بچى د شپږ زره ډالرو په قيمت تر لاسه كېږي په دغه سيمه كې د ونو قاچاق او په غير قانوني توګه وهل په زورونو دى. همداعلت دى چې هاتيانو سره ډېر ناروا ظلمونه كېږي - په هم دغه علاقه كې د كيرن په نوم قبايل وسېږئ چې له پيړيو راهيسې د هاتيانو په تربيه كولو بوخت دى دغه قبايل د هاتيانو په باره كې ډېر زيات علم لري د تايي لينډ شاهي خاندان تر اوسه په رسمي غونډو او مجلسونو كې د هاتيانو برخه كوي ځكه تايي لينډ داسې هېواد دى چېرته چې سپين هاتي اوس هم په حيثتونو كې ننداري ته وړاندې كولى شي په كمبوديا او د اسيا په نورو هېوادونو كې دغه رسمونه ختم شوي دي.

د تايي لينډ خلك سپين هاتي د اندراديوتا په نوم ددريوو سرونو لرونكي اسماني هاتي مځكنى بديل ګڼي د هغه ځاى قانون څه داسې دى چې په هېواد كې موجود د هر سپين هاتي به د پاچا په مخكې وړاندې كولى شي خو د غه كلب ته د اخلېدل دومره اسان هم نه دي. يوازې د ښه اواز لرونكي، ښايسته او داوږدخړتم لر ونكي سپين هاتيان دغلته داخلېدلى شي په تايي لينډ كې د سيويې قبايل هم د هاتيانو په ساتلو كې علاقه لري - دلته هم د هاتيانو په اړه د تګ راتګ افساني مشهورې دي. دغه قبايل د تايي لينډ په ختيځ شمال كې پراته دي. يو وخت به دوى د هاتيانو د رانيولو له پاره كمبودياته ورتلل او واړه هاتيان به يې ډېر په اساني تربيه كول خوكله چې په ۱۹۶۰ كال كې د كمبوديا ځنګلونه تباه شول نو دغه قبايل هم په قراره كښيناستل.

د تايي لينډ په ساحلي ښارګوټي هواهين كې ديو هوټل په مخكې ولاړ هاتي خپل خړتم د يوې اروپايي جوړې (ښځه او خاوند) نه تاو كړه ځكه ددغه هاتي پالونكي غوښتل چې انګريز له هغه نه د لرګيو ګيډې واخلي ترڅو هغه د هاتي او خپل خوراك انتظام وكړي دغه قسمه د ذلت نه ډكې منظرې په ښكاك كې هره ورځ ترسترګو كېږي چېرته چې د هاتيانو داخليدل منع دي خو حكومتي چاروكي په چا زور نه اچوي - بله وجه يې داده چې په تايي لينډ كې هاتي يو متبرك ځناور ګڼلى شي نو ځكه عام خلك هغه ته تكليف نه وركول غواړي.

پاتي موزيم هرات ....

سكه و تعداد ۲۰ تفنگ قديمى و يک شمشير. صندوق هاى كه دران اثار نگهبانى مى شد تماماً ناكاره شده، شيشه ها شكسته و داخل اطاق هاى موزيم به شكل مخروبه تبديل گرديده است بعد از سقوط طالبان زمانيكه امير صاحب اسماعيل خان دوباره زمام امور را در هرات بدست گرفتن اكتوبر امر نمود كه هيئت از رئيس اطلاعات و كلتور عبدالهادى فايق، امر ابدات تاريخى مظهر وحيدى، مدير موزيم شيخ عبدالغفور و دو نفر باستانشناس شهر هرات حاجى عبدالحق و معلم غلام سخى خان تركيب گردد تا از موزيم ديدن نمايد اثار باقى مانده را موجودى و ملاحظه نمايد و خسارات وارده را بررسى مصارف احيه مجدد آن را برآورد نموده به مقام والى پشنهاد نمايد. موزيم و صندوق هاى آن ترميم خواهد شد و ليكن مجسمه هاى بودا و نقاشى هاى استاد بهزاد قابل ترميم و استفاده نخواهد بود.

دچرگانو په تغذیه کې دویټامین A غذایي ارزښت

پوهیالي خوشدل معروفي د ننگرهار
پوهنتون د کرنې پوهنځي

څرنگه چې زمونږ گران هېواد افغانستان یو کرنیز هېواد دی 85% وگړي یې په کرنه او مالداري کې بوخت دي خصوصا په کلیو او بانډو کې د مالداري او له دې جملې څخه د چرگانو روزنه یو خاص شغل او رواج دی چې په کورونو کې چرگان د کورنۍ له خوا په خاصه توجه سره ساتل کېږي همدارنگه په ښارونو کې.

د فارمونو په شکل د مختلفو کورنیو تر روزنې لاندې نیول کېږي چې ددې څخه مختلف تولیدات لکه هگۍ او غوښه لاسته راوړي. چرگان د نوموړو تولیداتو د پوره کولو لپاره غذایي موادوته اړتیا لري ترڅو په کافي اندازې سره یې واخلي او حاصل ورکړي.

غذایي مواد د حیواناتو د ودې، ژوند ساتنې، تولید او تکثر لپاره ضروري دي. د حینې موادو په لږوالي سره حیوانات نه تولید کوي او نه ژوندي پاته کېدای شي. ویټامینونه د چرگانو بلکه د ټولو حیواناتو لپاره خاص ارزښت لري خصوصا ویټامین A چې د چرگانو په جیره کې د خاص ارزښت وړ ده. د ویټامین A د لږوالي په نتیجه کې چرگان د مختلفو ناروغیو په مقابل کې لکه Coryz د سترگو پړسوب او Coccidio sis په مقابل کې حساس کېږي. همدارنگه د هگیو کم تولید، د چوچه کشي کمه فیصدي او حتی که وړوچرگوړو ته په کافي اندازې سره ورنکړل شي ټول له منځه ځي چې بالاخره د اقتصادي تاوانونو سبب گرځي.

د ویټامین A کیمیاوي جوړښت

ویټامین A د کیمیاوي جوړښت له نظره په دوه شکلونو ترانس (Trans) او سز (Cis) پیداکېږي چې د ترانس بیولوژیکي فعالیت نظر (Cis) ته څو برابره زیات دی. ویټامین A په مختلفو شکلونو لکه الکهول، الدیهاید او اسید وجود لري چې په ترتیب سره د Retianl - Retinol او Retinoic acid په نومونو یادېږي.

د ویټامین A خواص:

ویټامین A یو بې رنگه ماده ده چې په اوبو کې غیر منحل او په شحمیاتو، تیل، میتایل الکهول، کلورو فارم، سایکلو هگزان او ایستر کې د حل وړ ده.

د ویټامین A مرکبات او محلولونه چې د ماورای بنفش وړانگې او اکسیجن په مقابل کې واقع شي ډېر ژر خپل کیمیاوي فعالیت له لاسه ورکوي او غیر فعاله کېږي. د ویټامین A د استر شکل نسبت و الکهول شکل ته څو برابره د ثبات لرونکي دی.

د ویټامین A جذبیدل:

داچې حیوانات د کروتین او ویټامین A څخه په اعظمي توگه استفاده وکړي باید د ټولو تر مخه د جذب د عملي لاندې واقع شي. د ویټامین A او کروتین جذب نظر د غذا په نوعې او خواصو پورې فرق کوي.

د کلمو په جدار کې د شحم موجودیت د ویټامین A جذب تیزوي. د وړو کلمو په جدار کې یو مقدار کروتین له منځه ځي ددې لپاره چې د تخریباتو څخه یې مخنیوی وشي باید یو مقدار ویټامین E چې د احتراق ضد (Anti Oxidant) په حیث کار کوي په جیره کې علاوه شي.

کروتین په وړو کلمو کې د Dioxygenase انزایم په واسطه په ویټامین A الکهول (Retinol) او شحمي تیزاب تجزیه کېږي وروسته Retinol د شحمي اسید سره یو ځای کېږي استر لرونکي ویټامین A او لوی شحمي تیزابونه جوړوي.

د ویټامین A استرون د Duodenum او Jejunum د پورتنۍ برخې د Mucura انساجو له لارې جذبېږي او د لمفاوي سیستم له لارې د وینې جریان ته داخلېږي او ینې (جگر) ته انتقالېږي هلته په مخصوصو حجراتو کې Kupuffer cells په نوم انساجو کې د ایستر په شکل ذخیره کېږي. تحقیقاتو ښودلې ده چې ذخیره شوي ویټامین A د ضرورت په وخت کې بیرته لمفاوي سیستم ته داخلېږي او بیا د وینې جریان ته داخلېږي وروسته د بدن مختلفو برخو ته ځي. د صفرا مالگې (Bile salt) د ویټامین A په جذب کې کمک کوي. 90% ویټامین A

په جګر کې اوپاته يې په پښتورګو، وينه او ډېر کم تعداد يې په نورو غړو کې جذبيږي او ذخيره کېږي.

هغه عوامل چې د شحمياتو په جذب کې رول لري د ويټامين A په جذب کې هم مرسته کوي.

د ويټامين A فزيولوژيکي دندې:

د ويټامين A عمده فزيولوژيکي دندې په لاندې ډول دي:

۱- د Mucopoly Saccharides په جوړولو کې ضروري دي چې دا مواد د عضلاتو او هډوکو (ستون فقرات) په جوړولو کې مهم رول لوبوي. د کموالي په صورت کې دا مواد نه جوړيږي عضلات او هډوکي دودې ځخه پاتې کېږي.

۲- د بشروي انساجو (Epithelial tissue) په وده او ساتنه کې چې هضمي جهاز، تنفسي جهاز، تناسلي جهاز پښتورګي او پوستکي پوښې مهم رول لري:

الف: د تنفسي جهاز Epithelial حجرې د ويټامين A د کمبود په نتيجه کې کلکيږي او په هغه کې درزونه پيداکيږي چې په نتيجه کې مکروبونه بدن ته داخليږي، د تنفسي جهاز مقاومت د سينې او بغل د مکروبونو په مقابل کې له لاسه ورکوي او بالاخره حيوان د ريزش، سينه وبغل په ناروغۍ اخته کېږي.

ب: د هضمي جهاز بشروي انساج د ويټامين A د کمبود په نتيجه کې په درسته توګه خپله وظيفه نشي اجرا کولای او هغه مايع او انزايم چې د غذايي موادو دهغه لپاره ترشح کېږي په کافي اندازې سره نه ترشح کېږي. چې دغه حالت د سو هغه او اسهال سبب ګرځي.

۳- يو شمېر غدې د ويټامين A د کمبود په نتيجه کې په سمه توګه خپله وظيفه نشي اجرا کولای چې د مختلفو ناروغيو د ښکاره کيدو سبب کېږي.

A – لعابيه غدوات (Salivary glands):
دا غدې دژامې لاندې، په ژبه کې او دحيوان د غوږ لاندې واقع وي د ويټامين A د لږوالي په نتيجه کې هغه مايع لعاب چې د انزايمونو د ترشح کيدو او خوړو په لندولو کې مهم رول لري په درسته توګه نه ترشح کېږي او په هضمي سيستم کې بې نظمي منځته راځي.

b- د سترګو غدوات (Ocular glands):
دا غدې مايع ترشح کوي چې د سترګو د مرطوب کيدو او نرم ساتلو سبب کېږي د ويټامين A د کمبود په نتيجه کې نوموړې غدې خپله وظيفه په درسته توګه نشي اجرا کولای چې بالاخره بشروي انساج کلکيږي او مکروبونه داخليږي د Xeroph thalmia ناروغۍ منځته راوړي ددې ناروغۍ علايم د سترګو د قرنيې په برخه کې وچوالي او تخريش دي.

c- تايرويد غده (thyroid gland): دا غده کوم چې د Thyroxine هورمون افرازوي او د غذايي موادو د انقلاب لپاره ضروري ده د ويټامين A د کمبود په نتيجه کې په درسته او مناسبه توګه نه ترشح کېږي.

d- جنسي غدې (Sexual glends):
داغدې هم د ويټامين A د کمبود په نتيجه کې متضرره کېږي او د تناسلي ناروغۍ سبب کېږي. په مذکر جنس د سپرم د تشکيل (Spermatogenesis) او په مونث جنس کې د تخمې د تشکيل (Dogenesis) پروسه بطې کېږي همدارنګه په مونث جنس کې درحيم د خرابيدو له کبله د جنين سقط (Abortion) منځته راځي په همدې توګه د خصيو بشروي نسجونه د نورمال حالت ځخه کوچني کېږي پيدم په کافي اندازې سره نه توليديږي.

e- Rhodopsin د مرکب په جوړېدو کې چې په تياره کې چې د سترګو د ليد سره کومک کوي د ويټامين A د کمبود په نتيجه کې د نوموړې مادې په جوړېدو کې ځنډ منځته راځي چې حيوان د شب کوري په تکليف اخته کېږي.

د ويټامين A کموالی

۱- په چرګانو کې د ويټامين A کموالی:
د ودې بطي کيدل، غير منظم ښکې، په پښو او مښوکه کې د ژېړ پګمنټ نه موجوديت، د سترګو اوبلن حالت، د ښو لاندې د سپين پنيری حالت يا موادو موجوديت، د کوريزا موجوديت. په خوله، مرۍ او تنفسي سيستم کې د تپاکو موجوديت همدارنګه يوريايي رسوبات په حالب او د زړه په پريکارد کې ليدل کېږي. همدارنګه په جګر او طحال (Spleen) کې هم تپاکې ليدل کېږي.

د هګيو د توليد کموالی، د بچي استيو د قدرت کموالی او د چرګوړو ډېر زيات تلفات په لومړنيو اونيو کې ليدل شويدي همدارنګه په ځوانو الوتونکو کې دودې او نمو د تاخير سبب کېږي. په وړو چرګوړو کې يو لړ عصبي نارحتی او اعصابو غير نارمل ودې سبب کېږي.

د ودې دريدل، د وزن کمېدل، جلدي ناروغۍ، سږو، قصبه الريې، مثانې او پښتورګو ته صدمه رسول د ويټامين A د لږوالي نتيجه ده.

په چرګوړو کمزوری او ډنګريدل. دپزې، ستوني، کلمو او هضمي جهاز پريتوان وچيږي په حرکت کې بې نظمي وي.

همدارنګه د ويټامين A د لږوالي په نتيجه کې په چرګانو کې د قرنيې د

طماش اپریدی

غمه چې تا یې په کورونو کډې وارولې
هغو بې وسو په سرونو کېږې واوړولې

څنګه آباده ابادي شوله په دې دښته کښې
چې راسره د یار یادونو کډې واړولې

خیر دے اوسیږه مې په زړه کښې خو د زغم ترحده
درده چې تا مې په زخمونو کډې واړولې

ستا دې ژوندون شي په نصیب د خوشالو غېږه کښې
خیر دے په ما که ستا غمونو کډې واړولې

چا چې پښې ابله پښې منزل کړه د همت په مرسته
هغو په خپلو منزلونو کډې واړولې

طماشه بیا چوړ په خندا شو هغه ښکلے اشنا
په ما سپرلو په ما ګلونو کډې واړولې

ستمبر/۱۹۸۸/دوبی

لایق زاده لایق

ګل شوم اوربلونو را ژوندی کړمه
خیال شومه شعرونو را ژوندی کړمه
تا چې په سپین مخ زلفې خورې کړلې
زه دې مابنامونو را ژوندی کړمه
ستا د مخ رنګونو چې لمبې وکړې
دغې سرو اورونو را ژوندی کړمه
ګوره کنه مینه څومره زور لري
زه خپلو غمونو را ژوندی کړمه
ما خو حوصله پخوا بایللې وه
بیا دې ارمانونو را ژوندی کړمه
ستا د غونډې زنې د لمبو په سر
قط په قط خالونو را ژوندی کړمه
زه لایق د وخت ستم وژلی ووم
بیا د چا نسوالونو را ژوندی کړمه

که هوس ویر

ستا په عرش کې له تقدیر سره مې شپه وای
د خوبونو له تعبیر سره مې شپه وای
هر سحر یې رڼولای ښکلولای
ستا د زلفو له ځنځیر سره مې شپه وای
دغه یو غمی جهان یکې روان دی
د سیندونو له بهیر سره مې شپه وای
لویه خدایه د هوس له تاله لوېږم
د افغان له اوږده ویر سره مې شپه وای
بیا غزله د چا پېغلې شونډې ښکل کړم
ستا د تورو له تصویر سره مې شپه وای
چې په خوب کې یې ارام رانه حرام وای
د مغولو له زورګیر سره مې شپه وای
لویه خدایه ما به څنګه سحر بیاموند
که د زړونو له تکبیر سره مې شپه وای

سعدالله میوند

چې ملت مو خوروي هغه دې ورک شي
چې وطن مو ورانوي هغه دې ورک شي
چې فساد او عناد غواړي زموږ نه دی
چې قامونه جنګوي هغه دې ورک شي
موږ د سولې او د امن طلبګار یو
څوک چې وینې تویوي هغه دې ورک شي
دا وطن زموږ د سرو وینو بدل دی
څوک چې وینې څرڅوي هغه دې ورک شي
هزاره، پښتون، تاجک او ازبک یو دي
افغانان چې بېلوي هغه دې ورک شي
چې زموږ په لوړو، تندو ډېرو ستونزو
که څوک سترګې پټوي هغه دې ورک شي
د خپل دین او د وطن دښمن په وراندې
څوک چې خپل سر ټیټوي هغه دې ورک شي

شاه زلمی زلمی

بس اوړي دې را اوړي دې د وخت د کتاب پاڼې
کېدای شي چې زما د اشنا ذکر پکې راشي
دا پوهه لیوني نه ده چې روغ لیوني بولي
جهان ټول لیوني دی که دا ذکر پکې راشي
دا ژوند هم هغه ژوند دی نه دې حال او ماضي ګوره
که شي مو مستقبل ته زما ذکر پکې راشي
چې ناسته سره ډېره شي په منځ کې د ملګرو
د پښه پښه احسانونو بلا ذکر پکې راشي
راجمعه که په یو انځېرې واړه پښتانه شي
شاید چرته د نوي سبا ذکر پکې راشي
نقشه زما د زړه خو لا پخوا ده کرښې کرښې
نو نن به بیا د کومې ښکلا ذکر پکې راشي
دا خینې وخت کې ولې شي دا ټول محفل خاموشه
تاثیر د بل څه نه وي د چا ذکر پکې راشي

خیال باچا مفتون

خواره مې شي په ژبه د انګار د نامه توري
چې یاد کړمه په کله د خپل یار د نامه توري
یو څو ترې د خم خوا کې په وچو شونډو وایي
چې څاڅکي سره رسم شي د دار د نامه توري
یو څو لیوني راغلل بې ګرېوانه پښې توري
خو هر یوه له خولې باسل د ښار د نامه توري
حیا د سباوون په نامه ودروي ژبه
تکرار کړي، ترجمه کړي د سهار د نامه توري
د سترګو په کونجونو کې موسکې شوه خوا له راغله
په غوږ کې یې راته یاد کړل د اختیار د نامه توري.

سید اختیار سباوون

وچیدوو د اوښکو زیات بهیدل، د سترګو د مخـاطي غشـا ناروغـی. د سـترګو د وچوالي نه شروع وروسته د سترګو قرنیې ته صدمه رسوي. که چېرې ددې ویټامین لړوالي ادامه وموميي د نظر د کموالي او بالاخره د ړوندواي سبب کېږي همدرنګه په سترګو کې خارښت سره د پړسوب، د سترګو سـوروالی او د غـټو چرګانـو د سترګو نـه غلیظـه مـاده وځي. د تخمي چرګانو د ضعیفه کېدو، د هګیـو د بې نطفـه کېدو سبب کـېږي. همدارنـګه د هګیو څخه کمزوره چرګوړي پیدا کېږي.

۲- پـه فیـل مرغـانو کـې د ویټامیـن A کموالـی: فیـل مـرغ زایـت میـلان کښیناستلو او چرت وهلو تـه لـري پـه مشـکل سره حرکت کـوي. وزرونـه یـې درانـده او پریوتـي ویـو سـریې ټیـټ او سترګې یې پټې وې د سترګو څخـه زیات مقدار اوښکې بهېږي چې د سترګو پـردې یې د نارمل حالت څخه بهیم وي.

د پوزې څخـه یـې ترشـحات روان وي چـې اوله کې روښانه او وروسته د شیدو د رنګ پشان رنګ ځانته غوره کوي. بانه یې سره تړلي او د یو بل سره نښتي وي. که د مرګ نه وروسته معاینه شي پـه خولـه ، مری او حنجره کې سپین رنګه داغونه موجود وي چـې د یوریـك اسـید رسـوبات دي. پـه پرمختللي حالت کې دغه رسوبات په زړه، ځګر او پښتورګو کې هم لیدل کېږي.

د ویټامین A منابع

د ویټامیـن A منـابع د حیوانـاتو مینـه د ځګر، د ماهیـانو غـوړ، کـوچ (مسـکه) شیدی، پنیرد هګیـوژېړ، شـنه سـابه، میوې، ژېړ جوار او شنه واښه دي.

A – جوار (Corn): ژېړ جوار پـه غلجـاتو کې د الوتونکو لپاره یوه باارزښته غذا ده چـې ډېره خـوږه او دهغــه وړ ده او غذايي ارزښت یې نسبت سپین جواروتـه د چرګانو لپـاره زیـات ده. د ویټامیـن A مقـدار پـه ژېړو جـوارو کـې نسبت نـورو غلجانو تـه زیاته ده اګرکـه ددې مقـدار د تازه انتقاد بنسټ کم دی (پـه هرګرام تـازه رشقه کـې 100IU ویټامیـن A او پـه هـر ګرام جـوارو کـې 8IU ویټامیـن A لـري مګر د توجه وړ ده)

b- د ماهي غوړ: د ماهي غوړ په دوه ډوله دي:

۱- د مـورو غـوړي چـې د ۳۰۰۰ نـه تـر ۸۰۰۰ بین المللي واحده ویټامین A پـه هر سانتي متر مکعب Cm^3 کې لري.

۲- د Fleton ماهي غوړ چې د ۲۰۰۰ نـه تر ۳۰۰۰ بین المللي واحده ویټامین A په هر سانتي مترمکعب Cm^3 کې لري

c- د وفـا تـول Duphasol : دا د ویټامیـن A او ویټامیـن D3 مخلوط دی چـې پـه اولـه کې د محلول پـه شکل پـه اوبـو کـې تهیـه شـوي وي وروسـته پـه پلاسـتیکي کپسولونو کې چې شل سي سي حجم لري بنـد شـوی وي چـې د ویټامیـن A او ویټامین D3 د کمبود په وخت کې ورکول کېږي لاندې غذاګانـې پـه یـو کیلـو ګرام جبیره کې د ویټامین A مقدار پـه Iu سره ښیي:

غنم 250 IU ، جـوار 7000ZU ، اوربشـي 70 IU ، د غنمو سبوس 20IU بې غوړه د شیدو پوډر 280IU ، رشقي پوډر 9500IU.

د چرګانو پـه هـګۍ کـې د ویټامیـن A کیفیت د چرګانو په هګۍ کې د ۵۰۰ نـه تر ۱۰۰۰ بین المللي واحده ویټامیـن A موجود دي. د هګیـو د ژېړو ژېړوالـی پـه هغه غذايي موادو پوري اړه لري چې پـه جیره کې موجـود وي او دا لکـه د ژېړو جوارو او شنه علوفه جاتو کې موجود وي او د هګیو ژېړو او پښو تـه انتقالېږي او هغې ته ژېړ رنګ ورکوي چې دا ژېړوالی په کروتین پوري اړه لري څومره پـه جیره کې کروتین زیات وي په همغه اندازه یې غذايـي ارزښت زیـات وي او دهګیـو ژېړ تیز وي.

که چېرې هګۍ کنسروه شي له یوه کال نه وروسـته 50% ضایعـات منځتـه راځي همدارنـګه کـه هګیـو تـه د پنځو دقیقـو څخـه زیـات حـرارت ورکـړل شـي -30% 20% ویټامین A له منځه ځي.

د هګیو ژېړ د نطفې لپاره غذا تشکیلوي او د بچـي ایسـتلو قـدرت زیـاتوي همدارنـګه نطفه کـولای شي یـو مقـدار ویټامین A په ځان کې ذخیره کړي چې د پیداکېدو وروسـته تـر ۷ الـی ۸ ورځو پورې دهغې څخه استفاده کوي. د تخمي چرګانـو پـه ژمنـي جیره کـې 2%-3% د ماهی غوړ یا 4%-6% وچه شوې رشقه واچول شي دهګۍ ویټامین A پوره کېږي او چوچه کشي لپاره اماده وي. یوه هګۍ د ۳۰ قطعـي چـرګوړو د ویټامیـن A ضـرورت پـوره کـوي. د چرګانـو او فیـل مرغانو لپاره د ویټامین A مقدار

۱- تر اتمه اونۍ پورې ۷۵۰۰- ۸۰۰۰ بین المللي واحده په یو کیلو ګرام جیره کې.

۲- د ۸-۱۶ اونـۍ پـورې 8000IU/kg جیره کې.

۳- بـالغ فیـل مـرغ تـه 8000IU/kg جـیره کې نوموړی مقدار په یوه ورځ کې په نیه کې ذخیره کېږي.

د چرګوړو لپاره د ویټامین A مقدار

۱- تر اتمه اونۍ پورې 4400IU/kg جیره کې.

۲- د ۸-۱۶ اونـۍ پـورې 4400IU/kg جیره کې.

د ویټامین A په لړوالي اخته چرګانو تداوي

۱- هغه غذاګاني چې د ویټامین A منابع او یا ویټامین A لري لکه غنم، جوار، اوربشې، دغنمو سبوس بې غوړه د شیدو پوډر او یا درشقې پوډر په جیره کې علاوه شي.

۲- د Vit AD3E او Vit AD3E1 محلول:

ترکیبات: ویټامین A 100000/gr

ویټامین D3 20000/gr

ویټامین E ؟

د مصرف وخت: د ودې تاخیر، راشي تیزم Rachitism او دهډوکو د نرموالي په وخت کې.

د مصرف طریقه او مقدار: یو ملي لیتر په یو لیتر اوبو کې.

همدارنګه نورې دواګانې او د ویټامینونو مخلوط په بازارونو کې پلورل کېږي چې معینو ترکیبونو سره د جیرې یا اوبو سره مخلوط او چرګانو ته ورکول کېږي.

د ویټامین A زیات مقدار ورکول Hyper Vitaminosis

Retinol, Retinal په نسبت زیات زهري خاصیت لري ځکه چې Retinal د حیوان په بدن کې په Retinol acid بدلېږي او دا د ویټامین A یو فعال شکل دی که چېرې د خپل اصغري حد څخه د 50 نه تر 100 ځلې زیات استعمال شي په حیوان کې خپل زهري خاصیت ښکاره کویز نتیجه ګیري او سپارښتنې.

د ویټامین A نشتوالی ښایي په لاندې عواملو پورې اړه ولري:

۱- کیدای شي چې د ویټامین A او د ویټامین A لومړني مواد په جیره کې لکه شنه رشقه، جوار، وچه رشقه بې غوړه د شیدو پوډر او داسې نور.

۲- کیدای شي چې د ویټامین A لومړني مواد په ویټامین A تبدیل نه شي:

د ذکر شوو عواملو په نظر کې نیولو سره باید هره ورځ په جیره کې ویټامین A یا د ویټامین A لومړني مواد علاوه شي تر څو د مختلفو ناروغیو مخه ونیول شي.

باید مالداران دې ټکي ته متوجه وي چې په جیره کې د ویټامین A د کموالي یا نشتوالي په صورت کې چرګان په کافي اندازې سره نه هګۍ تولیدوي او نه د پام وړ غوښه اخلي او که چېرې وغواړي چوچه کشي وکړي د چوچه کشي فیصدي ټیټېږي. د ځنې امراضو په پیښېدو سره باید د ویټامین A د قلت علایم په نظر کې ونیسي.

۱- باید د فارم مخې ته رشقه وکرل شي ترڅو د لزوم په وخت کې چرګان د هغې څخه استفاده وکړي.

۲- باید د حمل و نقل په وخت کې یا دحمل ونقل نه مخکې چرګانو ته ویټامین A لرونکي غذاګانې ورکړل شي تر څو دځینې امراضو په مقابل کې مقاومت وکړي.

۳- باید دولت هغه غذایي مواد چې د ویټامین A کافي مقدار لري هېواد ته وارد یا تولید کړي تر څو فارم لرونکي هېواد وال په اساني سره وکولای شي د ضرورت په وخت کې لاسته راوړي ترڅو دتلفاتو څخه مخنیوی وشي.

Abstract

Pohyalay khashdid "Maroof" Animal Science department Agriculture Faculty of Ningarhar University.

Vitamin A is very necessary for grouth, production and else. Vitamin A deficiency belongs to following factors:

1- Deficiency of vitamin A or provitamin A in some parts of tation or less of some parts of ration wich have vitamin A and provitamin A like lucern, corn, Powder of lucern, dried skin milk and else.

2- No changing of provetamin A in vitamin A.

We have to tell all farmers about vitamin A deficeing sign, that poultes won't be able to produce enough eggs and they will not grouth wel, and if we hatch their eggs, there will be low percentage of hatchability.

A- we have to grow lucern in piultry farms for poultry.

B- During carring or before carring we must feed them by vitamin A to being strong against disease.

C- The government must produce or imports that feeds wich have vitamine A or provitamin A for farmers that whern they need to them, they can use them easily and protect their poultes from disease.

اخځ

1- Nesheim, M.C and others Poultry production 12th ed Lea and PP(24)–febiger. V.S.A. 1979

2- Jull Morley A and other piultry farming first ed. Mc Grow – Hill Book company INC U.S.A 1945 pp (204)

3- اغچه زید، ایچ رهنمای مرغبانی اول چاپ مقبل اکیډمی پاکستان ۱۹۲۲ ص (۱۲۵)

4- جامعی دوکتور پرویز اصول تغذیه طیور دانشگاه تهران سال ۱۳۵۷ هـ ش ص ۲۸۳- ۲۸۸ ، ۴۰۵.

5- اسمعیلی دوکتور محمد اسمعیل روش نویش مرغداری چاپ چهارم تهران ایران ۱۳۵۸ هـ ش ص ۱۸-۳۲

6- اسمعیلی دوکتور محمد اسمعیل فزیولوژي حیوانات اهلی ترجمه گل محمد او نور ملګري اول جلد مسکول کال ۱۳۶۷ هـ ش ص ۳۱۸- ۳۱۹


7- اوحدی نیا دوکتور حسن تشخیص و درمان بیماریهای طیور سازمان انتشارات شرقي ایران کال ۱۳۶۵ هـ ش ص ۱۴۵ – ۱۶۸ – ۳۸۵ .

8- انوری شفیق الله کرنپوهنه د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځی درې میاشتنۍ علمي خپرونه دوهمه ګڼه کابل افغانستان ص ۶۴- ۷۶

9- سهاک محمد هاشم غذا و تغذیه حیواني اثر علمي جهت ترفیع به رتبه پوهاند کابل افغانستان ص ۱۳۶- ۱۴۰- ۱۶

****

نویسنده: دپلوم انجنیر استاد سید گلاب ودان



روانشناسی عبارت از فن و هنریست که معلمان را بخاطر طرح مناسب نصاب تعلیمی را در جهت اخذ تصمیم معقول و صحیح کمک و رهنمائی میکند.

روانشناسی رویش های گوناگون در موارد تربیتی به منظور مطالعه و بررسی مسایل متنوع تربیتی وضع کرده. و هم معلم را رهنمائی میکند چه کار مفید و تربیتی مناسب است و از چه کار ها اجتناب ورزد.

و مهمتر از همه اینست که معلم را به بررسی نتایج و محصول طرز العملش معطوف میگرداند تا به ملاحظه ان در خط مشی در شیوه تدریس و در رهنمائی شاگردانش لحظه به لحظه و سال به سال پیشرفت و رشد مثبت نماید و از اشتباهاتش به نفع خود شاگردان و اجتماع زیاد تر بیا اموزد.

روانشناسی به معلم رهنمائی میکند که باید سوالات و تدریس در تعلیم و تربیه بصورت عموم مشخص، روشن مستقیم و پوس کنده ساده روان عام مفهم بسویه و روحیه برابر مخاطبین و شاملین باشد.

بخاطر تطبیق اصول فوق اولا معلم باید تمام حالات روانی شاگردان دقیقا شناخته و مطالعه کرده باشید و در صورتی مشکلات راه های معقول حل آن جستجو کرده تاهمه جانبه توجه شاگردان اماده تدریسی جدید ساخته تا بساده گی شاگردان ازان استفاده بکنند.

تدریس بشکل جبری نی بلکی تشویقی به شیوه مناسب تربیتی و تعلیمی صورت بگرد.

در همان لحظات اولی روانشناسی که راه را برای تعلیم و تربیه سالم جوامع بشری پیدا کرد توقع از معلمان و اولیا شاگردان داشت تا به استفاده از علم روانشناسی راه های قطعی و چاره های اساسی و علاج ثابت مشکلات و پرابلم های خود بیابند یک عالم معروف روانشناسی بنام ویلیام جمیز میگوید که از روانشناسی نباید توقع داشت که اصول و رویش های تدریسی در مکتب از آن استنتاج شود. بلکی روانشناسی علم و تدریس فن است فن نمیتواند مستقیما از علوم تراوش بکند.

یک مغز متفکر و روشن باید که با استفاده از اصالت روانشناسی خود راه های تطبیق را جستجو بکند. تدریس باید در همه حالت از روي های روانشناسی استفاده کرد و با آن مطابقت داشته باشد.

اما ضرور نیست که ان تدریس یگانه طرز العملی باشد که بروان شناسی مطابقت نماید، اصول وروپشهای مختلف تدریس ممکن است همه با قوانین روان شناسی کم وبیش منطبق باشد روان شناسی مانند دانشمندان دیگر یک موضوع را در یک وقت تحقیق کرده میبینند که مثلا در تحت

بعضی شرایط چه واقع میشود و اکثرا هم این شرایط صنفی و ازمایشگاهی میباشد و زمانی که از چندین تحقیق و مطالعات جداگانه یک طرح جداگانه نظری بوجود می اید انوقت است که به این مطالعات ارزش بیشتر داده میشود و این طرح میتواند را های را در رویشهای تربیتی پیشنهاد کند نتایج یک تحقیق خاص به هیچ وجه نمیتواند اساس و مبدا انکشاف یک تیوری قطعی در مورد تدریس باشد. زیرا برای اینکه درجه تطابق شرایط لابراتواری را با اوضاع و حالات طبیعی بصورت صحیح درک نموده باید شرایط این ادراک باهمه کیف وکان موجود باشد و اکثرا هم نمیتوان این شرایط را فراهم اورده. سوتفاهم و تعبیرات نادرستی که از اهداف و مقاصد روانشناسی علمی صورت گرفته است سبب میشود تا کسانیکه علوم انسانی رامثبت دانش و اگاهی در مورد انسان میدانند لب به شکوه گشانید.

چنانکه گیلبرت هایت در سال (۱۹۵۰م) گفته است: ((این خیلی خطرناک خواهد بود تا اهداف واصول ساینس را بالای انسانها بصورت فردی تطبیق کرد... تدریس باعواطف همراه است و هیجانات نمیتوان بطور سستماتیک ارزیابی کرد و یا انرا نظر به خواسته خود دران بکار بست، گذشته از آن ساینس نیمتوان به ارزشهای انسانی دست بیابد تدریس مانند ایجاد یک عملیه کیمیاوی نیست بلکی تدریس بیشتر به نقاشی شباهت دارد. در تدریس حسن نیت، ایمان و عقیده شامل است معلم باید اذعان (یقین) داشته باشد که تدریس از بکار بستن فرمولها صورت نمیپذیرد در غیر ان معلم هم به خودش زیان میرساند و هم کار خود را بر هم میزند و هم شاگردانش از آن متضرر می گردند)) اینها گفتها است که روانشناسی هم به ان انگشت صحه میگذارد عواطف ارزشها و قضاوتهای انی و عاجل همه از محتویات تدریس بحساب میروند، شناخت و درک ان درجه شناخت و فهم معلم در شاگرد بلند میبرند و در نتیجه تدریس بالغیت به میان میاید، باید علوم طبیعی و بشری متفقا برای ایجاد چنین یک فهم دست بکار گردند و علاوه با همه اینها معلم باید هر نکته را که در مورد سلوک انسانی به آن مواجه میگردد آنرا مهم پندارد.

اما بهترین وارزنده ترین روشهای تدریس را کسانی بمیدان میآورند که در پی انتفاع و بهره گیری از هر منبع ممکنه دانش خصوصا در زمینه های مربوطه مسلک شان باشند. ما در حالیکه باید با قضاوتهای خود که از تماس و تفاهم با شاگردان ناشی میگردد ارزش زیات قایل شویم درعین حال باید در داشتن اعتماد و یقین کامل به آن نیز تا سرحد افراطش نرویم مانباید همیشه این را قبول کنیم که همه قضاوتهای معلم خصوصا که باصطلاح (خلوص نیت) همرا است همه صحیح باشد.

قضاوتها در همه جاها با اشتباهات توام است زیرا بعضا معلومات دست داشته ناکافی بوده و در موارد دیگر انسان تحت تاثیر عواطف و احساسات خود به بعضی از نکات اهمیت بیشتر قایل میشود و نکته های دیگر را که با عواطفش در تضاد واقع میشو نادیده میگیرد به این صورت ملاحظه میشود که بدون جمع اروی و وجود حقایق کافی ولازمه هیچگاه نمیتوان درست تصمیم گرفت و قضاوت صحیح بعمل اورد. از همین جا است که روانشناسی به منظور بر رسی و مطالعه علمی مانند دانشمندان از رویشها و اصول علمی پیروی کرده و از ان در ریسرچ ها و تحقیقات مختلف خود استفاده مینماید.

اسیا

لیکوال: احسان الله ارنیزی
کوه کتونکی: سر محقق نصر الله مومن مڼکل

د نړۍ په هینداره کې

دا د نړۍ د هېنداری په ترڅ کې لومړنی جامع معلوماتی کتاب دی. چې په خپل ډول کې نوی اثر گڼل کیږي. د نړۍ هېنداره په پنځو یا شپږو ټوکونو کې د نړۍ د پنځو یا شپږو (دانتا ارکتیك په گډون) لویووچو په باب پلان شوي عملي او معلوماتی اثر دی چې د هېواد د تکړه محقق. لیکوال، مترجم او برلاسي ادیب محترم احسان الله ارنیزی له خوا یې لیکنه او څېړنه پیل شوې او دادی ددې هېنداری لومړی ټوك د اسیا ترعنوان لاندې ۱۳۷۹ هـ ش کال کې د ساپی د پښتو څېړنو او پراختیا د مرکز له خوا په پېښور کې چاپ شوی دی

دا علمی او معلوماتی اثر په ۷۷۴ مخونو کې ترتیب شوی او د اسیا د لویې وچې ۵۲ هېوادونه پکې په ځانگړې طریقه او ټاکلی میتود څېړل شوي دي. په دې اثر کې څه د پاسه یو سلو پنځوس جدولونه شته او له ۹۲ علمی ماخذو څخه د کتاب په تالیف کې گټه اخیستل شوې ده. دغه راز د څېړل شویو هېوادو نقشې پکی موجودې دي.

کتاب د ساپی د څېړنو او پراختیا د مرکز موسس امام الدین ساپی په سریزه او د پېژندل شوی لیکوال ارنیزی صاحب په مقدمه پیل شوی او د کتاب په پای کې یې یو جامع نوملیك هم راوړي چې د نومونو شرحه او د اصطلاحاتو بیان پکې شوی دی.

د نړۍ د هینداری دا لومړنی اثر په خپل ډول کې د نړۍ د کالنی په بڼه کېنل شوی دی. زموږ په هېواد کې د کالینو لیکل نړدې او یا کلنه سابقه لري، خو دا باید ووایم چې زموږ کالنی زیاتره د افغانستان په اړه د ځانگړو معلوماتو له پاره وقف شوې وې. په داسې حال کې چې محترم ارنیزی صاحب د افغانستان په گډون د اسیا د ټولو هېوادو یوه هراړخیزه کالنی تالیف کړې ده چې په ډېرو نو یو سر شمېرنو ولاړه ده.

دا اثر نه یوازې زموږ د هېواد د کالنیو دود راژوندی کوي. بلکې کالنی لیکنې ته یې نوښت ورکړی او د افغانستان د کالنی پر ځای یې د نړۍ د هېوادونو کالنی. کښلې ده. په دې کالنی کې د افغانستان په اړه نږدې (۹۲) مخونه نوې څېړنیز او احصایوی معلومات وړاندې شوی دی. په داسې حال کې چې د نورو هېوادو په اړه له لسو څخه تر شلو مخونو پورې. د هغوی پر احوالي په تناسب مستند معلومات راغلی دي

هر هېواد په یوه ټاکلی چوکاټ مطالعه شوی او یو منطقی او علم تسلسل ښکاره کوي. لکه چې وښیو د هر هیواد په سرکی طبیعی جغرافیې ته ځای ورکړی شوی دی. په دې برخه کې دیوه هېواد د طبیعی ځرنگوالي ښه انځور شوی او لوستونکی د هماغه مطلوب هېواد په اړه د لـړو ژورو، غرونو. سیندونو او نورو طبیعی مظاهرو بیان کوی. چې په دې برخه کې د هېواد نفوس. اداری ویش. غوره ښارونه. نژادي ځرنگوالی. دین ژبه. حکومت. سیاسی گوندونه. د خپلواکی نېټه. ملي رخصتیانې په ملگرو ملتو کې د غړیتوب مساله. ملی توغ (بیرغ) او داسې نور مطالب راوړل شوی دي. د هېوادونو په اقتصادی برخه کې د هماغو هېوادونو د اقتصاد عمومی حالات. کورنی عایدات. د عایداتو وده. کلنی سری سرعاید، د کورنی سکتور جوړښت، د انفلاسیون نرخ د کار ځواك پانگه. صنعت. د برېښنا تولید . کرنه. څاروي. کانونه. صادرات. واردات. بهرنی پورونه. بهرنی مرستې. ترانسپورټ. د پیسو واحد. مالی کال. مخابرات او داسې نور څېړل شوی دي

د ټولنیزې او اقتصادی ودی ارقام یې هم ذکر کړی دی د ساري په ډول په دې اړه د یوه هېواد د نفوسو د سواد درجه، روغتیایي اسانتیاوې. د نفوسو په سر د عصری لوازمو او

اشياو څرنګوالي او داسې نور ټولنيز او اقتصادي پرمختګ د ډېرونو يو ارقامو په وړاندې کولو سره بيان شوي دي.

د هر هېواد د شرحې په وروستي برخه کې يې تاريخي کتنه هم راوړې چې په لنډ ډول د هماغه هېواد تاريخي پېښې پکې راځي. په تاريخي برخه کې زياته هڅه شوې چې د يوه هېواد تاريخ تردې وروستيو وختو پورې راورسوي او په تاريخي تسلسل کې څه خلا رانشي. دا ډېره غوره برخه ده. چې ليکوال ورته خاصه پاملرنه کړې ده زما په نظر ددې برخې د ليکلو له پاره مولف ډېر زيار ګاللی دی چې د لوستونکو پوښتنو ته ځواب وايي دا هم د يادونې وړ ده، چې محترم ليکوال د اسيا د هيوادونو د ځيرنې څخه د مخه پخپله د اسيا لويه وچه هم په ټاکلي اسلوب او علمي روش شرحه کړې ده چې پکې د اسيا وسعت، موقعيت، جغرفيايي خانګړتياوې. بېلا بېلې جغرافيايي او اقليمي سيمې ژلکه منځنۍ اسيا. شمالي اسيا لويديز اسيا جنوبي اسيا ختيزه اسيا د سړې هواسيمه. د وچه او دښتې سيمه، د موسمي هواسيمه. مديترانه يي سيمه او نژادي څرنګوالی. نفوس. مذهبي. ځيرنه. اديان. ژبې. ټاپوګان. ټاپو وزمې. خليجونه. سمندرونه. جهيلونه. ابناګانې او دداسې نورو بين په مستند ډول راغلي دي.

هغه څه چې د کتاب علمي ارزښت لاپسې لوړوي، د ګڼ شمېر علمي ماخذو شتون دی. ښاغلي ليکوال د خپل کتاب د ترتيب او تاليف له پاره له (۹۲) مستند و ماخذ څخه ګټه اخيستې ده په دغو ماخذو کې د نړۍ د ډېرو معتبرو او نويو کلنيو ذکر هم شوی دی مثال په ډول د Worl Almanac په نمه د امريکا متحدو ايالتونو کالنۍ ده چې په دنيا کې د ډېر شهرت لرونکې او داسې يوه کالنۍ ګڼل شوې. چې په مليونونو تيراژ لري او ډېرنوي او مستند معلومات پکې راغونډيږي.

د کتاب يوه بله موضوع هم د ډېرې پاملرنې وړ بريښي. هغه دا چې د نړۍ او د افغانستان نوي انکشافات زموږ د هېواد په مطبوعاتو کې د يوه کتاب او رسالې يا مجموعې په بڼه چاکښلي نه دي. يوازې کله کله د راپور او اخبار له لارې نړيوالې نوې پېښې په بېلا بېلو زماني وقفو کې اوريدل شوې. خو زموږ هېوادوال د هغو بشپړ تصوير نه لري. قدرمن ليکوال زياته هڅه کړې چې د ټولو اړوندو هېوادو په اړه هر ډول تاريخي، اقتصادي، سياسي او بشري مسايل ترنن زماني او اوسينو کلونو پورې راورسوي. ان چې د راتلونکي څو کلونو اټکل يې هم وکړي.

ددې له پاره چې د کتاب ارزښت لاپسې جوت شي. نبه به داوي چې په هغه کې د ځيرل شويو هېوادونو د ځينو مشخصاتو او نويو انکشافاتو په اړه څه ناڅه رڼا واچول شي د اذربايجان د جغرافيي په اړه د بشپړ معلوماتو ورکولو وروسته. ددې هېواد د تاريخ اړه دا غوره مطلب راغلي چې دا هېواد د هخامنشيانو له زماني څخه د قاجاريانو تروخته د ايراني سيمو يوه برخه وه او د ترکمانچان او ګلستان د تړونونو په اساس له ايران څخه جلا او تزاري روسيې په امپراتورۍ پورې وتړل شو. په ۱۹۹۱ کې د شوروي جمهوريتونو د اتحاد په ړنګيدو سره خپلواک شو.

د اسيايي هېوادو په لړ کې اردن دويم هېواد دی چې په دې اثر کې يې بيان شوی دی. ددې هېواد د جغرافيايي ځيرنې وروسته راغلي چې اردن د نړۍ د ډېرو لرغو هېوادو په لړکې دی چې پخواني اوسيدونکي يې کنعانيان وو او د خلکو له نن څخه پنځه زره کاله وړاندې دلته استوګنه غوره کړې وه په دغه هېواد کې د مصريانو. بابليان. اثوريانو. کلدانيانو. فارسيانو او يونانيانو واکمنۍ تيرې شوې دي. په اسلامي دوره کې لومړی د عباسيانو او بيا د مصري فاطميانو په لاس کې و لويد او تر ۱۵۱۶ پورې يې پرې حکومت ... لود او په همدې کال عثماني ترکانو په يوه جګړه کې ونيو او د نونسمې پيړۍ ترپای يې په هغه واکمني وکړه. په نونسمه پيړۍ کې د ترکيې د امپراتورۍ په وړاندې عربي ملکونو کې ملي غورځنګونه پياوړي شول او د لومړۍ جګړې په پيل کې انګريزانو عربي نشنلستيانو سره ژمنه وکړه چې که هغوی د انګريزانو په مرسته ودريږي. ددوی په خپلواکۍ کې به مرسته وکړي. نو په دې توګه د عربي نشنلستانو مشر شريف حسين ته د عربستان په ټاپووزمې کې د حجاز زياته برخه په خپلواکه توګه ورکړې شوه. په ۱۹۱۷ کې د شريف حسين زوی امير فصل د عقبې سيمه ونيوه او د ۱۹۱۸ کال په اکتوبر کې سوريه. اردن او فلسطين د عربو او انګليسانو په لاس کې ولويدل.

په ۱۹۲۱ کې د شريف حسين دويم زوی د اردن د پورې غاړې امارت جوړ کړ او په ۱۹۲۳ کې چرچيل د اردن د پورې ختيزې غاړې خپلواکي په دې شرط ومنله. چې اردن د انګريزانو سره په بهرنۍ پاليسۍ کې مشوره وکړي. د ۱۹۳۴ -۱۹۳۹ ترمنځ د امير عبدالله خپلواکي لږ څه نوره زياته شوه او د ۱۹۴۶ په مارچ کې انګريزانو د هغه حکومت په رسميت وپيژاند په ۱۹۰۱ کې دده تر وژنې وروسته دده زوی شهزاده

حسين پاچا او په ۱۹۹۹ کې تر (۵۰) کاله پاچاهۍ وروسته مړ او په ځای يې زوی ملك عبدالله بن حسين پاچا شو.
په دي اثر کې دريم هيواد ارمنستان بيان شوی او د هغې په تاريخ کې راغلي چې دا هيواد په ۱۹۲۰ کې له شوری اتحاد سره ګډشو او ددې هيواد کمونست ګوند واګې ترلاسه کړې. خو په ۱۹۹۱ کې د شوروي په ړنګيدو سره هغه خپلواك دولت شو. ددې هېواد حکومت تر خپلواکۍ وروسته د اذربايجان سره اناګورنو قره باغ په سر شخړه شته او تراوسه حل شوې نه ده.
څلورم هېواد ازبکستان دی چې د اثر مولف د هغه په جغرافيايي حالت او اقتصادي مسالو بحث کړی دی. خو د تاريخ په اړه يې دا ذکر کوی چې دا هېواد يوه لرغونی سيمه ده. ازبکستان د منځنۍ اسيا او اسلامي تمدن له مهمو مرکزونو څخه شمېرل کيږي. له ميلاد څخه شپږ پيړۍ پخوا د هخامنشي امپراتورۍ موسس دا سيمه د منځنۍ اسيا د نورو سيمو په ګډون ونيوله. سکندر مقدوني او بيا يونانو باختری دولتونو د اوسنی ازبکستان ځمکه نيولی ده. له ميلاد څخه اوه يا اته پيړۍ وروسته عربو دا هېواد ونيو. او د نهمي پيړۍ په پای کې د سامانيانو دولت دلته منځ ته راغی. په ديارلسمه پيړۍ کې چنګيزي لښکرې په دې هيواد وروختې او هغه د تمدن نښې نښانې يې له خاورو سره برابرې کړې. په څوارلسمه ميلادی کې د تيمور دواکمنۍ په مهال ددې هېواد حالت يو څه ښه شو. مولف وايي چې ددې پيړۍ په پای کې تورکانو او تور کې قبيلو په ازبکستان کې د لوټ بازار تود کړ او په پای کې په ۱۸ پيړۍ کې په دې هېواد د بخارا امارت واکمن شو.
د نونسمي پيړۍ په شپږمه او اومه لسيزه کې دا ښيراز هېواد د روس تر امپراتورۍ لاندې راغی. له بلشويکی انقلاب نه وروسته دا هېواد دلنين په امر په يوه خپلواك جمهوريت بدل شو په ۱۹۲۵ کې د شوروی اتحاد د يوه جمهوريت په توګه وګرځيد او په ۱۹۹۱ کې د شووري اتحاد په ړنګيدو سره يې بيا خپلواکي ترلاسه کړه.
پنځم هېواد اسرائيل دی چې مولف پرې ښه رڼا اچولی ده: يهود او اسرائيل په عبری قبيلو کې راځی چې له ميلاد څخه ديارلس پيړۍ پخوا د فلسطين په اوسنۍ سيمه کې چې هغه وخت کنعان بلل کيده، ميشت وو. دا وخت دا قبيلې د فرعونيانو له خوا اداره کيدې له ميلاد څخه لس پيړۍ مخکې د حضرت داود او وروسته حضرت سليمان (ع) په مشرۍ ددوی دولت جوړ شو او دواړه قبيلې د يوه دولت په مشرۍ تر سلو کلونو متحدې وې. خو وروسته د يهود او اسرائيلو په دوو دولتونو وويشل شوې. له ميلاد څخه ۷۲۰ کاله مخکې د اسرائيلو دولت د اثوريانو او ۵۸۶ ږله مخکې د يهودو دولت د بابليانو په واسطه له منځه لاړ او عبرانيان له دغې سيمې څخه وکوچيدل. د بابليانو د واکمنۍ ترپای ته رسيدو وروسته يو شمېر يهوادان خپلې سميې ته راغلل او د نورو سيمو په څاځوا کې يې يو وړوکې دولت جوړ کړ. خو تر لومړۍ ميلادی پيړۍ وروسته دا وړوکې دولت د روميانو له خوا ړنګ او يهودان بياوکوچيدل او ددوی په سيمه د فلسطين قوم په ګډون بېلا بېل عربی قومونه مسته شول او ددوی سيمه د يوی عربی سيمی په توګه وګرځيده. ناپيليون بوناپارت د عربو د مقابلې لپاره د هيواد او اسيايي وګړيو يو لښکر جوړ کړ او په فلسطين يې ور ودانګل. د ۱۸۴۰-۱۸۴۸ کلونو ترمنځ فرانسويانو. المانيانو او انګليسانو ټولو په عربی منځنی ختيځ کې. د خپل واك د پايښت له پاره د يهودانو د يوه دولت له جوړيدو سره مينه وښوده او د يهودو د ميشته کيدو له پاره يې په فلسطين کې د ځمکې په اخيستلو پيل وکړ. ډېر يهودان په يهوديه. جليليه. يورشليم. صفد چې د فلسطين د خاوری پرته بل ځای د خپل يهودی دولت د جوړولو له پاره نه منی.
په لومړۍ نړيواله جګړه کې چې څه هم انګريزانو د المان سره د جګړې له امله د عربو ننګه کوله او د فلسطين په ګډون يې د يوه پياوړی عربی خلافت د جوړيدو اعلان کاوه. خو ترجګړې وروسته يې بيا د يهودو ملاتړته د او د انګل او په ۱۹۲۰ کې يې د فلسطين ځمکوته د يهودو د کوچيدو فرمان صادر کړ. په يوه لسيزه کې زيات يهودان د فلسطين سيمې ته راورسيدل: د دويمې نړيوالې جګړې په اوږدو کې له المان او نور ځايو څخه د يهودانو ستنيدل د امريکا په مرسته زيات شول او په ۱۹۴۹ کې د فلسطين په خاوره کې د يهودو دولت جوړ او امريکا په رسميت و پيژاند. په ۱۹۵۶ کې د مصر د کانال (سويز) په ملي کيدو سره اسرائيلو. فرانسې او انګلستان په مصر يرغل وکړ. و دا ځل دروسيې په هلو ځلو دا ستونزه پای ته ورسيدله په ۱۹۶۷ کې د اسرائيلو او عرب تر منځ بله جګړه وشوه او د سينا ټاپووزې مې او د سوريې د ګولان د لوړو په ګډون يو شمېر سيمې اسرائيلو لاندې کړې. په ۱۹۷۳ کې د عربو او اسرائيلو بله جګړه ونښته او مصر د سينا ټاپووزمه بيرته ونيوله. په ۱۹۷۷ کې د اسرائيلو او مصر ترمنځ د سولې تړون وشو. خو

تراوسه پورې د فلسطین د یوه بشپړ خپلواك دولت کشاله پای ته رسیدلی نه ده.

لکه چې د مخه مو وویل د افغانستان شرحه په ډېر تفصیل سره ددې کتاب د مولف له خوا د اسرائیلو د تاریخ له شرحې وروسته راغلې ده. لوستونکی کولی شي دا برخه په تفصیلي توګه په دې اثر کې ولولي او دلته زه دومره یادولی شم چې محترم ارنیزی په دې اړه زیاته هڅه کړې چې نوی معلومات سر شمېرنې درج کړي. د بېلګې په ډول په ۱۹۹۸ کې د افغانستان نفوس ۲۴۷۹۲۳۷۵ تنه ښکاره کوي او په دې اړه یې یو دیموګرافیك جدول هم کښلی دی. همدا راز ذکر کوي، چې د افغانستان د طالبانو ننی حکومت د هېواد په سلو کې ۹۰ برخه په لاس کې لری او د امارت مشر ملامحمد عمر په کندهار کې د (۱۵۰۰) تنو علماوو په جرګه کې د امیرالمومنین په توګه وټاکل شو. د وزیرانو او رئیس الوزرا د نومونو ذکر هم کوی او د هیواد اوسنی وزارتونه یې په یوه جدول کې ښکاره کړي دی.

محترم لیکوال وایي چې ټولې ټاکنې د امیرالمومنین په فرمانونو کیږی او ولسی جرګه او د مشرانو جرګه په افغانستان کې سمدلاسه نشته. ټولې امارتي چاری د اسلامی شریعت په اساس وړاندې ځي. دغه راز په دې اثرکې د مجاهدینو ګوندونو او د هغوی د مشرانو یادونه شوې ده.

ایادونې وړ ده چې زموږ د هېواد طبعی او اقتصادی جغرافیه په تفصیل سره بیانوي او هڅه کوی چې د نویو ارقامو او معلوماتو په رڼا کې وڅیړل شي. زه ویلی شم چې لیکوال د افغانستان په اړه ډېر ګټور او په زړه پورې انسایلکو پیډیك اطلاعات راغونډ کړي دي.

عربی امارات اووهم هیواد دی چې په دې کتاب کې پری بحث شوی دی. د طبعی، بشری او اقتصادی جغرافیې تر شرحې وروسته د عربی اماراتو تاریخ بیانیږي او په هغه کې راغلي دي، چې ددې سیمې ډېر ځنډن تاریخ روښانه نه دی او یوازې دومره وایي چې له میلاد څخه ۱۲ یا ۱۳ پیړۍ د مخه د عربستان د ټاپو وزمی د منځنۍ برخې کوچیانو ددې سیمې په ګډون د فارس د خلیج په غاړو یرغل وکړ او دا ځایونه یې ونیول.

په ۳۲۳ ق.م کې سکندر مقدوني دا ځایونه لاندې کړل. وریسې په ۱۷۴-۱۳۶ ق.م کې اشکانیانو او بیا د اسلام تر راتګ پوری ساسانیانو د فارس د خلیج د سویلی سوا حلو اداره په لاس کې وه.

د ساسانیانو وروسته سیمه ییز و شیخانو په خانخانیزه توګه داسیمې کنټرولولې او په دولسمه میلادی کې سلجوقیانو او بیا اتابکانو دا ځایونه ونیول. د عثماني امپراتوری په سبب د شرق او غرب ترمنځ تجارتي لاره و تړل شوه. نو پرتګالیان او بیا هالنډیان او انګریزان دې سیمو ته راغلل او په ۱۷۶۶ کې د پرتګالیانو په وتلو سره انګریزان د خلیج په دې سیمو لاسبري شول. خو په ۱۸ پیړۍ کې د ال سعود او وهابیانو د نفوذ په پراخیدو سره دا سیمې د انګریزانو له لاسه ووتې. خو انګریزانو د سمندری غلاوو په پلمه بیا په ۱۸۱۸-۱۸۱۹ کې داسیمې لاندې او دسیمه ییزو شیخانو سره یې د سولې یو تړون لاسلیك کړ. د نونسمې پیړۍ په پای د خلیج ټول شیخ نشین دولتونه د انګریزانو تر ملاتړ لاندې راغلل په ۱۹۶۸ کې د ابوظبی او دوبی مشرانو د فارسی د خلیج د اماراتو فدراسیون اعلان کړ او د قطر او بحرین له مشرانو څخه وغوښتل شول. چې په دې فدراسیون کې شامل شي. خو په ۱۹۷۱ کې بحرین او قطر له فدراسیون څخه ووتل او خپلواك شول. د ۱۹۷۱ کال د دسمبر په دویمه نیټه د اماراتو په اتحادیه کې ابوظبی، دوبی، شارجی، ام الکوین، عجمان او فجیری د یوه خپلواك دولت په چوکاټ کې خپلواکی ورسیدل.

اندونیزیا اتم هیواد دی چې په دې اثر کې یې سرحه راغلې ده اندونیزیا د ټولې نړۍ لومړی ستر اسلامي دولت دی چې د ۱۹۹۹ کال سر شمېرنې له مخې ۲۱۶۱۰۸۳۴۵ کسه نفوس لری او د پراخوالی له مخې د نړۍ دیارلسم ستر هیواد ګڼل کیږی.

د اندونیزیا اوسنی وګړی ځایي اوسیدونکی نه دی. بلکې وګړی نږدی څلور زره کاله وړاندې له چین څخه دلته راغلي دي. په څوارلسمه پیړۍ کې ددی خلکو یوه پاچا موجاپاهیت تر فلیپین او کمبودیا پورې یوه لویه امپراتوری جوړه کړې وه.

د اروپایانو په لړکې لومړی پرتګالیان او بیا په ۱۶۶۶ کې هالنډیان په دې هیواد مسلط شول. دویمه نړیواله جګړه کې اندونیزیا المان ونیوه او په ۱۹۴۲ کې دا هیواد جاپان ونیو. اندونیزیا د جاپان ترماتې وروسته د ۱۹۴۹ کال د می په ۲۷ نیټه له هالنډیانو څخه خپلواکي وګټله. په ۱۹۰۶ کې سوکارنو د هیواد جمهور رئیس شو او په ۱۹۶۰ کې سوهارتو د کور تاله لاړي واك ترلاسه کړ، خو په ۱۹۹۸ کې دا پوځي دیکتاتور پای ته ورسیده روبی جي، حبیبی جمهور رئیس شو.

پاتې په (۴۲) مخ

دودانۍ

روبوټ د اومر له اداري څخه



افغانستان په څیله

د اومر هڅې

اومر موسسه په هېواد کې د ماین پاکۍ، ماین خبرتیا او بیا رغونې چارې پر مخ بیائي د ماین پاکۍ په ساحه کې درې ۱۱ کسیز میخانیک ټیمونه لري چې د جنوري له پیله یې تر اوسه ۳۰۵۴۰۰ متر مربع ځمکه پاکه کړې. چې پکې له دې جملې څخه ۸۲۹۵۰ متر مربع کرنیزه ځمکه او ۲۲۲۴۵۰ متر مربع د استوګنې سیمه پاکه شوې ده. د دې کار په دوران کې د اومر ډیماینرانو ۹۷۹ د پرسونل ضد ماینونه او ۲۴۵ بیلابیل ډوله ناچاوده توکي پیدا کړي او له منځه وړي دي.

همدا راز د هرات په ښار کې د May 2002 میاشتې را پدې خوا د اومر دوه نوي ټیمونه (EOD) جوړ شول چې د غټو بمونو او ناچاوده توکیو په لمنځه وړلو ګمارل شوي او تر اوسه یې تقریبا ۶۵۴۰ بیلا بیل ډول ناچاوده مهمات تخریب کړي. پردې سربېره لس ۳۲ کسیز د ماین پاکې ټیمونه هم چې د HITACHI د ماین پاکې په ماشین سمبال دي خپل فعالیتونه سرته رسوي چې له ۲۷.۳ کیلو متر مربع د ماین او ۱۴.۵ کیلو مترمربع د جنګ ساحه پاکه کړې چې پدې ساحه کې ۶۷۹ د ټانګ ضد ماینونه ۳۵۱۲۱ د پرسونل ضد ماینونه او ۱۱۲۰۰ مختلف نوعه ناچاوده مهمات پیدا کړي او تخریب کړي دي.



د ماین پاکۍ په ساحه کې د خینو ستونزو په اړه د اومر موسسې مرستیال ډپټي اپریشن ښاغلی زکریا پاياب وايي چې:

مونږ د ماین فیلډ په ساحه کې خینې ستونزې لرو چې حل یې مرسته کوونکو هېوادو ته مشکل نه دی خو داچې زمونږ په وس نه ده پوره ځکه نو یو لړ ستونزې لرو مثلا خینې ساحې چې د ماین بیلابیل ډولونه لري یعنې په یو ماین فیلډ کې د پرسونل ضد څخه نیولې د ټانګ ضد او (UXO) ناچاوده مهماتو پورې ټول موجود وي زمونږ ماین پلټونکې اله (ماین ډیټیکټر) د دې توان نه لري چې دا ټول کشف کړای شي ځکه اکثره یې پلاستیکي وي چې کشف یې ستونزمن وي او بله داچې د پرسونل ضد ماینونو او د ټانګ ضد ماینونو د پاکولو کیفیت او ترتیب توپیر لري ځکه زمونږ ماین پلټونکې اله (ماین ډیټکټر) اصلا وسپنه پلټونکې اله ده چې مونږ ته په



یوې وړې چړې هم د ماین په څیر شوي یا داچې اضافه خاوره پرې

له جنوري نه را په دېخوا زموږ تول کار په لاندې لنلیك کي متاسي مخ ته ږدو

: دې تر څنګه اوسپنیزو وړو چړو موجودیت په ساحو کې د دیمانرانو او ماین پاکانو کار مشکل کړی ده. څکه ماین پاکان د هرې چړې سره باید داسې چلند وکړي او هغه مصئونې لاري ورته په نظر کې ونیسي کوم چې د یو ماین لپاره په نظر کې نیول کېږي.

د پورتنیو ستونزو سربېره د متداومې او منظمې بودیجې نشتوالی هم د ماین پاکي پروسه زیانمنه کړېده دا څکه کومك کوونکي هېوادونه هر یو د یو معین وخت یعنې یو کال یا د

Monthe of the year	Mined area	Cluster area	Battle area	AT	AP	UXO	Cluster BLU97
	Cleared area (sqm)			Devices destroyed			
January	73,661	224,320	1,402,444		50	2,325	3,635
February	8,723	122,600	558,800		47	842	2,179
March	39,776	166,533	371,500		64	3,835	7,765
April	144,703	718,489	30,022		170	3,255	1,407
May	39,931	66,025	230,900		82	519	71
June	155,901	20,611	301,600		152	315	87
July	290,404	5,000		2	236	93	15
August	55,687	12,000		1	86	19	12
September	1,493,900	68,000		13	242	874	22
Total	2,254,235	1,403,578	2,895,266	16	1,129	12,077	15,193

اطلاع راکوي داسې ستونزې هم شته چې په په یو ماین فیلډ کې درې ماین فیلډونه یو ځای شي مثلاً په یوه سروې شوې ساحه کې سړك، د کرهنې ځمکه او ویاله درې واړه موجود وي چې د هرې ساحې دپاره ځانګړي وسایط پکار دي چې هغه په یوه وخت کې د یوې موسسې په لاس کې نه وي.

همدارنګه په خینو د اوسیدو په ځایونو کې لکه وران شوي کورونه او په ماین لړل شوې ویالې چې هلته ماینونه د ۲.۵ مترو څخه ژور پټ

راغلې د باکوتیم (میخانیك تیم) نشي کولای هغه راوباسي او پاك یې کړي.

هغه څخه کم وخت لپاره کومك کوي چې هغه هم د کال په پیل کې وي. دې مسلې د ماین پاکي پروګرام ته دا



ستونزه رامنځ ته کړي چې مونږ نشوکولای یو منظم د اوږده مدت پلان جوړ کړو.

خو له دي سره سره مونږ هڅه کوو د پاکولو د پروسې د چټکتیا له پاره خپني بېرنی لازې پر وړاندې ونیسو او د خپل غم خپلي افغان ولس د حیات او ژوند د ساتلو پخاطر دغه غم ژر له هېواده ورك کړواوس چې د ماین د بشپړ بندیز په اړه د اوټاوا تړون لاسلیك شو که خدای کول ډېر ژر به د یو ډاډمن افغانستان خاوندان شوپه همدي امید زمونږ هڅې دوام لري. همداراز اومر موسسي د ماین خبرتیا د څانګې له خوا چې د هېوادوالو د ژوندانه د ژغورنې په خاطر د ماین له ګواښونو څخه دخبرتیا تعلیمي پروسه پرمخ بیایي او د ډېرو هېوادوالو ژوندوانه ته یې د خپلو هڅو په نتیجه کې ژغورنه ور په برخه کړې د هېواد په بېلابېلو ولایاتولکه ننګرهار، پکتیا، هرات، بادغیس، غور، بلخ، کندوز، بغلان، تخار، بدخشان، جوزجان، سرپل، فاریاب، قندهار او کابل په کلیو، ښوونځیو، بازارونواو......

کې د ماین خبرتیا پروګرامونه په اغیزمنه توګه خلکو ته رسوي. د ماین خبرتیا د څانګې پراجکټ منیجر ښاغلي ډاکټر حضرتي امن مجلې ته وویل:

سږ کال د مهاجرینو دراستنېدا له امله زمونږ ماین خبرتیاپروګرام تر پخوا پراخه او پیاوړي شوي دي د اومر د ماین خبرتیا په ۱۹ ټیمونو سربېره ۱۴ ټیمونه نور ښونځي ته د ستنېدا د کمپاین (Back to school compaine) په نامه دهېواد په شمالي ولایاتو (بلخ، بغلان، کندوز، تخار، بدخشان، جوزجان، سرپل او فاریاب) او د جنوب لویدیز زون په ولایاتو (هرات، بادغیس او غور) کې د ماین خبرتیا پروګرامونه په ډاډمنه اواغیزمنه توګه پرمخ بیایي پدي لړکې نږدي یو ملیون کډوالو ته چې له ایران اوپاکستان ته خپلو سیمو ته راستنېږي دماینونو دخبرتیا درس ورکول شوی په داسې حال کې چې نوموړې سیمې څه پخوا او څه له سپتمبره په راوروسته بمباریو کې پر ماینونو ککړې شوي او خایي خلکو ته یې ډول ډول ستونزې ایجاد کړي دي دغه ماینونه جلا جلا بڼې او جلا جلا خانګړتیاوې لري په ځانګړي ډول وروستني کلاستر بمبکي چې د وروستیو بمباریو پر محال پر نظامي او مشکوکو ځایو اچول شوي دي په دې اړه موږ ته د رارسیدلو راپورونو له مخې د دغې کلاستر بمبکي زیان، ګواښ او صدمه تر پخوانیو څو برابره ډېر ده ددې له پاره چې کډوال د ماینو له ګواښه خبر شي او خطري او بی خطره سیمې وپېژني. نو د ملګرو ملتونو د اداري او نړیوالو مرسته کوونکو پر هاند او هڅه اومر موسسې خپلې هڅې تر پخوا پراخې او پیاوړې کړې دي. په دي لړ کې پر پخوانې تګلارې سربېره یې دکډوالو دمرستې تم ځایونو کې د ماین خبرتیا او ماین ننداړتونو ته ډېره پاملرنه کړې ده او دغه پروګرام ته یې د کډوالو دمه ځایونو او لویو سرحدونو کې پراختیا ورکړې دي. دغه ننداړتونونه چې د ماینونو ډولونه خطري او بې خطره ساحې د خطر او بې خطری نښې او پاکي او ناپاکي لارې را ښایي دتکړه مسلکي غړو لخوا په ګرنیزاو ننداریز (مشاهده) ډول خلکو او کډوالو ته تشریح کېږي دغه ماین خبرتیا فعالیتونه له هېواد نه بهر د پاکستان په تخته بیګ، نواپاس، ناصرباغ کیمپ او د پنډۍ د مهاجرینو په پنډغالو او زاخیل د هېواد دننه په ننګرهار (مومندره) د هرات د انجیل ولسوالی د کندهار سپین بولدك د کابل د پلچرخي په سیمه کې کډوالو





تـه وړانـدې کـېږي د UNHCR او یونیسف په مرسته یو شمېر ماستر ټرینران د مختلفو ولایاتو په ښوونځیو کې دلاژر خبرتیا لپاره پر کار بوخت او سربیره پردې د کابل (پلچرخي)، د قندهار (سپین بولدك)، د هرات انجیل ولسوالۍ او ننګرهار مومندرې مرکزونه ډېر ستر او پراخه فع الټیونه نه کوي ځکه چې د ځو ولایاتو د کډوالو لار پرې سپره ده اوټول ددغو مرکزونو څخه تیرېږي ددې پرته په هرات کې په اونۍ کې یو وار د ماین خبرتیا پروګرام ډرامې چې د ماین په اړه خوږې او په زړه پورې اغیزمنې تمثیلي پارچې پکې شاملې دي د تلویزیون له لارې ښول کېږي او په زرګونو وګړي چې تلویزیون لري ددې پروګرام څخه ګټه اخلي او په کابل کې دماین خبرتیا ښځینه ټیمونو دخوانانو دخبرتیا له پاره دتلویزیون له لارې هنري فلمونه ترتیب او وړاندې کړي چې هېوادوالو سره یې دماین په پېژندنه کې ډېره مرسته کړېده د روان کال له جنوري څخه د اپریل تر اخره د اومر موسسې د ماین خبرتیا ځانګې د خپلو فعالیتونو په لړکې ۴۵۶۰ کورسونه دایرکړي چې ددې په ترڅ کې یې ګڼ شمېر هېوادوال د ماین له ګواښ او بنې څخه خبر کړي پدې برخه کې ویلای شو چې په مجموعې ډول ۱۱۲۲۸۵ نارینه ښځینه او کوچنیان شامل دي.

داومر د موسسې د ماین خبرتیا پروګرام په دې لړکې ۵۰۰۰۰ بروشر ۶۰۰۰۰ پوستر څه د پاسه یو لاکه کتابچې ۵۰۰۰۰ سلك سکرونونه او نور مواد د کډوالو او نوروخلکو د خبرتیا له پاره په وړیا ډول ویشلي دي. په پاکستان کې دماین خبرتیا پروګرام د UNHCR دخینو مالي ستونزو له امله دسپتمبر دمیاشتې راهیسې بند شوی چې موږ هڅه کوو دغه دغه پروګرام بیا پیل شي ترڅو دکډوالو له پاره د ماین خبرتیا مسله حل شي دماین خبرتیا پروګرام دمنظمې ارزونې له پاره دلاپرمختګ له پاره دکنترول له لارې هڅې پرمخ رواني دي.

اسیا د نړۍ په ...

ایران د څېړنې په ترڅ کې نهم هېواد دی چې په ټوګه بیان شوی دی. ایران د نړۍ شپاړسم لوی هېواد ګڼل کېږي چې په ۱۹۹۸ کې یې د نفوس شمېر (۶۸۹۵۹۰۰۰) کسو شمېرل شوی دی. ددې هېواد دیني مشر سید علي حسیني خامنه ای دی چې د ټول عمر له پاره د خبره ګانو د مجلس له خوا ټاکل شوی او جمهور رئیس علي خاتمي د خلورو کلونو له پاره د خلکو په رایو په ټاکل شوی دی. وزیران د جمهور رئیس په وړاندیز او د پارلمان په منظورۍ ګومارل کېږي. په ایران کې د سیاسي ګوندونو اجازه نشته. یوازې د اسلامي انقلاب پلوي ځو ډلګۍ فعالیت کوي. ایران چې پخوا پارس بلل کېده، ډېر زوړ اولرغوني تاریخ لري. په ایران باندې له بهر څخه یونانیانو، اتوریانو، عربو، مغولو، رومیانو، عثمانیانو، افغانانو هونانو او هپاکلیه وو حکومتونه کړي دي، خو پخپله ایران هم د ډېر ولویو امپراتوریو لکه هخامنشیان او ساسانیانو او نورو مرکز و. سربېرن ددې د هېوادو په لړکې لسم هېواد دی چې تر څېړنې لاندې راغی. دا د نړۍ یو سلو پنځه پنځولسم کوچنی هېواد او نفوس یې د ۱۹۹۹ کال د جولای د سر شمېرنې له مخې ۶۲۹۰۹۰ که و. دا خاوره د میراثي پاچاهي سیستم په توګه یو حکومت لري او سیاسي ګوندونه پکې بند دي. له اسلام څخه مخکې تر ۱۳ پېړۍ پورې له بصرې څخه تر عمان پورې ټولې سیمې د بحرین په نامه یادېدې. په ۱۲۵۳ کې بحرین خپلواک دولت و، خو وروسته پرتګالیانو او پارسیانو په دې خاوره حکومت وکړ او په ۱۷۸۳ کې د بني عتبه د قبیلې مشر احمد بن خلیفه چې احسا څخه کویټ ته مهاجر شوی و، په بحرین برغل وکړ او دا خاوره یې ونیوه او د هغه کورنۍ تراوسه په دې خاوره حکومت کوي. د برما د هېواد طبیعي، سیاسي او اقتصادي جغرافیه د نورو مدارکو او اطلاعاتو په رڼا کې ددې کتاب د څېړنې پله موضوع ګڼل کېږي. د پراخوالي له مخې دا هېواد دنړۍ اته دیرشم لوی هېواد دی چې د ۱۹۹۹ کال د شمېرنې له مخې د ۴۸۰۸۱۳۰۲ نفوس لرونکی دی.

د برما پخوانی تاریخ د افسانو ره ګډ دی او اوسني اوسېدونکي یې په ۶۳۳ کې له تبت او چین څخه دلته راغلي دي. په یوولسمه پېړۍ کې برما د اناوراتا دواکمنۍ په وخت کې د لومړي ځل له پاره د یوې واحدې اداري لاندې راغله او بودائي دین په ټول هېواد کې خپور شو. په ۱۲۸۷ کې مغولو په برما یرغل وکړ او دا کوچنی هېوادونه په خپله امپراتورۍ پورې وتړل. د اسلام مبارك دین په پنځلسمه پېړۍ کې برمانه ورسید او د لوډیزو سیمو خلك یې مسلمانان شول. له ۱۵۳۱ څخه وروسته تر ۱۸۸۵ پورې په دې هېواد کې دوه سلسلې پاچاهي جوړې شوې ترڅو.

نور په بله ګڼه کې

برگردان: محمد اعظم (حیدری)

پراسس و نگهداری مواد غذایی

یک ارزیابی در مورد نفوس و مواد غذایی گرسنگی دشمن دیرینه انسان است که بایستی بر آن فایق آمد. باید گفت که در حال حاضر بیشتر از یک بلیون انسان شبانه گرسنه بخواب میروند و یک بلیون انسان دیگر درست تغذی نمیشوند.

مبتنی بر راپور سازمان ملل متحد نفوس جهان بتاریخ ۱۲ اکتوبر سال ۱۹۹۹ به شش بلیارد نفر میرسد.

با در نظر داشت ادامه رشد کنونی نفوس چنین معلوم میشود هرگاه تمام منابع که مولد مواد غذایی هستند بصورت درست تنظیم و مورد استفاده قرار نگیرد فاجعه بزرگی کشور های آسیا، خاورمیانه و امریکا لاتین را تهدید خواهد کرد.

ولی ازایام بسیار قدیم بدینسو نگهداری إذا به شیوه های مختلف طبق در گوشه و اکفاف جهان صورت گرفته است. اگر چه میتود های علمی نگهداری إذا به شیوه های مختلف طبق در گوشه و اکفاف جهان صورت گرفته است اگر چه میتود های علمی نگهداری غذا مواد غذایی از ۱۵۰ سال به اینطرف انکشاف نموده.

بهر حال در پهلوی انکشاف سایر صنایع در عرصه نگهداری مواد غذایی نیز انکشاف تکنالوژیکی سریع بویژه بعد از وقوع پیوستن جنگ جهانی اول صورت گرفته و اما وقتی بوجه که باید ذخایر بزرگ سبزیجات، میوه ها، گوشت و غیره برای قوت های نظامی را تهیه بدارند.

یکی از مشکلات عمده که در مورد رشد صنایع پراسس و نگهداری مواد غذایی در سر راه بود همانا فقدان دانش مکفی در مورد روش های عصری و تکنالوژی عصری برای حفظ و نگهداری مواد غذایی بوده است.

بکار میرود موفقانه روش ها و تکنالوژی نگهداری مواد غذایی میتواند بتعداد ملیون ها انسان گرسنه را در جهان تقلیل دهد درین رابطه سازمان ملل متحد و سایر سازمان های بین المللی می کوشد که رشد نفوس را محدود سازندو از ذخایر کنونی مواد غذایی جداعظمی استفاده کنند گفته میشود که تمام انواع مواد غذایی پراسس شده کنونی غذایی آینده نفوس را تشکیل خواهد داد مواد غذایی متذکره تا بحال از منابع بوجود آمده که کمتر در مورد آن تجسس و تحقیقات صورت گرفته است این منابع را میتوان چنین ذکر کرد:

۱- غذاهای که منبع حیوانی و نباتی دارند و از دریاها وجویبارها بدست می آید.

۲- غذاهایکه از ساحه وسیع نباتات و حتی بدست می آید که تاکنون این غذاها در پاکستان یا تجسس نه شده و یا بخاطر ارزش غذایی ایش مورد تحلیل و تجزیه قرار نگرفته است.

۳- غذاهاییکه از منابع دیگر غیر از حیوانات و نباتات عادی بدست می آید.

الف: خمیرمایه های فنگسی و بکتریاها که در تولید غذاهای مختلف مورد استفاده قرار میگرد.

ب: سمارق ها که امکان استفاده بزرگی از آن موجود است.

ج: نباتات که از حجرات متعدد یکجا شده در آب های تازه و نشور بوجود آمده باشد مانند الجی ها و پلنگتن Plankton دیاتم ها Diatoms و غیره به اساس اداره انکشافی صنایع سازمان ملل متحد صنایع اغذا و تولیدات مربوطه آن بزرگترین صنایع پاکستان است.

این صنایع تقریبا ۲۷ فیصد ارزش اضافی صنایع را تولید میکند ارزش اضافی ایجاد شده در شاخه های مختلف پراسس مواد غذایی در سال۱۹۹۳ به ۵.۳ بلیون دالر میرسید.

پراسس مواد غذایی یک صنعت بسیار مهم سرمایه وی بود و سهم اجرتی ارزش اضافی در آن فقط ۲۵ فیصد میباشد.

سهم استخدام جهت تولید مواد غذایی در استخدام عمومی تولیدی از ۱۲.۳ فیصد که در اواسط سال ۱۹۷۰ بود به ۲۰ فیصد در حال حاضر بلند رفته است بهر حال ارقام متذکره ممکن است ارائه دهنده خوب موضوع نباشد به علت اینکه در صنایع مواد غذایی اکثرا از کارگران کوتاه مدت و نامنظم کار میگرند که این کارگران در احصائیه های رسمی راجستر نمیشوند.

ارزش اضافی در صنایع مواد غذایی سالانه میزان ۸ در صد و سطح استخدام به میزان ۵ در صد درین کشور رشد کرده است.

صنایع که طی پنج سال گذشته درین کشور بصورت بسیار سریع رشد نموده است عبارتند از تولید لبنیات، نان پزی، بوره سازی، ککو، شرینی سازی ها، جوس میوه ها و دیگر مشروبات غیر الکولی.

صادرات کشور مذکور در ساحات صدور ماهی، مربا و اچار، میوه خشک، بعضی نوشابه ها بوره و عسل میباشد.

بهر حال تولید مواد غذایی (استثنایی رنج) تناسب قابل ملاحظه و مهم صادرات پاکستان را تشکیل نمیدهد ولی باید گفت که برای توسط چنین صادرات بویژه به اروپا و منطقه خلیج ظرفیت قابل ملاحظه موجود است.

تولیدات که پراسس میشود:

تولیدات میوه ها و سبزیجات که پراسس میشود عبارتند از جوس یا عصاره میوه ها، میوه ها و سبزی ها در قطی ها چا داده شده، مرباو اچار، چکنی و عصاره بانجان رومی و غیره میباشد.

مشکلات و نارسایی ها:

نارسایی های عمده در مورد پراسس مواد غذایی عبارت اند از کمبود سرمایه، کارگران ماهر، سرمایه کاران ادارات مجمع پراسس کننده، معلومات احصائیوی شرایط مناسب کار، ابتکار ادارات پراسس کننده قبلی و عدم همکاری با ادارات دولتی میباشد.

باید صادقانه اظهار بداریم که اشتباه اصلی عبارت اند روش نامناسب در مطالعات و بررسی های بوده است که قبل از سرمایه گذاری رخ داده است برای مثال:

۱- این یک اشتباه بزرگ است که در کشور های روبه انکشاف آنگونه قوانین اقتصادی را بکار ببریم که آن قوانین در کشور های انکشاف یافته بکار برده نه شده است.

۲- این هم درست نیست که در تمام موارد از عین تکنالوژی استفاده کنیم که کشور های پیشرفته از آن استفاده کرده است و هم چنان در تعداد شرایط با ارزیابی مشکل از لحاظ اقلیمی- مذهب و روسم را در نظر گرفت.

مشکلات واقعی در ساحه انکشاف پراسس مواد غذایی در کشور های روبه انکشاف عبارت از بازار یابی این مواد پراسس شده است درین کشور ها مشکل با ارزیابی به مقایسه فقط تاسیس و بکار انداختن دستگاه تولیدی نهایت بزرگتر است با ارزیابی در کشور های روبه انکشاف برای قبولی مواد غذایی پراسس شده نظر محلات تولید قدرت خرید را محدودیت میسازد. کمبود شبکه ترانسپورتی و تاثیر مقابل شرایط اقلیمی نیز عوامل است که مارکیت مواد غذایی را محدود یا کشور های پیشرفته به سبب کمبود ابتکار، کیفیت پایین، و معیارهای بهداشتی و قیمت بالای تولید حتی با مشکلات برزگتری روبرو است مشکل دوم که تاسیسات تولید و پراسس مواد غذایی به آن روبرو است عبارت از عدم ذخیره کافی مواد خام میباشد به این معنی که ذخیره مواد خام از لحاظ کمی و کیفی در سطح پایین قرار دارد.

طوریکه میدانیم صنایع عصری پراسس مواد غذایی به جریان ثابت مواد خام کیفیت عام و با قیمت مناسب تولید ضرورت دارد.

تشخیص اینکه انکشاف صنایع مواد غذ'یی وابسته به انکشاف روستا ها است درست نبوده بلکه باید صنایع مواد غذایی از آغاز تاسیس آن بحیث یک

بخش اساس پروگرام صنعتی شدن کشور خصوصیات سودمند یک فعالیت اقتصادی را دارا باشد شناخته شود.

میوه ها و سبزیجات:
تولید میوه ها و سبزیجات در سال ها اخیر در بسیاری کشور ها روبه انکشاف بصورت اساسی ازدیاد یافته است به اساس راپور FAO یا سازمان جهانی مواد غذایی و زراعت بیشتر از ۲۰ فیصد میوه جات وسبزیجات در هنگام فصل جمع آوری، انتقالات، ذخیر و نگهداری در کشور های روبه انکشاف از بین میروند.

تقاضا برای میوه جات پراسس شده استوایی چون کیله، ام و سایر میوه ها استوایی در کشور آن اروپایی و امریکا موجود نیست ولی تقاضا برای آن در کشور های خاور میانه روبه افزونی بوده است بنا کشور های روبه انکشاف بایستی و تولید چنین میوه ها را به سبب ظرفیت صادراتی اش ازیاد بخشد.

وسایل و تجهیزات:
کشور های روبه انکشاف وسایل مهم و عمده را به منظور تاسیس صنایع عصری مواد غذایی و پراسس انرا از کشور ها انکشاف وارد میکنند که این کار فقط به معنی از دست دادن اسعار خارجی است که به زحمت زیاد بدست آمده است.

در بسیاری حالات تولید و سایل که برای پراسس مواد غذایی در کشور های روبه انکشاف لازم است بسیار مهم و عمده در تاسیس صنایع رقابتی تولید وسایل عصری پراسس مواد غذایی بشمار میرود دولت باید به سرمایه گذاران تسهیلات لازم را فراهم کند تا کشور از لحاظ ماشین آلات عصری پراسس مواد غذایی خود کفا شود.

تحقیقات و مشوره ها:
کشور های روبه انکشاف در مورد انکشاف صنایع پراسس مواد غذایی با مشکلات کمبود ارقام علمی ارزشمند مواد اولیه روبرو است ارقام که درین کشور ها بصورت اوراق تحقیقاتی مقاله ها نشریه های خبری و غیره از طرف دانشمندان، تکنالوجست ها و محققین به نشر برسد برای رشد صنایع متذکره سودمند بوده میتواند درین رابطه بایدگفت که وضع کشور های پیشرفته در مورد کاملا متفاوت و برعکس کشور های روبه انکشاف است به این معنی که در کشور های پیشرفته به سبب میسر بودن اوراق تحقیقاتی در مورد صنایع مذکور فاصله بین تحقیقات و صنایع یاد شده بسیار کم است و این کمبود فاصله چیزی است که برا اجراات وسیع تحقیقات، نوشته ها، تفاهم به یک همکاری میان محققین و صنایع ضروری میباشد.

کارمندان تحقیقاتی نه تنها اینکه به مشکلات روزمره که صنایع به آن مواجه میشود آشنایی پیدا میکنند بلکه بصورت ثابت نظاره گر انکشافات نو در مورد تولید و بیکار برد روش های جدید در مورد اند بنا انسان در وضعیتی قرار دارند که میتوانند صنایع مذکور را در مورد ارائه معلومات مطلوبه و رهبری آن توصیه بدهند.

در مورد سازمان ملل باید یاد آور شد که این سازمان در کشور های روبه انکشاف یک فیصد مصارف را در مورد تحقیقات دارد.

بدبختانه کشور های روبه انکشاف یک بر صدم حصه یک دالر را بالای تحقیقات و انکشاف هم مصرف نمیکنند.

درین کشور ها صنایع پراسس مواد غذایی لابراتوار های مجهز و کارمندان آموزش دیده بخاطر اجرا پروگرام ها کار روزانه شان ندارند بسیاری از کمپنی ها کارمندان آموزش نادیده و بدون اوصاف و شایستگی کار را استخدام میکنند.

و بعضی از فابریکات هم که اشخاص و اجد رابطه را برای مدت زمان کوتا بکار می گمارند بر آن فسخ میشود اما بسیاری فابریکات به این قادر نباشند که تولیدات باکیفیت یکسان را تولید و حفظ کنند و به همین لحاظ از خارج و داخل کشور شکایات بلند میگردد.

بنا پیشنهاد میگردد تا دولت با در نظر داشت احکام قانون مسوولان صنایع بزرگ و متوسط مواد غذایی را مجبور سازند که کارمندان دارای اوصاف و آموزش را بخاطر خوبتر فابرکیات و نگهداری کیفیت و همگونی تولیدات استخدام کنند.

***

اکادمیسن پوهاند عبدالشکور (رشاد)

د واده کلي، کربلا سوه

دغه ټول کلی هوسیدو چې د خلمي واده دی   د شل کلن ښکلي غښتلي ګلالي واده دی
دده د ښې ځوانۍ صفت په مجلسو کې کیده   شماریې د کلي په باتورو شاځلمو کې کیده
پلار یې افت خان ته باله مایې بلا اخیسته   په جار قربان به خویندو نوم د خپل لالا اخیسته
انایې (۱) هره ورځ ومخته سپلني دودول   نیکه یې (۲) هره شپه د مونه د نظر پرچوکل

داولس خلکو چې به ولید شاپیري یې باله
له ارمونو راوتلي ګلالي یې باله

موږ نازیدو چې زمونږ کهاله ته ګلبشره راځي   د خپل اولس د ښایستو پیغلو افسره (۳) راځي
هغه راځي چې یې مقدم ته د ګل بوټي خاندي   چې ګام پرکښیږدي له خوښي د صحرا لوټي خاندي
هغه راځي چې له ښایستي (۴) شاپیري شرمیږي   چې درناوي ته یې دقد، سروې پر ملا کړیږي
هغه راځي چې خماري سترګې (۵) کبلي ایلوي   تشه مستانې ګلالي غونډې زمري ایلوي
چې ناز اداپې درستم د تمکین لنډې وهي (۶)   چې د مخ ښکل یې د ګلاب په ګل ملنډې وهي

چې یې د سترګو اړول په زړونو لوبې کوي
چې یوه ګونجه د تندي یې دعشق سوبې کوي

هغه وخت راغی نویلي (۷) په کلي وکړزیدې   د خوشالي دریې د زوم په کورکې ودرزیدې
غوټې د هیلو د ښادیو شمال وسپړلې   د مراد غنچې خوشخبري د وصال وسپړلې
ښځو رنګیني جامې واغوستې خانوني (۸) جوړ کړل   غولي او خونې په ښایسته سوی ارموني (۹) جوړ کړل
تاسې به وې (۱۰) چې ارمونه رامات سوي دي نن   د شاپیریو روزي دلته برات سوي دي نن
تاسې به وې ښځې د ښکل مسابقې ته راغلي   د حسن مستي قافلې د ناز دیرې ته راغلي
چې سرولاسو د مستو پیغلو به درېې وهلې   پرچاپیریال یې شاپیرو د شوق دورې وهلې
په سپین مړوند کې سروبنګړو په سیالي شور لګاوه   دړې (۱۱) د زلفو په ګاونډ کې په زړه اور لګاوه
چې امیلو به په ایشلو کې تالونه وهل   تاسې به وې چې د جنت هورو سازونه وهل

مستې سندرې د وصال پر غوږو ښې لګیدې
خیالي میرمنې په مثال د شاپیرو نڅیدې

بهر ششنی د اسو شهسواران دیره وه   له لیرو کلو څخه راغلي مست ځوانان دیره وو
د ډاله ږغ ته د ځملیو اتڼونه کیدل   ځوانانو ځوني غورځولي. غورځنگونه کیدل
دمست اتڼ د شوق ناري لیرو دروته تللي   د خنداگانو ازانگي (۱۲) دغرو سروته تللي
چې به چکچکو د ښادیو هنگامه توده کړه   ددوکړه مارو فنکاریو به نغمه توده کړه
چې سندر غاړو به د میني ترانې پیل کړې   عشق به په زړو کې د ځوانانو زلزلې پیل کړې
د شپیلۍ ږغ به دغمونو گریوانونه څیرل   د رباب ترنگ د خواشینیو تو مارونه څیرل

د قدر شپه وه تښتیدلې زمونږ له کلي تیارې
و شاو خوا ته لگیدلي په لس گونو ډیوې

پاڼه د بخت ناڅاپه واوښته بدله سوله   د زوم پگړۍ د ناوې شال د غم کمبله سوله
د امریکا ددوینځوس بې بمباري پیل سوې   ښادي سوه غم د ژوندونو تباهي پیل سوې
د بشر دوسته طیارې راغلې په نیمه شپه کې   د واده کلي کربلا سوه، په یوه شیبه کې
د مړو لاښونو په هوا کې پروازونه کول   له بدنونو ارواگانو فرارونه کول
د بم له خړسره چاپیره پر کلا لمبه سوه   فردوس جنت په یوه دم کې ددوزخ شیله سوه
ښکلي بشري چې وریتیدې پر فرشتو ژړله   مستې ځوانې خاورې کېدې پرې شاپیرو ژړله
مادالیدله چې د سرووینو ولې بهېږي   مادا لیده چې په کلاکې مو لمبې بلېږي
ما ولیدل د وریتیدونکو سوي پړې (۱۳) خلکو !   ما اوریدلي د تپیانو سوې کرېږې خلکو !
ما لوڅې پوڅې ولیدې د سوولوودلته   ما اورېدلي غلبلې د کړم سوو دلته
ما اوریدې د غم راگنې د ستر ماتم په راگ کې (۱۴)   له اوړو غورځېدل سرونه رغړیدل په ډاک کې

آقا تلانو د بشر د ازادي لوټمارو !
د خپل قوت په نشه مستو. مدني خونخوارو !

د مکوټ سوي لولپه گلالي موریمه زه   خوله مې ژوندۍ ده، نوره سوې ستاسې اوریمه زه
پښې مې بمونو ستاسې یوورې نیمه پاته یمه   د بشردوستو په گولیو پر ملا ماته یمه

تاسې چې حق د بشر غوښت شر مو ښان ولې سولاست ؟
د خوار ضعیف وینو ته تږي لیوان ولې سولاست ؟

د خدای پر پار خلکو مایوسۍ د سرو کوټې ته (۱۵)   د ماتو پښو غوڅو لاسو څیرې نسو کوټې ته
دلته تپ سوي زما بې بختې د کهاله غړي دي   هلته پراته زما دزامونو او میره مړي دي
هلته زما لوڼې د بمونو په لمبو کې سوځي   تپي دوستان، مړه میلمانه په سر اوروکې سوځي
امریکایانو ! دامې لاس ددرخانې لمسۍ دي   بشر دوستانو ! دامې لاښ دغرخنې لمسي دي
د گل بشرې دواده د شال ټوټې دغه دي   د گلالي د پگړۍ سوې ښاني دغه دي
داککرۍ چې کړو په سوي یې ښایسته کوپړه ده   اتل نومېږي. زما بدبختي د زړگي ټوټه ده

هامي (۱۶) د لوښو بدنونه دي کلي يې نسته
دامې هم لور ده چې کوټې يې دي شاخي کوټلي (۱۷)
دامې وراره دی مخ يې سته خونيمه خوله يې نسته
دغه سرې پېښې اوسره لاسونه زموږ د ناوې بولم
دغه زګيروی چې اوريده سي داد چا زګيروی دی ؟
داځيځيرلی د سيني سندخ د چادی خلکو !
دغه تنه چې په سرو وينو کې لتپت پرته ده
وي، دامې خورده چوټې ګان يې اور سوځلي دي حيف
په دې سرونو کې داسر د ګلالي ښکارېږي
د جنت ښکلي بې په سرو وينو خالونه وهي
مخ ته بې حوري د کوثر ساړه جامونه ايږدي
داماتې پېښې د خان د زوی ښايسته نور ګل ښکارېږي
چتونه ګړوب سول ښې ځواني تر خاور لاندې سولې
هغه د مستو مستو پېغلو دلربا ايشلي
دادوريتو غوښو بوټې (۱۸) چې شاوخوا پرتې دي
برندې ځواني چې ددشمن بمو نامرادي کړلي
دا يتيمان داسيران چې نن بوغاري وهي
په ژړا وايي زموږ خو ميندې موږ پلرونه لرل
نن د پښتني هيڅوك نه لرو، هريان پاته يو
خدايه ته څنګه رحيم خدای يې پر موږ نه رحمېږې
خدای موږ هم ستا بنده ګان يو تاته هيلې لرو
موږ بې لتا بله اسره بله پناه نه لرو
پردي ناترسو ستا د خښم سلسلې راولي
ددوی احوال ترموږ بد تر کړې منتقيمه خدايه !
پرفرعونانو د خپل قهر صاعقه واچوي.

دامې سرونه د زامنو دي تښې يې نسته
دايې ميره دی چې نس دی خمپاري څيرلی
نيمه سينه يې ده الوتې نيمې زړه يې نسته
دغه لمبو سوې تنه د ښکلي داوي بولم
ګمان مې کېږي دا د ناوې د اکا زګيروی دی
داسې ښکارېږي د ګل بختي د ماما دی خلکو!
زما د نامرادو اولادونو سکني عمه ده
سترګې يې غبرګې له کاسو بم راايستليدي حيف
باور لرم چې بې حوري په ځواني نازېږي
غلمان بې مخې ته په ويار سره ډولونه وهي
ښيستي ملکې بې ترګام لاندې ګلونه ايږدي
که يې مور پاته وي ژوندی ژوند به پر وغمېږي
د بابولالو ازانګې، د پاتاساندې سولې
د زکندن په لوځو پوځوکړي بمو بدلې
دا زموږ د ګرانو نازولو د بدن ټوټې دی
دديراوت ډېرې کورمې ظلم بربادي کړلې
پر سرو خاورې با دوې کوکې چيغارې وهي
موږ پيرزويني، موږ رحمونه، موږ نازونه لرل
غمخوار مو نسته لويه خداپر ميدان پاته يو
د زورورو ظالمانو پر پله دريږي
ګمان کوو چې ستا د عدل ورحم يسيلي لرو
وسلې مونسته، پيسې نه لرو سپاه نه لرو
د بربادیو تباهيو زلزلې راولي
ملك يې تر موږ زېرو زبرکاندي حکيمه خدايه
داهريمنو له لاسو د شر وسله واچوي.

سپينه مانۍ پس له دې بولي ظلمات عالمه !
پر موږ يې جوړ پردي دنياکړ عرصات عالمه (۱۹) !

(۱۱) سرطان ۱۳۸۱ هـ ، ش
کابل: خير خانه مينه

پوهندوی محمد رفیق د ژبو او ادبیاتو دپوهنځی استاد کابل پوهنتون

لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي ټول ژوند په لیکنه او تحقیق کې تیر کړیدي تل یې د قلم او مطبوعاتو سره سروکار وه. دادی د لته یې په لنډ ډول د ژوند پړاونه او مطبوعاتي وظیفې ښودل کېږي.
لومړی ځل چې په پنځلس کلنۍ کې معلم شوی دی د غه دنده یې له (۱۳۰۴) دیارلس سوه څلور څخه تر دیارلس سوه شپږ پورې سرته رسولې ده. بیا دیارلس سوه شپږ څخه تر دیارلس سوه لس پورې د طلوع افغان د جریدې د مرستیال په توګه ټاکل شوی وروسته ددیارلس سوه لس څخه تر دیارلس سوه شلم پورې د پښتو اکاډمی (پښتو ټولنه) رئیس شو او په عین زمان کې د مطبوعاتو د مستقل ریاست مرستیال هم وه. له دیارلس سوه شل څخه تر دیارلس سوه .درویشت شمسي کال پورې په کابل کې د معارف د وزارت مشاور وو له دیارلس سوه درویشت څخه تر دیارلس سوه پنځه ویشت پورې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځی لومړنی رئیس او دپښتو ادبیاتو د تاریخ استاد اوهم د پښتو اکادمی رئیس له دیارلس سوه پنځه ویشت څخه تر دیارلس سوه شپږ ویشت پورې د قندهار د معارف د اداري رئیس او په عین زمان کې د تاریخ استاد. په همغه کال کې (۱۳۲۶) کې په کویټه او بلوچستان کې افغاني وکیل التجار له ۱۳۲۷ - ۱۳۳۰ پورې په کابل کې د قندهار د خلکو نماینده د ملي شورا په اوومه دوره کې . له دې څخه وروسته لوی استاد پخپل قلم داسې لیکي: ((سکونت در پاکستان از ۱۳۳۰ تا ۱۳۴۱ ش (بطور نفی شده سیاسی با ختلاف با حکومت وقت) رجوع به وطن و دوام به مشاغل علمی در کابل ۱۶- سنبله ۱۳۴۱ دش اجرا رتبه اول علمی درپوهنتون کابل بحیث پوهاند ۱۳۴۴ ش)) (۱) د صدراعظم د فرهنګي چارو د سلاکار په توګه په کابل کې وظیفه تر سره کړیده له همدې کال څخه وروسته د اطلاعاتو او کلتور یا د کلتور ددولتي کمیتې علمي سلاکار ؤ په دې وظیفه برسیره د افغانستان د علوم اکادیمۍ سره یې علمي همکاري لرله.
تر هغه وخته پورې یې په دغو ځایونو کې وظیفه ترسره کړه ترڅو چې مرګ ورباندې نوره کړه.
باید ذکر شي چې لس کاله یې دطلوع افغان اونیزه جریده وچلوله او هم یې درې کاله په پښتو ژبه (کابل مجله) (۱۳۲۰- ۱۳۲۳) د پښتو ټولنې څخه نشر کړه او ریاست یې دده په غاړه ؤ هغه موده چې نوموړې شخصیت په بهر کې تیره کړیده په هغه وخت یعنی دیارلس سوه یو دیرشم کال کې په پیښورکې د افغانستان ازاد) د جریدې مسئول چلوونکی پخپله دی ؤ. (۲)
په سمینارونو کې ګډون:
لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي د هیواد پاوړی شخصیت نه یوازې په هېواد کې دنوم او علمي شهرت خاوند وه بلکه په نړیواله سویه د نوم - او لوی علمي باور څښتن وه ده په هېواد کې دننه او له هیواد څخه بهر په ډیرو ملي او بین المللي کنفرانسونو او سیمینارونو کې پراخه ونډه اخیستې علمي مقالې یې لوستي او تل به یې د رئیس په توګه او یا د سیمینار د تدارك د کمیسیون د غړي په توګه ټاکل شوي او لازمي مشورې او لارښوونې یې نورو ته کړې، د سیمنیار پزه یې ور په ځای کړې او لاپې په زړه پورې او رنګین کړیدي.
په کومو سیمنیارو کې چې لوی استاد ګډون کړی دی البته ملي دي او که بین المللي په لاندې ډول راوړل کېږي.

۱- د عبدالحی حبیبي په خپل قلم - ژوندون مجله - (کابل : د افغانستان د لیکوالو اتحادیه ۱۳۶۱ - کال دریمه ګڼه ص ۹۱- ۹۲

۲- د استاد یاد - د مقالو مجموعه - (کابل: د افغانستان د علومو اکادیمۍ - ۱۳۶۴ - کال) ص - ۴۶.

د پوهاند استاد عبدالحی حبیبي مطبوعاتي دندې او په علمي سیمینارونو کې ونډه

۱- د تاشکند پوهنتون د پنځه ويشتم کال ۱۳۲۵هـ ش- د مراسمو په نمانځنه کې برخه اخستنه. [۱]

۲- په ۱۳۲۶ هـ ش کال په ډهلي کې د افغاني کلتوري هيئت غړى (مخکښ مجله).

۳- په ۱۳۲۶ هـ ش کال د لاهور او رينتيل کنفرانس کې ګډون (مخکښ مجله).

۴- د خواجه عبدالله انصاري د مړينې د نه سوم تلين په سيمينار کې چې په ديارلس سوه څلويښتم هجري شمسي په کابل کې جوړ شوى و د (سيرت و ابتکار اثار شيخ الاسلام خواجه عبدالله انصاري) په نوم ګټوره مقاله لوستې وه (عبدالله انصاري هروي) ملي دفاع مطبعه ميزان کال ۱۳۴۱ - ص ۵۹.

۵- د عبدالرحمن جامي ديادونې په غونډه کې چې په ۱۳۴۱ هـ ش کال د تاجکستان په دوشنبه کې جوړ شوى وګډون (مخکښ مجله)

۶- د نورالدين عبدالرحمن جامي د زېږيدنې پنځه سومې. کاليزې سيمينار چې ۱۳۴۴هـ ش په کال کې جوړ شوى او د(طريقت جامي) ترعنوان لاندې مقالې لوستنه دتجليل پنجصد وپنجا همين سال تولد نورالدين عبدالرحمن جامي کابل- مطبعه دولتي سال۱۳۴۴- ص۱۴.

۷- د ايران پيژندنې کنفرانس چې په ۱۳۴۵ هـ ش کال په تهران کې جوړ شوى و برخه، اخستنه.

۸- د سيمينار ترجمه د جوزا ديرشمې څخه تر څلورمې د سرطان پورې په کابل کې جوړ شوى وو ددې کنفرانس رياست په غاړه درلود په دې کنفرانس کې د (وسايل وشرايط ترجمه و تاريخچه آن) په نوم مقاله لوستې وه سيمينار ترجمه کابل ۳۰- جوزا - ۴ سرطان ۱۳۴۵.

۹ - د خطي نسخو کنفرانس چې په ۱۳۴۵ - کال په کابل کې جوړ شوى - د دايمي رئيس په توګه.

۱۰- د خطي نسخو بين المللي کنفرانس د رئيس په توګه - چې د اسد په اتمه نيټه کال ۱۳۴۶ د کابل پوهنتون په تالار کې داير شوى وُ ([۲]

۱۱- د کوشانيانو د ۱۳۴۷ هـ ش کال په کنفرانس کې چې د تاجکستان په دوشنبه کې جوړ شوى و ګډون.

۱۲- په ۱۳۴۸ هـ ش کال د ازبکستان پايتخت سمرقند کې د تيموريانو د هنر په سيمپوزيم کې فعاله برخه اخستنه.

۱۳- خواجه رشيدالدين فضل الله ديادونې غونډه مشهد تهران ۱۳۴۸.

۱۴- په ۱۳۴۹ هـ ش کال به کابل کې د کوشانيانو د سيمينار رئيس.

۱۵- د شيخ طوسى په زرمه کاليزه کې ګډون ۱۳۴۹ هـ ش مشهد.

۱۶- د فتيح پور سيکري په سيمينار کې ګډون اګره ۱۳۵۱ هـ ش.

۱۷- د بيروني د زرمې کاليزې رئيس کابل ۱۳۵۲ هـ ش کال.

۱۸- په ډهلي کې د امير خسرو د مجلس غړى ۱۹۷۵ ع کال.

۱۹- د مولوي بلخي د سيمينار غړي کابل ۱۳۵۵ هـ ش کال.

۲۰ - د بيهقي په سيمينار کې ګډون ايران.

۲۱- د روښان د نړيوال سيمينار په مناسبت ۱۳۵۲ کال جدي ۱۳ په کابل کې جوړ شوى وه. د روښان او دده د غورځنګ په نوم مقاله يې لوستې وه د روښان ياد په زيار او اهتمام پښتو ټولنه ۱۳۵۵ - ص ۲۶۵.

۲۲- د ابو نصر فاريابي د نمانځنې ۱۳۵۴ هـ ش کال په غونډه کې چې په کابل کې جوړه شوې وه برخه اخسته.

۲۳- د منځنۍ اسيا د ژبې او ادبياتو بين المللي غونډه ۱۳۵۴ هـ ش کال په تهران کې جوړه شوې وه غړيتوب درلودل.

۲۴- دقيقې بلخي د مړينې په زرم تلين کې ۱۳۵۴ هـ ش کال ليندۍ له لومړۍ نيټې څخه تراتمې.

۲۵- د امير خسرو ديادونې نړيوال سيمينار چې د راديو د کنفرانسونو په تالار کې جوړ شوى وه د خلجيانو معاصر امير خسرو و هويت تاريخي شان تر عنوان لاندې مقاله لوستې وه. د اريانا مجله جدي - حوت ۱۹۵۳ کال.

۲۶- د پښتو څېړنو د نړيوال سيمينار چې د پښتو ټولنې په زيار په ۱۳۵۴ هـ ش کال جوړ شوى وُ - په دې سيمينار کې ده (د پښتو ژبې موقف د مرکزي ايشيا د خلکو په تمدنونو کې) موضوع باندې رڼا اچولې وه د کابل مجله ۹ ګڼه ۱۳۵۴ هـ ش کال ص ۴.

۲۷- د خوشحال لومړى سيمينار د خوشحال د مړينې ۲۸۶ کال د تلين په مناسبت ۱۳۵۴ هـ ش کال په نړيواله سويه په کابل کې جوړ شوى وه د خوشحال خان خټک د جهانداري نظريه د ستارنامې ته يوه مقايسوي او تحليلى

---

[۱]- عبدالحى حبيبي، په خپل قلم لنډ ژوند ليك - ژوندون مجله -(کابل : د افغانستان د ليکوالو اتحاديه - ۱۳۶۱ کال) - دريمه ګڼه ۹۲

[۲]- اريانا مجله اسد و سنبله ۱۳۴۶ کال ص ۱۰۹

کتنه او داسلافو له اثارو سره يې پرتله د موضوع په باره کې مقاله لوستی وه [1]

۲۸- روابط افغان وهند په سیمینار کې «دیوان بیدل بخط» د عنوان په نوم مقاله لوسته [2]

۲۹- د خواجه عبدالله انصاري د زېږېدنې د زرمې کالیزې په غونډه کې چې په ۱۳۵۵ هـ ش کال په کابل کې جوړه شوې وه منازل السایرین یا صد میدان در دایره الوجود عرفان – مقالې لوستنه د اریانا مجله حمل او جوزا ۱۳۵۵ ص ۷۸.

۳۰ – د پښتو په دوه وروستیو پیړیو کې سیمینار چې په ۱۳۵۶ هـ ش کال په کابل کې جوړ شوی او لوی استاد ددې کنفرانس رئیس او دپښتو نثر له نونسمې پیړۍ راهیسې موضوع ښه روښانه کړې ده [3]

۳۱- د سنايي د نه سوم تلین د نمانځنې په وياړ سیمینار کې د سنايي د وفات کال او دده مرثیه تر عنوان لاندې مقالې لوستنه زیری ۳۰ ګڼه ۱۳۵۶.

۳۲- دکوشانیانو د بین المللي سیمینار ۱۳۵۷ هـ ش کال په کابل کې جوړ شوی وه برخه اخستنه.

۳۳- د ابن سینا د بین المللي غونډې په نمانځنه کې ۱۳۵۹ هـ ش کې په کابل کې جوړه شوې وه برخه اخستنه.

۳۴- د خوشحال دریم سیمینار چې په ۱۳۵۸ هـ ش کال په کابل کې جوړه شوې وه د خوشحال خان په شعر کې انتقادي پانګه په نوم مقاله لوستې وه عرفان مجله ۳-۵ ګڼه ۱۳۶۰ مخ ۶۴.

۳۵- د میافقیر الله جلال ابادي د مړینې ددوه سوم تلین سیمینار ۱۳۵۹ کال په کابل کې جوړ شوی وه (ایا شرح مثنوي از میا فقیرالله است) مقاله لوستی وه. مقالات سیمینار دوصد مین سال وفات میا فقیر الله جلال ابادي اهتمام ع حسین فرمند اکادمي علوم افغانستان ګستتنر دلو ۱۳۵۹.

۳۶- د سعدي د بوستان د پښتو ترجمې پنځه سومه کالیزې ۹۰۳ هـ ق په وياړ د زرغونې یاد سیغارچې په ۱۳۶۲ کال کې جوړ شوی و د زرغونې د عمر سیاسي او اجتماعي جوله تر عنوان لاندې مقاله لوستې ده زرغونې یاد دولتي مطبعه ۱۳۶۲ کال.

۳۷- د کوشانیانو دریم سیمنیار ۱۳۶۱ کال کې جوړ شوی وګډون باستانشناسي شماره اول سال چهارم سنبله سال ۱۳۶۱هـ ش.

۳۸- انقلابي ادبیاتو په نوم سیمینار چې د علوم اکادیمی او لیکوالو اتحادیې له خوا په ۱۳۶۲ کال کې جوړ شوی وه د تاریخي غورځنګونو سیمه د افغانستان تراستقلال ۱۹۱۹م تر عنوان لاندې مقالې لوستنه (۱).

که کوم سیمینار زما څخه پاتې شوي وي او یا يې زه په پیاکیدو نه یم بریالی شوي هیله ده چې عذر مې قبول کړي.

/ ځځونه

۱- حبیبي عبدالحی ژوندون مجله ۳ ګڼه کابل: د افغانستان د لیکوالو اتحادیه.

۲- د استاد یاد، د مقالو مجموعه- کابل: د افغانستان د علومو اکادیمی، ۱۳۶۴ کال (۴۶) مخ.

۳- اریانا مجله – اسد اوسنبلې ګڼه ۱۳۴۶ هـ ش کال (۱۰۹) مخ.

۴- ننګیالی پښتون، کابل: پښتو ټولنه. ۱۳۵۴ هـ ش کال. (۱۰۹) مخ

۵- ادب مجله ۳ ګڼه کابل: د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی دریمه ۱۳۵۵. کابل.

۶- زیری جریده (۲۱) ګڼه ۱۳۵۶ هـ ش کال.

[1] - ننګیالی پښتون پښتو ټولنه ۱۳۵۴ کال.
[2] - ادب مجله دریمه ګڼه ۱۳۵۵ کال.
[3] - زیری جریده ۲۱ ګڼه ۱۳۵۶ کال.

پاتې : دایډز دناروغۍ........

همدارنګه ددې ناروغۍ د مخنیوي دپاره واکسین هم وجود نه لري.

مخنیوی Prevention:

ایډز یوه لا علاجه او وژونکې ناروغۍ ده ولې که چیرې د هغې سره په تماس کې نه شۍ تاسې ته سرایت نه کوي له دې کبله باید د HIV په باره کې کافي معلومات ولرۍ او دا لاندې ټکي په کلکه مراعت کړۍ.

۱- څرنګه چې دا ناروغۍ د جنسي طریقو له لارې سرایت کوي باید د غیر مشروع جنسي مقاربت څخه ډډه وشي که چیرې یو له طرفینو څخه په دې ناروغۍ اخته وي باید د Condom (پوقانې) څخه ګټه واخستل شیز

۲- پیچکاري او د پیچکارۍ سامان، د غوږ د سوري کولو او دغاښونو ستوني او غوږونو د معاینه کولو سامان باید تعقیم وي.

۳- د نشه ای موادو د استعمال (خصوصاً په زرقي ډول) څخه ډډه وکړۍ.

۴- په ناروغۍ اخته میاندی باید د امیدوارۍ څخه ډډه وکړي او همدارنګه ځوانان باید د ازدواج څخه مخکې د HIV تست وکړي.

دماشوم تولنیز اوعاطفي وده او روزنه

لیکوال : حسین نجاتي
ژباړه: سید بدیع الزمان

د انسان ژوند له ډول ډول بیلو بیلو عاطفو څخه ډك دی. هغه عواطف چې د انسان په ژوند کې ژوره او خارق العاده اغیزه لري په فرد کې د بیلابیلو عکس العملونو او سلوکونو په څرګندیدو کې اغیزمن دی.

عاطفي حالات په کوچنیانو کې له لویانو څخه توپیر لري دغه د لویانو او ماشومانو د عاطفي توپیرونو څېړنه او پیژندنه ډېره ګټه لري. د همدغو توپیرونو پیژوندنه موږ ته داتوان راکوي چې کولی شو د هغې له مخې په ماشومانو کې د مثبتوعواطفو ښه روزنه او پالنه وکړو وده او پراختیا ورکړو او په زده کړې او روزنې سره په هغوی کې د مخربو او منفي عواطفو د څرګندیدو مخه ونیسو.

که چیرې د ماشوم عاطفي شخصیت په سمه او اصولي توګه شکل ونیسي په زده کړې او روزنې او نورو رغنده عواملونه په کار اخستنې سره په مثبته خوا حرکت وکړي، ددې سبب ګرځي چې ماشوم د ښه پیاوړي او لوړ شخصیت څښتن شي او برعکس که دغه ښوونه، روزنه او پالنه ناسمه وي په ماشوم کې یو لړ روحي ګډودۍ او ستونزې رامنځ ته کېږي او له روغې رمتې (سالمې) ودې نه پاتې کېږي.

نو له همدې امله لاژم دي چې د ماشوم عاطفي روزنې ته ښه په کلکه پاملرنه وشي چې د هغه سلامتي او نیکمرغي تامین شي.

ماشومان د ژوند په لومړیو میاشتو کې ځینې داسې حرکتونه او نښې نښانې څرګندوي چې کولی شو وواېو دادهغوی عاطفي حالات دي. یو لړ حرکتونه او نښې نښانې، لکه د زړه د ټکانونو زیاتیدل، د سترګو پټول، د زړه دټکانونو کمیدل، ژړا، خندا، لاس او پښې خوځول او ... ورو، ورو چې ماشوم لوییږي نوې عاطفي نښې نښانې پکې راڅرګندېږي، چې له هغې څخه دلته د قهر (غوسې)مینې او کرکې پر موضوع باندې لنډې او ځغلندې خبرې کوو.

قهر او غوسه:

قهر او غوسه هغه عاطفي حالت دی چې په ماشومانو کې له اووه میاشتنې توب څخه وروسته راڅرګندېږي او د ماشوم په ژړا او نا‌ارامې سره ښودل کېږي.

قهر او غوسه په ماشومانو کې د بنستیز روحي اړتیاوو د نه پوره کیدو یاتر لاسه کیدوله امله رامینځته کېږي. قهر او غوسه په لومړیو کې د شیانو په اخیستلو، ایستلو او لیرې غورځولو، ناقرارۍ او پر له پسې ژړا څرګندېږي او همداغوسه د ماشوم له غتېدو سره د خپله ښه بدلوي ، د بیلګې په ډول د پوچو او ستوغو سپورو ویلو، د نورو شړلو، جنګ، جګړې په کولو او د سره ښکاره کېږي.

ماشوم چې څومره ډېر خفه او خواشینی وي په هماغه اندازه یې قهر او غوسه هم زیاته وي. څرنګه چې ماشوم په کوچنیوالي کې زیاتره له خپلې مور نه تقلید کوي که چېرې مور عملاً ماشوم ته دا وښیي چې څرنګه د غوسې او قهر د اصلي او سیاسي محرکینو په وړاندې خپله ارامي او قراري وساتي او دقهر مقابله وکړي دغسې ماشوم لږ لږ له خپلې مورنه په تقلید سره پرقهر او غوسې باندې د برلاسي کیدو لارې چارې زده کوي او د قهر او غوسې پر مهال خپل قهر غوسه په ډېرې اسانۍ سره زغمي.

مینه او کرکه:

معلومه خبره ده چې مینه او محبت د ماشوم له اساسي اړتیاوو څخه دي. ماشوم خپله لومړنۍ مینه او علاقه هم له خپلې مور څخه زده کوي. ماشوم ډېر مخکې تر دې چې په دقیقه توګه خپله مور وپیژني، د هغې له غږ سره آشنا کېږي او کله چې یې مور هغه په غېږ کې نیسي د ډېرې خوښۍ او رضایت احساس کوي او دایې خوښېږي چې مور یې تل په خپله غېږه کې ونیسي دمور همدا کار ددې سبب ګرځي چې ماشوم د مینې د څرګندولو لومړی درس زده کړي.

د اروا پوهنې (روانشناسي) د څېړنو او تجربو له مخې مینې او محبت ته د انسان اړتیا په ټول ژوند، په ځانګړې توګه د ژوند په لومړیو کلونو کې ډېره زیاته ده

چې دادهغه د شخصيت په بریالیتوب کې بنسټیز نقش لري.

د ماشوم روغتيا او دشخصيت وده، هماغومره چې په جسماني اړتياوو پورې تړلې ده، په مينې او محبت پورې هم اړه لري داروا پوهانو د پراخو څېړنو له مخې د ماشوم له پاره د ژوند د کلونو لومړيو مياشتو کې د مور له مينې او محبت څخه برخمن کېدل ډېر زيات اهميت لري او همدې واقعيت ته په پاملرنې سره د مور له مينې نه د ماشوم بې برخې کيدل په ماشوم کې ډېرې ژورې منفي اغيزې رامينځ ته کوي.

هغه ماشومان چې د مور په مينه ماړه دي، ډېر ښه او په اسانه کولای شي له نورو سره اړيکې ټينګ کړي او ټولنيز سازښت وکړای شي.

په هغو څېړنو کې چې په پالنځايونو کې د مور او پلار له مينې نه د بې برخې ماشومانو په هکله تر سره شوي، داڅرګنده شوه چې څه ډول هغه ماشومان چې د لازمې مينې او اروايي څارنې او ساتنې څخه برخمن نه وو، په هغوی کې د جسمي، عاطفي، اجتماعي او..... له لحاظه ډول ډول ګډوډې او پريشانۍ موجودې دي.

مينډې او پلرونه بايد خپلو ماشومانو ته داسې شرايط برابر کړي چې نه هغوی د مينې او محبت له نظره د کمښت او نيمګړتيا احساس وکړي او نه ورسره دومره مينه وشي چې افراطي بڼه خپله کړي.

د يادونې وړده، هماغومره چې مينه په يو مناسب حد اوپوړ کې ګټه وره، ضروري او رغنده ده، دغسې د ماشوم په بنسټ د مينډو او پلرونو افراطي مينه او حمايت ډېرې نامطلوبې اغيزې لري او دشخصيت طبيعي وده يې له ګډوډۍ سره مخامخوي. د بيلګې په توګه يو ماشوم چې تل د مور او پلار د افراطي مينې او څارنې او ساتنې لاندې وي، ټولې اړتياوې يې بې له ځنډ او ځنډ څخه پوره او تر سره کېږي، او هغه په هره برخه کې پر مور اوپلار تکيه لري او د ناوړه سلوک په مقابل کې يې هيڅ ډول عکس العمل ونښودل شي، معلومه خبره ده چې هغه ماشوم به هيڅکله پر خپل ځان او نفس باور ترلاسه نه کړای شي، د ژوند د ستونزو په وړاندې بې ځواکه (ناتوانه) کېږي او نشي کولای چې يو مسوول او پر خپل ځان تکيه انسان ترې جوړ شي، تل به په نورو پسې ځي او په بل چاپورې په تړلې وي او يا به ډېر زيات ځان غوښتونکې، تيري کوونکي ناسازښته او طمعه ناك شخص ترې جوړ شي.

دې خبرې ته مو بايد پام وي چې ماشومان ډېر ژر او په اسانۍ په پو چه او ستوغه وينا او دښمنۍ پيل کوي. کله چې دماشوم د پوچې او ناوړه وينا کولو حس له خپل اصلي او طبيعي چوکاټ له حدودو څخه ووځي، په قهر، کرکه او کينه بدلېږي او بيا ماشوم هميشه شور، ځوږ او بدخلقي کوي.

همدارازد ماشوم ټولنيزه وده او روزنه د هغه عمر په دريو بيلابيلو پړاوونو کې تر څېړنې لاندې نيسو.

۱- له زېږېدنې څخه تر درې کلنۍ پورې:

د ماشوم ټولنيزه وده، له ټولنې څخه د هغه درك او پر هغه باندې له برلاسو او حاکمو اړيکو سره نيغ په نيغه تړاو لري او ماشوم ورو ورو د وخت په تيريدو سره اجتماعي کيدل او ټولنيز ژوند تيرول زده کوي. په ماشومانو کې تر ټولو لومړنۍ ستر ټولنيز سلوك د هغه خندا او موسکي کيدل دي چې په دوه يا درې مياشتني توب کې څرګندېږي.

د ماشوم موسکي کيدل او يا خندا ته خوله پرانيستل د ودې په پړاو کې ډېر ارزښتمن کار دی، ځکه چې همدا کار د ماشوم او لويانو تر مينځ متقابلې اړيکې رامينځ ته کوي او ورسره يې عاطفي پيوند هم ټينګښت مومي.

د يادونې وړ ده چې ماشوم تر درې مياشتينتوبه پورې د ډېرو مسايلو، لکه: قهر، غوسې، خندا، د غږ دلحن د بدلون، تهديد او داسې نورو په وړاندېې بې توپيره وي، خو بيا وروسته معمولاً په دريیمه يا څلورمه مياشت ددې عواملو په وړاندې يو ډول عکس العمل څرګندوي او هغو کسانو ته چې د ماشوم لومړنۍ اړتياوې پوره کوي. خپله ډېره پاملرنه اړوي.

ماشوم د ژوند په لومړي کال نورو ته ډېره اړتيا او ورپورې تړاو لري او هم دې لړ کې مور ماشوم ته تر ټولو نږدې فرد دی چې د هغه په ټولنيزه وده او روزنه کې ټاکونکی نقش تر سره کوي. په دې عمر کې د ماشوم د اړتياوو، لکه د لوږې او تندې د پوره کولو لارې چارې او څرنګوالی يې په راتلونکې کې د نورو په اړه دده د ليد او طرز تفکر بنسټ جوړوي، نوله همدې

امله د مور او ماشوم تر مينځ عاطفي اړيکې د ماشوم په عاطفي وده او روزنه کې هم ډېر ارزښت لري.

مور او پلار بايد په ترتيب سره ماشوم ته د ټولنيز ژوند بهير ته د هغه ورداخلېدو لارې چارې په سمه توګه برابرې او هغه ته دې دا ورزده کړي چې په تدريج سره خپلې غوښتنې او هيلې راکمې کړي، د ټولنيزو مقرراتو د ودونو او ادابو درناوی وکړي، په ټولنو او مجلسونو کې د ګډون طريقې زده کړي او دغسې ورو ورو خپل ټولنيز مسووليتونه درك او وپيژني.

د يادونې وړ ده چې د ماشوم په ټولنيزه وده کې ډېر عوامل برخه او نقش لري. د هغه د ټولنيز سلوك وده د عمر په بيلابيلو پړاوونو کې بيلې بيلې ځانګړتياوې او خاص مسايل لري نودماشوم روزنه بايد د ټولنيزې ودې بيلابيلو اړخونو ته په پاملرنې تر سره شي، يو له هغو مهمو مسايلو څخه چې په ماشوم کې بايد وروزل شي، اخلاقيات دي، ځکه چې اخلاقي روزنې سره انساني فضايل او ځانګړتياوې، لکه مېړانه، امانتداري، حق پالنه، حق غوښتنه او نور په ماشوم کې رامينځ ته او روزل کېږي.

ماشوم د ژوند په لومړيو، په ځانګړې توګه له دوه کلنۍ څخه وروسته، دې ته متوجه کېږي چې له نورو سره توپير لري، خپل ځان له شيانو او اشخاصو څخه بيل احساسوي، هرڅه ته ځير کېږي او پلټنې او موندنې ته هڅه کوي. په دغه مهال کې بيا هم مور تر ټولو ډېر اغيزمن نقش تر سره کولی شي. که چېرې مور په دغه وخت کې، په هرعلت چې وي، د ماشوم د کنجکاوۍ او ځېرکيدنې د فعاليت مخه ونيسي او ماشوم ددغه کار له بنسټيزې او مهمې زده کړې څخه بې برخې کړای شي، د ماشوم د راتلونکې له پاره به ډېر ناوړه او خطرناك عواقب له ځان سره ولري. خو که مور او د کورنۍ نور غړي اجازه ورکړي چې ماشوم خپلې کنجکاوۍ او ځېرکيدنې فعاليت په پوره مينه والي ادامه ورکړي، ماشوم ورو ورو د وخت په تيريدو سره دازده کوي چې هرڅه ته ځير کيدنه، نوښتونه يې د نورو له پاره د منلو او هڅونې وړ دي، چې همدغه درك او برداشت يې په راتلونکې ټولنيزه روزنه کې ستر نقش لري او دژوند په بهير کې دده د برياليتوب سبب ګرځي.

۲- له درې کلنۍ څخه تر شپږ کلنۍ پورې:

ماشوم د عمر په دغه پړاو (۳-۶ کلنۍ) کې ډېر غواړي چې د نورو ترڅنګ وي او خپله خپلواکي وښيي، دده په اړيکو کې د امنيت او ډاډ احساس ليدل کېږي. هغه د عمر په دغه دوره کې تلقين منونکی او دنورو اوامرو ته غاړه ايښودونکی وي. معمولاً په څلور کلنۍ کې د خپلې شاوخوا له خپلکو څخه د هغه هيلې، غوښتنې او توقعات ډېرېږي، او ديو څه اخيستلو او يا چاته ورکولو ته ډېر خوښېږي. ورو ورو هغه دوستان او ملګري پيداکوي او تل يې زړه غواړي چې له هغو سره ناسته ولاړه او لوبې وکړي. له انرژۍ او هيجان نه ډك وي، مستۍ او ټوپونه وهلو، منډو رامنډو ته ډېر مينه وال وي. کله کله يې له خولې پوچې او سپکې سپورې ويناوې هم ورځي او د نورو په وړاندې ورڅخه لږو ډېره بې احترامي او بې پروايي هم څرګندېږي، او هغه څه چې په طبع او مزاج يې برابر نه وي ورڅخه غاړه وغړوي.

ماشوم د پنځه کلنۍ په عمر کې معمولاً د ډله ييزه لوبو مينه وال کېږي او کولی شي چې په وړو وړو ډلو کې فعاليت وکړي. د نورو ماشومانو په مقابل کې يې د کينې او حسادت روحيه راپارېږي او د مالکيت او ياد يو شي د خپلولو حس يې ډېر پياوړی کېږي. د نورو له زور زياتي او تيري څخه په کلکه خواشيني کېږي. له نورو سره مرسته کوي او دايې هيله وي چې نور هم له ده سره مرسته وکړي. د لويانو د مينې، خوښۍ او پام راګرځولو له پاره سيالي او رقابت کوي.

که څه هم د عمر په دې دوره کې هم دماشوم ډېر ميلان د خپلې مور خواته وي، خو بياهم هڅه کوي چې ځانته دوستان او ملګري پيدا، ورسره مينه ولري او د ډله ييزو مقرراتو ډېر درناوي وکړي. له زور ګوي او حکم کولو څخه يې بد راځي او دنورو حکمونه هم په ډېرې سستۍ تر سره کوي او يايې هيڅ نه مني.

ماشوم په هر حالت کې غواړي چې ټول ورته پاملرنه ولري او هيڅوك يې مخالفت ونه کړي. د کورنۍ له غړيو سره ډېرې نږدې اړيکې ټينګوي. د خپلو ستونزو د حل له پاره له مور او پلار څخه مرسته غواړي او د هغوی تر څنګ د ډېرې خوښۍ احساس کوي. دايې هم زړه ډېر غواړي چې خپل شخصي کارونه د نورو له مرستې پرته تر سره کړي او له نور سره

یې سیالۍ او رقابت ته هم زړه ډېر کېږي. د نورو تشویق او هڅونه یې خوښېږي او که په کوم کار کې تشویق شي هغه بیا بیا تکراروي. ډله ییز فعالیتونه او کارونه یې خوښ وي، خو په محدود ډول کولی شي په هغو کې رول ولوبوي. هغه نمایشونه، ښودنې او کارونه چې هغه ته زیات د لمس کولو اړخ او جنبه ولري، ورڅخه ډېر خوند اخلي او په پوره مینه یې تر سره کوي.

۳- له شپږ کلنۍ څخه تر دولس کلنۍ پورې:

ماشوم د عمر په دغه پړاو کې ورو ورو دا درک کوي چې څوک دی او په ټولنه کې کوم پوړ او مقام لري. په هغه کې ډېر بدلونونه رامینځ ته کېږي. دا د سلو کونو د بڼې (شکل) نیولو له مخې د ماشوم دعمر یوه ډېره مهمه دوره ګڼل کېږي. په همدې دوره کې یې د پخوا په نسبت ټولنیزې اړیکې پراخه او ژورې کېږي. د ماشوم ملګري او دوستان کولی شي د هغه په اجتماعي کیدو کې مهم نقش ولوبوي.

ماشوم د عمر په دې دوره کې د ملګرو او دوستانو ټاکلو او خوښوولو ته په څرګنده ډېر اهمیت ورکوي. دهغه شخصیت بدلون مومي او دشخصیت اساسي ځانګړتیاوې او ټکي یې په ډاګه کېږي. د یادونې وړ ده چې په دغه دوره کې له ماشوم سره د مینې کمښت او محرومیتونه د هغه په سلوك ډېرې بدې او ناوړه اغیزې پرې باسي او روحي او سلوکي حالت یې ګډوډوي. د ماشوم ټولنیزې اړیکې تر اته کلنۍ پورې ډېرې نه پراخېږي او دوستۍ او ملګرتیاوې یې هومره له ډېر پایښت نه برخمنې نه وي. په ماشوم کې د سیالۍ او رقابت تعادل روحیه لیدل کېږي او ډېر وخت په دې هڅه کې وي چې په یوازې ځان ته ډېر بریالیتوبونه تر لاسه کړي. نور درك کوي او دهغوی هیلې او توقعات هم پیژني، خپلواکي او اړوندې (وابستګي)، همدارنګه حکم منل او یا ورڅخه غاړه غړول یې یو ډول نه، بلکې د بدلون په حال کې وي.

دایې خوښېږي چې له نورو ماشومانو سره وي او خپلې ټولنېزې اړیکې پراخه کړي. غواړي چې ډلو، مجلسونو او دګڼې ګوڼې محافلوته ورشي، برخه پکې واخلي، او دغه کار هغه خپل یو ډول پرمختګ هم ګڼي.

له یوولس کلنۍ څخه ماشوم په دې هڅه او لټه کې کېږي چې ځانته همجنس دوستان او ملګري وټاکي. د خپلو همزولو، هم ټولګیو او همدارنګه د هغو کسانو چې نظم او پاکوالی رعایت کوي، ډېر درناوی کوي. له دې سره ډېره مینه لري چې همیشه د خپلو ملګرو او دوستانو د منلو وړ وګرځي او له ښه ټولنیز مقبولیت څخه برخمن شي او داکار یې د ډېرې روحي اوروانې ارامۍ سبب ګرځي. عدالت او برابرۍ ته ډېر اهمیت ورکوي او غیر عادلانه کړنې او سلوکونه یې د ناارامۍ او ځوربدنې سبب کېږي. د ژوند په دغه دوره کې هغه ډله ییزو کارونو ته ځانګړی اهمیت، ارزښت او خپلې آزادۍ ته د لومړیتوب حق ورکوي. له ستونزو او ناکامیو سره مبارزه او مقابله کوي او روسره مخامخ کېږي. خپلو بدني مهارتونو ته هم ډېر اهمیت ورکوي او دایې خوښېږي چې د خپل بدني ځواك او مهارت له مخې په خپلو همزولو کې ځانته لوړ ځای ومومي، محبوبیت او مقبولیت تر لاسه کړي او دنورو د منلو وړ وګرځي. دغه وخت هغه ډله ییز او ټولنیز (جمعي) عواطف او احساسات درك کوي او انساني ارزښتونه، لکه، عدالت، رښتینولي، سپیڅلتیا او ... ته درناوی او هغه تر ممکنې اندازې درك کوي او ډله ییزو ګټو ته ترجیح ورکوي.

د یادونې وړ ده چې په دغه دوره کې له ماشوم سره په زده کړه او شخصیت په جوړیدنه کې د ښوونکي اړیکې ډېر هم او ارزښتناك نقش تر سره کوي او دودې او بشپړتیا سبب یې ګرځي. مور او کورنۍ یې هم د هغه په ټولنیزه وده کې سرنوشت جوړونکی نقش درلودای شي، ماشوم دغه وخت ځانته داسې ملګري او دوستان ټاکي یایې خوښوي، چې وکړای شي له هغو سره په آسانه اړیکې ټینګ کړای شي. که د ژوند په دغه دوره کې د ماشوم شاوخوا خلکو په ځانګړې توګه د مور او پلار سلوك له هغه سره مخالف او ناوړه وي، یا ماشوم له تعارف یا کومې ستونزې سره مخامخ کېږي. نو دحل له پاره یې خپلو ملګرو او دوستانو ته پنا وړي. ماشوم له خپلو زده کړو او تجربو څخه، تر ډېره له نورو سره په ارتباط کې استفاده کوي.



په اسلام کې د ژبې د ساتنې حکم

نوشته: حافظ ضیا الحق

خپله ژبه هم کلا ده او هم بلا ده. داخو د پښتو یو متل دی یعني د باتجربه مشرانو وینا ده چې ډېر لوی مفهوم پکې پټ دی. اوس به راشو د اسلام حکم پسې ژبه د انسان په وجود کې یوه مهمه غوښینه عضوه ده کوم چې خداوندلایزال انسانانو ته د خپل حاجاتو پوره کولو لپاره دافهام او تفهیم د وسیلې په توگه ورکړې ده ژبه هغه لوی نعمت دی چې دانسان اونورو ژویو تر مینځ توپیر لري د همدې صفت په وسیله د انسان او غیر انسان توپیر کیدای شي.

ژبه د عقل او اخلاقو ترجماني کوي که د چا گفتاراو وینا ښه وي ټول خلك هغه د نیکو اخلاقو او د اوصاف حمیده مالك بولي او یو بد گفتار سړی اگر چې د لوړو کمالاتو خاوند وي خو بیا هم خلك ورته په حقارت او سپك نظر گوري. ددغه ټولو خبرو پر بنا زموږ په دین کې په هر مسلمان باندې ضروري او تاکیدي امر شوی چې خپله ژبه اداره کړي او د بدو ویناوو څخه یې وژغوري. داد دسړي غوښې یوه ټوټه چې خالق لایزال په خپل قدرت سره ددوژامو په مینځ کې ایښودلې مطلب یې دادی چې د خپل زړه مطالب او احوال پرې بیان کړو که د ژبې ساتنه ونشي نو انسان ددنیا او داخرت خسارې سره مخامخ دی لوی خدای په خپل کلام قران کریم کې فرمایي. ولاتقف مالیس لك به علم ان السمع و البصر والفواد کل اولئك کان عنه مسئولا: ترجمه: ته پر هغه خبرو هلې ځلې مه کوه چې ته پرې علم نه لرې. خواه مخواه ته د خپل غوږونو، سترگو او د زړه مسئولیت لرې.

ددې مبارك ایت مفهوم دادی یو څوك پاملرنه ونکړي او چې هرڅه یې په خوله راشي ویې وایي او په غوږ یې ورسېږي واوري او په سترگو راشي وگوري نو داسړی گنهگارشو او خدای به ترې نه ددې خبرې پوښتنه کوي.

د چا په زړه کې چې حیاوې هېڅ کله د بل مسلمان ورور غیبت بدگویي او سپکه نه وایي.

په حدیث شریف کې راغلي دي چې کله حضرت معاذ د رسول الله له خوانه د یمن حاکم اعلی مقرر شو نو حضرت معاذ وغوښتل چې څه نصیحت اموز هدایت راته وکړي نو رسول الله خپلې مبارکې ژبې ته اشاره وکړه او وې ویل چې خپله ژبه وساته نو حضرت معاذ حیران شو او وې پوښتله چې یا رسول الله چې انسان د ژبې په واسطه هم ماخوذ(نیول) کیدای شي. نو رسول اکرم وفرمایل: چې ای معاذ خلك چې د قیامت په ورځ جهنم کې اچول کېږي یوازینی علت یې ژبه ده. (مشکوه شریف) څنگه چې د مسلمانانو عقیده ده چې دهر مسلمان سره په اوږو ملایکې خبرې اوري او عمل نامه کې یې لیکي نو انسان باید دافکر ونه کړي چې ما خبرې وکړې او خلاصې شوې بلکه داد ملایکو په دفتر کې دالله په حکم ساتل کېږي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: من کان یومن با الله والیوم الاخر فلا یوزی جاره و من کان یومن با الله والیوم الاخر فلیکرم ضیفه و من یومن با الله والیوم الاخر فلیقل خیرا اویصمت.

څوك چې په خدای او دقیامت په ورځ ایمان لري نو گاونډیانو ته دې ضرر او زیان نه رسوي او څوك چې په خدای او دقیامت په ورځ ایمان لري د خپل میلمه دې اکرام او عزت وکړي څوك چې په خدای او دقیامت په ورځ ایمان لري نو باید د خیر خبرې وکړي او که نه خاموش دې اوسي. درسول الله د نیکو اخلاقو څخه یوه داوه چې هېڅ چاته به یې ښکنځا او لعنت نه ویل او ښکنځا، فضول عبث او بې فایدې خبرو څخه یې ځان ساته ځکه چې ددا ډول کلماتو کارول څخه یوائې

او یوائې انسان گنهگاربږي او بل کومه ظاهری یا باطني فایده ترې لاس ته نه راځي.

اسلام مونږه نه یوائې د مسلمان او انسان په حصه کې د لعنت او ښکنځا څخه منع کړېده بلکه د حیواناتو نباتاتو او جماداتو په حصه کې دامنع شویده.

یو مثال رسول الله یوه ورځ په سفر کې یو ښځه ولیده چې داوښ څخه لاندې پریوته چې د زمکې څخه پورته شوه خپلې اوښې ته یې ښکنځا او لعنت یې وویل نو خوږ پیغمبر هغه ښځې ته په قهر او غصه شو او دغه عمل څخه د بیا کولو منع کړه.

حدیث شریف لایکون المومن لعانا: یعنې مسلمان سړی لعنت ویونکی نه وي.

نو معلومه شوه چې لعنت او ښکنځا کول د مسلمان عادت نه دی او مسلمان داسې الفاظ نه وایي چې د اسلامي اخلاقو د چوکاټ څخه وځي.

اسلام د ډېرو ټوکو اومزاح څخه ممانعت کړیدی په لاندیني دلایلو باندې.

۱- دانسان دغه عمل په زیاتوالي حقیر او سپك بریښي. حضرت عمر فرمایي (من مزح استخف به).

څوك چې ډېرې ټوکې کوي هغه یې عادت گرځي او دخلکو په نظر بې حیثیت کمېږي.

۲- حضرت عمر بن عبدالعزیز فرمایي د ټوکو څخه ځان وژغوری ځکه د ډېرو ټوکو څخه کینه پیدا کېږي او کینه ددښمنۍ ذریعه گرځي. نو دې لپاره داسې شویدي چې که مجلس کوي نو باید دیني مسایل پکې یاد کړي او که نه نو د نیکو خلکو کره وړه سیرت، شجاعت، تقوی بیان کړي.

الودگی هوا و بارشهای تیزابی

نوشته: داکتر شاولی

خداوند (ج) این جهان را در داخل یک چوکاتیکه در هر ساحه و ناحیه ان یک نظم، توازن، و تعادل خاصی حاکم است خلق نموده است. توازن بین زمین و افتاب و مهتاب، توازن بین موجودات حیه و دوران مواد غذایی، توازن بین بحرها، دریاها، باران، ابرو ابهای زیر زمین، توازن بین اخذ و طرح اکسیجن و کاربن دای اکساید توسط نباتات. هر نوع تغیر درین توازن مشکلات و پیچیدگی های بزرگی را برای زندگی زنده جانهای روی زمین و زیر اب پیداخواهد کرد. تغیر کیفیت هوا بالای تمامی زنده جانها اثر مستقیم دارد زنده جانهای روی زمین از اکسیجن ازاد هوا استفاده میکنند و اجسام زنده بحری هم به هوا مخصوصا به اکسیجن ضرورت دارند. فوسیل شناسان ،ماهرین محیط زیست وعلمای بیولوژی دراثرکاوش ها ومطالعات مقایسوی‌خویش بین بقایای حیوانات وانسانهای گذشته و امروز فرق های زیادی دریافته واز جمله چنین میگویند که انسانهای دوره های گذشته بسیارسالم وصحتمند ،دارای تنه های بزرگتر وسیستم معافیت بسیاربلند درمقابل امراض داشتندکه باگذشت زمان وآلوده شدن هوا ،تغیرات درجه حرارت و شرایط زندگی درحالت فزیکی انسانها تغیراتی بمیان آمده است. تغیرات ژیولوژیکی وآلودگی باعث گردیده که حیوانات عظیم الجثه و بزرگ تنه ها مانند داینا سورها وبعضی ازحیوانات آبی کاملا ازبین بروند.

هواییکه اطراف مارا احاطه نموده است وتمام زنده جانها درعمل تنفس ازآن استفاده مینمایند ترکیبی از گازات نایتروجن۷۷ فیصد ، اکسیجن ۲۲ فیصد و کاربن دای اوکساید ، گازات دیگر و بخارات آبی درآن ۱ فیصد میباشد که البته این تناسب در هر نقطه اتموسفیر یک برابر نبوده مثلا در مناطق سرسبز اکسیجن بیشتر بوده و در مناطق که فارمهای مرغداری و مواشی و یا تصفیه خانه های مواد نفتی و گاز وجود داشته باشد گاز میتان بیشتر میباشد. با رشد صنعت که همزمان با ان گازات مضره در ترکیب هوا زیاد شد هوا را که یک جز عمده دوام حیات زنده جانها بشمار میرود از نقطه نظر ساخت و تاثیر ان دگرگون ساخت.

با پیشرفت تخنیک و تکنالوجی، بشر توانست به سرعت از منابع طبیعی در مقاصد مختلف استفاده نماید اما به زودی در یافتند که اکثر فعالیت ها باعث ملوث شدن هوا گردیده تعادل ایکالوژیکی زمین را برهم میزند و زندگی انسانها را در روی زمین با خطرات جدی تهدید می نماید. کشف اتوم وپارچه شدن اتوم فکتوردیگری بود بر بلند رفتن سطح الودگی هوا و درجه حرارت. علمای محیط زیست دست یابی به یک اقتصاد بهتر از راه صنعت و تکنالوجی را یک دست اورد خوب میدانند اما این انقلاب صنعتی که میزان الودگی هوا را صد چندان ساخته است باعث نگرانی علما گردیده است. مالکان کارخانه ها و منابع صنعتی از دیدگاه بلند بردن سطح اقتصادی خویش می اندیشند. اما اینکه دود فابریکه های انها برای زنده جانهای روی زمین و فاضله های فابریکه های انها که باعث الوده ساختن ابهای بحر میگردد برای حیوانات ابی، چه ارمغانی دارد غافل اند. ترقی صنعت یکجا با خود مصایب و الام جبران ناپذیر را در زندگی انسانها و دیگر زنده جانها به میان اورده است که یکی از انجمله مصیبت ها بارشهای زهری یا تیزابی است که برای بار اول در سال ۱۸۷۲ در شهر صنعتی مانچستر انگلستان بوقوع پیوست بعد از ان در سال ۱۹۶۰ در جهیل های سویدن اثرات بارش های تیزابی دیده شد که بعدا این مسئله توجه تمام جهانیان را بخود جلب نمود و حیثیت معضله بین المللی را بخود کسب نمود. چون اکثر گندگی های ابتدائی هوا، بعضا در هوا با هم ترکیب شده باعث تولید کثافات مهلک تری می گردند. اکساید سلفر و نایتروجن با روشنی افتاب مخلوط گردیده و اکسیجن با رطوبت (بخار) یکجا شده تشکیل سلفوریک و نایتریک رقیق رانموده به شکل باران تیزابی یا زهری به زمین فرو میریزد و یا با اب باران یکجا شده به شکل تیزابهای رقیق فرو می ایند. طوریکه همه میدانند اب خالص از

Potential Hydrogen یا از PH ان تعین میشود. در حالت معمول PH اب بارش ها نظر به اب خالص کم میباشد به همین اساس قطرات باران کثافات هوارا با خود گرفته و تیزاب را تشکیل میدهد بطور طبیعی زمین خاصیت جذب یک مقدار محدود تیزاب را دارد که در مواد غذایي نباتات جذب میشود اما در صورت زیاد شدن ناگهانی تیزابیت، زمین مقدار اضافی تیزاب را زایل نموده نمی تواند و در اثر تغیر ناگهانی PH خاک، بکتریاها و نباتات کوچک دیگر تخریب و از بین رفته و در نتیجه خاصیت جذب طبیعی تیزابیت زمین نیز از بین رفته در جهیل ها توازن حیاتی برهم میخورد اگر این بارش های تیزابی بشکل برف در قله های کوه جمع گردند در صورت ذوب شدن انها، دفعتا توازن حیاتی در دریاها و جهیل ها تغیر نموده و باعث از بین رفتن موجودات محیط ابی میگردد.

بارش های تیزابی بطور خاص ساحات جنگلات را متاثر میسازد که بر علاوه مصاب نمودن درختان و نباتات دیگر قوه نامیه تخم انهارا نیز شدیدا متضرر میسازد همچنان ساحات زراعتی و تولیدات زراعتی را کاهش میدهد.

بارش های تیزابی باعث برهم زدن تسلسل زنجیر غذایي گردیده که حیات وحش را نیز بخطر مواجه میسازد.

اوزون و گازات دیگری بنام فوتو کیمیکل اکسیدنت Photochemical Oxidant در نتیجه تعامل هایدرو کاربن ها با نایتروجن اکساید ها و اکسیجن در موجودیت روشنی افتاب تشکیل میگردد. NO_2 چهار برابرنسبت به NO زهریست مقدار زیاد NO_2 باعث امراض تنفسی و حتی مرگ انسان میگردد مقدار کم ان باعث Polycytemia, Emphysema، برهم خوردن تعادل کرویات سفید خون یا Leukocytes شده همچنان جهاز تنفسی را مصدوم باعث امراض جگر قلب، چشم و جلدی میگردد.

اوزون، سبزیجات مزرعه های غله جات و صحت انسانهارا به مخاطره شدید میاندازد و یکی از عوامل بزرگ تشکیل طبقه سیاه دود، کثافات کاکتیل بشمول هایدرو کاربن ها، نایتروجن اکساید ها و کاربن مونو اکساید بوده که باعث بروز فاجعه در روی زمین میشود.

۲۳ سال جنگ در افغانستان همه با انفجارات بارود همگام بوده است که به فکتور های فزاینده الوده گی هوا می پیوندد. قطع شدن جنگلات انبوه در افغانستان زمینه ساز سرا زیر شدن سیلاب ها و برخاست بادهای خاکی که هوارا الوده میسازند می باشند چون سیلاب ها درختان نوخیز و گیاهان کوهی را نیز با خود میبرند.

با تامین شرایط کنونی صلح زمینه فعالیت موسسات ملی و بین المللی و همچنان زمینه برگشت صدها نفر مهاجر به وطن مساعد گردیده است.

که این ازدحام نفوس در شهرها ونیازمندی هم شهریان محترم و موسسات به استفاده وسایل نقلیه ده برابر گردیده است.

عراده جات بسها، لاریها که از انجن انها گازات مضره خارج میشود فوق العاده هوارا الوده میسازند همچنان گازیکه از اثر فعالیت انجنهای اقمار مصنوعی و طیارات به فضا ازاد میگردد نیز شامل است. مقداری گاز که از انجن یک طیاره جت بیرون میشود معادل به مقدار گازیست که از انجنهای ۲۴۰۰۰ عراده در یک دقیقه تولید میگردد.

هوای ساحات شهردارای یک سلسله الوده گی های مختلط وحشت اور وکشنده است که از یکجاشدن گازات سلفر، نایتروجن دای اکساید، کاربن مونو اکساید(اکثرا از وسایل نقلیه)، مرکبات عضوی که اکثرا از فابریکه های کیمیاوی تولید میگردد تشکیل میشود.

از سوخت مواد محروقاتی معدنی که در خانه ها و هوتل ها به پیمانه وسیع استعمال میگردد گاز کاربن مونو اوکساید، سلفردای اوکساید و دیگر گازات مضره در هوا پخش شده و هوارا الوده میسازد. مزارع برنج نیز یک مقدار زیاد گاز میتان را در هوا شامل مینماید.

آزادشدن گازات مضره درهوا باعث گرم شده جهان وبلندرفتن درجه حرارت میگردد.

دراقلیم تغیراتی بمیان آمده که اثرات منفی آن بالای تمام زنده جانها میباشد.

سیستم میتابولیزم درحیوانات ونباتات تخریب میگردد. آبدات و آثارتاریخی تخریب گردیده و ازبین میروند.

نبودن تیم های موظف ترافیکی در شهرها که موجودیت موترها وعراده جات به اصطلاح مبلایل یا مبلین خور را چک کندیک عامل مهم در آلوده سازی هوای شهرها دانسته میشود.

خشکسالی های پی در پی، بادهای موسمی و نا گهانی وافزایش آمد و رفت ها و تراکم نفوس در شهرها و نبودن پروگرامهای آبپاشی شهرها توسط موترهای آبپاش از طرف مقام محترم شاروالی زمینه های آلودگی هوارا مساعد ترساخته است.

موجودیت داش های خشت پزی و حمام هایکه درین اواخر در شهرها ایجاد

گردیده است و در ضمن کنترول نشدن مواد سوخت و سیستم دودکش های انها از طرف مقامات مسئول دولتی، بر الودگی هوا شهرها افزوده است.
تالاب ها و اب های استاده در چقوریها و جویهای داخل و نواحی شهر و نبودن تیم های منظم دواپاشی از طرف مقام های محترم وقایوی ذیربط، زمینه تکامل و افزایش حشراتی راکه باعث انتقال مرض ملاریا و غیره میگردند مساعد می نماید و از جانب دیگر تجمع ابها در یک منطقه برای مدت زیاد باعث بدبویي گردیده که خود یک عامل بسیار مهم در الودگی هوا بشمار میرود.
قطع شدن جریان برق که در انصورت همشهریان محترم از اشتوپ های دیزلی تیل خاکی. چوب یا گاز استفاده می نمایند و همچنان موسسات خارجی بخاطر حل مشکلات بی برقی از جنراتور استفاده میکنند همه این عوامل در الودگی هوا سهم بسزائی دارد.
تراکم خاک جارو در جاهای تعین شده از طرف مقام محترم شاروالی و پراگنده ساختن خاکروبه ها نسبت بی توجهی همشهریان محترم در نزدیک خانه ها، باز بودن دریچه های خاک انداز یا بد رفت بطرف کوچه ها و راه های رفت امد مردم که بعضی اوقات مواد فاضله خاک انداز ها به کوچه ها نیز بیرون میریزند همه در الودگی هوا نقش های کلیدی دارند چونکه در اثر شعاع افتاب مواد فاضله خاک جارو و دیگر کثافات خشک گردیده و شکل خاک را بخود گرفته که وزش بادهای نسبتا تند شهرها این خاک های الوده کثافات را به هوا بلند نموده در خانه ها و برسر صورت هم شهریان ما می نشاند. زنده گی در یک محیط دارای هوای الوده با کثافات و گازات اضافی زهری زمینه شیوع بیماریهای محرقه، پیچش، کولرا، کرمهای روده، تخریش جلد، چشم دردی، سرفه های مزمن، التهاب بینی و سرطان گلو، شش و حتی سرطان خون را به بسیار سادگی مساعد نموده میتواند.
زندگی بطور پیوسته و دوامدار دریک محیط الوده با گازات که دراثر جذب ماده های زهری دربدن تولید میگردد باعث سرطان شش، جلد وغیره گردیده و حتی ممکن است کشنده ثابت شود.

پیشنهادات وراه های بیرون رفت ازین مشکلات:

- جنگلات باید حفاظت گردند.
- در سرسبز ساختن شهرها و منازل توجه جدی صورت بگیرد.
- ابپاشي سرک های عمومی در ساعات ۷ صبح و دونیم بجه بعد از ظهر که وقت های رفت و برگشت موتر های مامورین میباشد صورت بگیرد.
- کثافات از کثافات دانی ها زود زود برداشته شوند.
- از سوختاندن چیزهای داش ها حمام و پلاستیکی چه در خانه ها و یا فابریکه ها جدا جلوگیری صورت بگیرد.
- بیت الخلا هایکه در کوچه های شهر و اطراف به شکل های قدیمی ان باقی مانده و هنوز هم از انها استفاده صورت میگیرد باید از طرف مالکین خانه ها و یا موسسات محترم ترمیم گردند تا مواد های فاضله انها در کوچه ها سرازیر نگردند.
- مقام های محترم ریاست ترافیک و یا وزارت داخله تیم های منظم تشکیل بدهند تا موجودیت به اصطلاح موتر های مبلین یا موبلایل خور را که دود غلیظ از سلنسر های انها بیرون میشود توقف بدهند تا مالکین هرچه عاجلتر موتر های خودرا ترمیم نمایند.
- برق ابي بدسترس همگان قرار بگیرد تا میزان استفاده از چوب. زغال سنگ. تیل و گاز کاهش یابد.
- مواد سوخت داش های خشت پزی و حمام ها باید از طرف مقام های مسئول بررسی گردند.
- فاصله داش های خشت پزی و فابریکه های صنعتی از شهرها و منازل مسکونی، باید مطابق معیار های قبول شده بین المللی باشد.
- بالای مالکین فابریکه های صنعتی و داش های خشت پزی فشار وارد گردد که انها اخراج گازاتی را که هوا را الوده مینماید دورانی یا ریسایکل نموده و مقدار انرا کم سازند.
- در دود کش های فابریکات خویش باید فلتر های تصفیه گازات سلفر را نصب نمایند.
- ذریعه اخبار و وسایل اطلاعات جمعی، همشهریان محترم را در مورد تهدید خطرات ناشی ازین الودگی ها باید اگاهی داده شود.

استفاده از هوای پاک حق طبیعی هر زنده جان است تا بتواند از حمله امراض های گوناگون مطمئین زندگی‌کند. تراکم نفوس در شهرها وعوامل الوده سازنده انها ممکن است در اینده بیشتر از امروز باشد. با توجه مقام ها ذیصلاح دولتی، موسسات غیر دولتی مالکین فابریکه ها و همکاری همشهریان محترم میتوان ازین مشکل وبایی وروز افزون رهائی یافت و زمینه یک زندگی بدون ترس از امراض گوناگون رابرای هم شهریان محترم مساعد ساخت.

نرګس سیلاب

افغانستان ته په درویشت کلنو جنګونو کې رنګارنګ زیانونه اوښتي او دهېواد هرې خواځه ناځه صدمه لېدلې ده، په دغه اوښتو زیانونو کې یې ډېر لږ داسې دي چې بېرته یې رغښت او سمون شونې دي خو د دې ترځنګ څه داسې زیانونه او تشې هم
هېڅ نه راغلې چې رغښت او
سمون یې ترډېره نا شونی
دی لکه دبودا لوی
وړې مجسمې او یا
دومره هاند غواړي چې
افغانان یې څواک نه لري
که څېره د بشر پرخوا را
وګرځو نو باید له دې سترګې پټې
نه کړو چې زموږ ګڼ شمېر ځنګ ځپلي
افغانان د رواني ستونزو په سیلاب کې لاهو شوي دي دلته ډېرو ضد بشري اعمالو د خپل مسلسل تکرار له امله په خلکو کې نږدې د عادت بڼه خپله کړې ده یانې وهل ټکول سپکول او آن وژل اوس چاته د تعجب او اریانتیا خبره نه ده د ماشوم حقوق، د ښځې حقوق د سړیو حقوق یو مجموع کې د بشر حقوق او آن د ژوندیو ژویو حقوق چاته له پامه هېڅ نه ورځي او په هر ګام وینو چې د بشر حقوق تلف کېږي دغه جنګونو زموږ له کوچنیانو څخه د تفریح او زده کړې حق اخستی وو او له لویانو څخه دکار او چوپړ او په بدل کې د ناوړه اقتصادي حالت له امله د کیارو بوجې ور پر اوږه کړې ده کوچني کوچني نجونې په ګداې او سوال کې پیغلې شوې اولویان له توپ او ټانګ یا ټوپک سره، داستونزې بیا له هغې ستونزو سره نه شو پرتله کولای چې د جنګونوڅخه په میراث راپاتې دي یا نې د معیوبیت ستونزه معیوبیت زموږ د ټولنې له معیوبینو وګړو څخه د ژوند خواږه اخیستي په ځانګړې ډول ښځینه قشر چې د ماین او یا نورو باروډي وسایلو له امله معیوبې شوي دي د ژوندانه

معیوبې
ښځې پر
معیوبیت سربېره
په خپل ژوندانه کې د
خجالت، حقارت او کمتري
په احساس هم کړې دي
تر اوسه چې د معیوبینو د بیا رغونې له پاره څومره لګښت شوی نو د معیوبو ښځو ونډه یې لږه آن د نشت برابر ده او دوی ته داسې کسب نه دی ورښودل شوی چې د خپل فزیکي قوت سره سم کار وکړي او ځانته ډوډۍ پیداکړي درمل او نور خولاپرېږده د خلکو ناوړه اقتصادي حالت هم ددوی په مشکلاتو کې بشپړ اغېز لري
دلرې پرتو سیمو معیوبې زنانه په عادي او ورو ناروغیو کې ډاکټر ته نشي بیول کیدای او دوی اړې دي چې له ناروغیو سره په: اصطلاح ، دروغجن مقاومت وکړي او د برستنې لاندې د سپینې چینې د لیدو په ارمان له دنیا سترګې پټې کړي، او یا نورو خواړه یې د مصیبت په ترخو بدل شوي د ځکه زموږ په ټولنه کې چې روغه ښځه له خپلو ټولو حقه حقوقو څخه نه ده برخمنه نو ایا هغه معیوبه به پداسې ټولنه کې څه ډول ژوند او حالت ولري؟
پدې ټولنه کې معیوبه ښځه د پلار په کاله زړېږي او تر مرګه د احتیاج ژوند تېروي
هغه له دې څخه بې برخې وي چې
چېرته یې زړه وغواړي لاړه شي
څنګه یې خوښه وي کالي
واغوندي او څه یې
خوښه وي وېې
خوري، ددې
ټولنې

مواردو کې په ټولنه کې ددوی خبرې او نظر ته چندان پام نه کېږي او په دې توګه دوی په اجتماع کې د ځان په اړه د تجرید او ګوښې والي احساس کوي دوی له واده او اولادونو بې برخې وي یواځې او یواځې دمرګ په انتظار د ژوند شپې او شپېږ شمیري
او دنورو ژوندیو ترمنځ ځان نیمګړی احساسوي د معیوبینو د بیا رغونې سازمانونه باید خپل مسوولیت ډېر دروند احساس کړي او د بې وزلو او بې سرنوشته معیوبینو ته د ژوند دبڼه کېدا ور لارې چارې ولټوي پدې کې زیار وباسي چې معیوبین د خپل څواک سره سم د کار او کسب خاوندان شي او په خپل لاس خپله نفقه وګټي داسې پروژې په کار راوړي چې په ټولنه کې یې اسره ځرګنده وي کنه نو هسې تشې خبرې د معیوبینو په ناوړه ورخ کې بدلون نشي راوستلای او تر ټولو ضروري خبر داده
چې د معیوبینو بیا رغونې ته
داولیت حق ورکړي.



رحیم الله سمندر (له IWPR څخه)

اثار تاریخی موزیم هرات تلف گردیده



هرات یکي از ولایات باستاني و تجارتي کشور بوده ، که ابدات تاریخي آن به ادوار مختلف تعلق دارد. مسجد جامع هرات، قلعه اختیارالدین (بالا حصار هرات)، هفت منار مقبره و باغ گوهر شاد بیگم، زیارتگاه پیر هرات و دیگر اما کن تاریخي آن توصیه جهانیان راجلب نموده است.

یکتعداد اثار باستاني و تاریخي هرات که از مناطق مختلف این ولایت کشف گردیده بود با تعدادی از تابلوهای نقاشي ورسامي، کتوب خطي، و تفنگ های قدیمی در موزیم هرات نگهباني می شد. در زمان حکومت کارمل وزارت اطلاعات و کلتور وخت و شورا ولایت هرات فیصله نمود که نسبت مساعد نه بودن اوضاع در هرات باید اثار تاریخي موزیم هرات به کابل انتقال داده شود. برای عملي نمودن این پیشنهاد یک هیئت توظیف گردید تا اثار موزیم بررسي و در صندوق جابجا گردیده به کابل روانه گردد. طبق فیصله تمام این اثار در صندوق های مختلف جابجا گردیده به میدان هوایي هرات جهت

به کابل نقل گردیده بعد هیئت مذکور با مشوره والي هرات از انتقال آن به کابل صرف نظر نمود، و صندوق های این اثار در تحویل خانه ریاست سابقه رادیو تلویزیون هرات مخفیانه جابجا نمودند این اثار تازمان پیروزی مجاهدین درهمان جا محفوظ بوده است.

درسال ۱۳۷۳ امیر صاحب حوزه غرب کشور اسماعیل خان هیئت راتوظیف نمود تا این اثار را به قلعه اختیارالدین (ارگ هرات) نقل نمایند. این اثار بعد از کشیدن آن از صندوق های مخصوص توسط هیئت تعین شده تورنجنرال غلام محمد مسوون، رئیس سره میاشت یعقوب شاه قاضي

[illegible]
محمدالدین فهیم معاون تدریس تعلیم و تربیه و رئیس اطلاعات و کلتور عبدالروف مخلص تحت موجودي و ملاحظه قرار گرفت.

طبق نقل قول مظهر و حیدی امر ابدات تاریخی هرات : دران زمان در اثار موزیم (۲۰۰) عدد مجسمه مختلف النوع خورد و بزرگ گمچی دوره بودا (۲۳۰۰) سکه مختلف النوع از دوره های امیر تیمور گرگان کنشکا و غیره ۴۴ عدد تابلو های نقاشي و خطاطی از استاد بهزاد و غیره، صدها تن ظروف سفالی فلزی خط دار رسامی شده از ادوار مختلف، (۱۴۰) جلد کتاب خطی. و در بخش نظامی تفنگ های قدیمی، شمشیر و تفنگچه های قدیمي موجود بود.

بعد از انتقال اثار تاریخی موزیم به قلعه اختیار الدین موزیم به دوبخش تقسیم گردیده بخش هنری و بخش نظامی در بخش نظامی صلاح های جدید نیز علاوه گردید که هر دو بخش موزیم در تعمیر های جداگانه داخل اطاق های مخصوص جابجا گردند.



درسال ۱۳۷۳ در موزیم هرات در قلعه اختیارالدین رسماً از طرف امیر صاحب اسماعیل خان افتتاح گردید و هر کس می توانست تکت خریده از موزیم دیدن نماید. مراجعین به یک نظم خاص به موزیم داخل می شدند که از طرف موظفین تالاشي جدی و مراقبت صورت می گرفت. قیمت یک تکت برای هموطنان (۵۰) الی (۱۰۰) افغانی و برای مراجعین خارجی (۵) دالر امریکایی تعین گردیده بود.

زمانیکه طالبان هرات را تصرف نمودند، در همان سال از ۱۵- ۱۸ سنبله یکتعداد مسکوکات قیمت بها از طرف طالبان وافراد نظامی ایشان سرقت گردید. بعد ازین حادثه دروازه موزیم مسدود گردیده از طرف طالبان محافظت می گردید. اما زمانیکه فیصله شکستن بت بامیان توسط ملاعمر صادر گردید، بتاریخ (۱۵) ذالحجه الحرام سال (۱۴۲۱) معاون و رئیس تنظیم ووالي هرات عبدالحنان جهادوال، رئیس اطلاعات و کلتور رحمت الله فیضان رئیس امر بالمعروف رئیس قضایای امارت و رئیس حقوق داخل موزیم شدند.

این زمانی بود که مجسمه های بودا، تابلو و نقاشي های استاد بهزاد دیگر جای در موزیم نداشت تاریخ و هنر حفظ



شده هرات لحظات آخری را سپری می نمود و با پوکهای وزمین سنگ شکن بخاک یکسان گردیدند.

تنها حیزی که در موزیم باقی مانده



عبارت بودند از (۱۱۱) جلد کتب خطی، چند کوزه وظروف سفالی و فلزی که تصویر نداشتند، (۱۳۸۱) سکه و تعداد ۲۰ تفنگ قدیمی و یک شمشیر. صندوق های که دران اثار نگهبانی می

شد تمام ... شده شیشه ها شکسته و داخل اطاق های موزیم به شکل مخروبه تبدیل گردیده است بعد از سقوط طالبان زمانیکه امیر صاحب اسماعیل خان دوباره زمام امور را در هرات بدست گرفتن اکتوبر امر نمود که هیئت از رئیس اطلاعات و کلتور عبدالهادی فایق، امر ابدات تاریخی مظهر وحیدی، مدیر موزیم شیخ عبدالغفور و دو نفر باستانشناس شهر هرات حاجی عبدالحق و معلم غلام سخی خان ترکیب گردد تا از موزیم دیدن نماید اثار باقی مانده را موجودن و ملاحظه نماید و خسارات وارده را بررسی مصارف احیه مجدد آن را براورد نموده به مقام والي پشنهاد نماید. موزیم و صندوق های آن ترمیم خواهد شد و لیکن مجسمه های بودا و نقاشی های استاد بهزاد قابل ترمیم و استفاده نخواهد بود.



د اومر رئیس په دوبۍ کې له نړیوال ورکشاپ نه راستون شو

د اومر موسسې رئیس او د ماین پر ضد د افغانانو د مبارزې موسسې غړی او پخوانی مشر الحاج فضل کریم فضل عبدالرحیمزی د روان عیسوی کال د ستمبر له ۲۰-۲۳ تاریخ دوبۍ ته د ملګرو ملتونو د سازمان له خوا جوړ شوي ورکشاپ ته د افغاني دولتي او غیر دولتي موسساتو په نماینده ګۍ په رسمي سفر تلی و.

دغه ورکشاپ چې د افغانستان د لرې پرتو سیمو سره د ځمکې د ماینو له کبله د بېړنیو مرستو له پاره جوړ شوی و، چې پکې WHO سویس اومر - USAID WFP متحده خواکونه یونیسف او نورو ګڼو موسساتو برخه درلوده. الحاج فضل کریم په خپل وار د وچکالیو او بیماریو څخه په رازیږیدلو ستونزو خبرې وکړې. نوموړي وویل چې زمونږ د هیواد د لرې پرتو سیمو خلک د همدغو دوه لاملونو له کبله د سختو اقتصادي شرایطو لاندې شپې ورځې تېروي او په راتلونکې ځمې کې له دول دول ګواښونو سره مخامخ کیدونکي دي نوموړي زیاته کړه چې افغاني موسسات په یو منظم پلان او تګلارې سره چې څومره زر کیدای شي دغه مرستې اړو خلکو ته رسولای شي خو ملګري ملتونه او نړیوال خواخوږي باید زمونږ اړو او بې وسو هیوادوالو سره خپلې مرستې جارې وساتي.

فضل وویل چې که د افغانستان د لرې پرتو سیمو د خلکو سره سر له اوسه مرستې پیل نشي نو د ژمي په رارسیدو سره به دغه کار ډیر ستونزمن شي په ورکشاپ کې د افغانستان اړو خلکو سره د ژمي د سرولو امله د مرستي ژمنې و شوې او تر ډېرې ورځو بحث نه وروسته ورکشاپ پای ته ورسید







کفایت الله ابلاغ دانکیلی شهاب حکیمی
الحاج فضل محترم مولك .



د مخابرات وزیر ستانکزی ،
ابلاغ او الحاج فضل



الحاج فضل او وندرل



الحاج فضل، داکتر سید عالم،
انجنیر فخرالدین او
د جاپان د دولت نمائنده گان



مس سلیمی ، ماریو ،
د امریکی سفارت نمائنده
او انجنیر فخرالدین عزیزی





الحاج فضل،
داکتر صدیق ویرا



شهاب حکیمی، غلام نبی
فراهی محترم مولف
د ښار سازۍ وزیر انجینیر پشتون،
فرانس وندرل او الحاج فضل



الحاج فضل ، او
دجاپان د دولت نمائنده گان



الحاج فضل او
د جاپان خبریاله



الحاج فضل او دا نګلي

د اومر موسسې او مګماستر پوهنتون په ګډه هڅه د هیواد په بېلا بېلو ښارونو کې د نفرت او کدورت د لمنځه وړلو ورکشاپونه ترسره شول

د لویکی د مګما ستیر پوهنتون د سولې د پروسې د PHD څانګې او د اومر نړیوالې موسسې په ګډه هڅه په جلال اباد اومزار کې د نفرتونو د ورکاوي په اړه دوه ورځنې ورکشاپونه دایر کړل چې پکې دولتي مخورين او کامی مشران او بېژندل شوي اشخاص راغونډ شوي وو دوی په ګډه په دغو ورکشاپونو کې د نفرت او بدبینی دوراکاوی په لارو چارو ګټوری خبرې وکړې لا د هر یوه د بحری په رڼا کین پری تاوده بحثونه وشول.

ددغه ورکشاپ یوه برجسته پایله داوه چې په هر لحاظ به چې وه خو دوه مخالفو قطبونه به سره مخامخ کیناستل او د مفاهمی له لاری په یې دغه مسایلو باندې بحث کولو چې په ورستی ورځ به دواړو قطبونه خپلو کې د پوره همیت څخه ډك ښکاریدل او داسې تری انګیرل کیده چې افغانان په خپلو کې سره د مفاهمی له لاری خپلې دښمنی او ستونزی حل کولای شي خو دا چې دوام یې درلود لامل یې همدغه مفاهمه وه او ددوی تر منځ د فاصله هم په دغه لړۍ کې به لومړی قدم کې په جلال اباد او بیا په مزار شریف او د دریم ځل له پاره بیا د اکتوبر په ۲۳-۲۴ باندې به جلال اباد سپین غر پیوتل کې دوه ورځنی سیمنار دایر شو.

د سیمنار بیل د اومر موسسې د جلال اباد د څانګی مشر ښاغلی انجنیر تیك محمد لخط وشو نوموړی وویل مونږ ته جنګونو په بېلا بېلو برخو کې ستونزی پیدا کړی چې نتیجه یې د خلکو ترمنځ دښمنی او نفرتونه دی زموږ د سیمنار هدف همدا شیان له منځه وړل دی. ورسته قاضي سباوون د قرانکریم څو مبارکو ایاتونه تلاوت کړل او وریسی د ننګرهار محاکمو لوی رئیس ښاغلی صدیق الله حقیقی خبرې وکړې نوموړی د نفرت او کدروت مسئله د اسلامی احکامو په رڼا کې وڅیړله او د سیمنار برخوالو ته یې یادونه وکړه چې د اومر موسسې ته خدایه پیاوړتیا غواړو چې په ګانده کې هم دغسې نیك قدمونه واخلي. نوموړی وویل اسلام ټول مسلمانان د یو وجود په توګه پیژني وریسی ښاغلی والی الحاج دین محمد خبری وکړی او خلکو او برخوالو څخه یې وغوښتل چې د غچ اخیستنې بدمرغه لړۍ د عفوې په نعمت سره غوڅه کړی او دوراند ویجاړ هیواد د ابادی په لار کې خپله خوله او څخوی او نور له نفرتونو او کدورت نه لاس په سر شي ځکه همدغو بدبینو زموږ هیواد په پر له پسی توګه رنګ کړه وریسی د ننګرهار مستوفی ولسوالانو او سپین ږیرو په خپل وارسره د نفرت او بدبینی دورکاوی په اړه خپل نظر څرګند کړ او په پاي کې پریکړه وشوه چې دغه ګټور پروګرام باید ولسوالیو ته انتقال شي او هلته پدی موضوعاتو ځانګړی سیمنارونه جوړ شي.

د المان د اسلامي اړیکو مشر ښاغلي مولك په ویاړ اومر موسسې په مرکزي دفتر کې یوه میلمستیا جوړه شوه

د روان عسوی کال د ستمبر په ۲۹ (۲۰۰۲) دیکشنبی په شپه د افغانستان دپاره د ماین پاکولو او بیا ودانولو موسسې " اومر" له خو د المان د دولت د اسلامي اړیکو د مشر ښاغلي مولك په ویاړ یوه میلمستیا جوړه شوه په دغه میلمستیا کې پر ښاغلي مولك سربیره د افغانستان د ښارسازی وزیر ښاغلی انجنیر پشتون، ښاغلی حامد ګیلانی، داکتر صدیق ویرا، شهاب حکیمی، فاطمه ګیلانی، د ښاغلی کرزی د دفتر رئیس ښاغلی صالح صاحب د جرمنی سفارتی نماینده د امریکا سفارتی نماینده فرانس ویندرل اروپائی ټولنې نماینده دانیل کیل د ملل متحدو د ماین اکشن پروګرام مسؤل په افغانستان کې و نورو ښاغلو برخه واخسته دغه مهال د اومر موسسی مشر ښاغلی الحاج



فضل ټولو بهرنیو او دننیو میلمنو ته وویل چې نن مونږ د یو ځوان جمهور رئیس په درلودلو سره ډېر وړیو چې د نړی با اعتباره وګړی زمونږ هیواد ته سفر کوي او د افغانستان د بیا ابادی په اړه هڅې او وس کوي مونږ ته پکار دي چې د خپل ځوان جمهور رئیس ښاغلي حامد کرزي سره د چارو په لاښه پرمختیا کې خپل اخلاص وکړو.

ځکه که زمونږ توقعات د افغانستان له ظرفیت نه زیات شي او خداناخواسته دغه دروند باریوازې د ښاغلي حامد کرزي پراوګو پریږدو او خپلې اوګې سپکې وګڼو نو بیا به مو خپل هویت ورستنی سلګي ته په خپله خدای په اماني ویلې وی.

دلته دمشر مولك په ویاړ جوړه شوی غونډه فرصت بو لم او خپلو افغانی ورونو او بهرنیو دوستانو ته خواست کوو چې په داسی سختو شرایطو کې مونږ هیرنکړي او نور نو زمونږ د خلکو د زوریدنې په ازمایښت کې برخه وانخلي.



پریږدي چې مونږ خپل ځان په خپله جوړ کړو تاسې د نړۍ نمایندګان او زمونږ واکمن په ګډه سره په خپلو غوښتنو پښنې کیږدی او دغه در په دره خلك دارام ساه اخستو ته پریږدی.

ليك: طيبي

دکابل ژوبڼ سره دچين دخلکو جمهوريت دژويو مرسته وکړه

دچين ولس کابل ژوبڼ ته د (۹) ژويو مرسته وکړه په دغه ژويو کې يوه جوړه زمريان يوه جوړه يږې يوه جوړه دخوږ بچيان يوه جوړه هوسۍ او يو ليوه شامل وو.

دغه ژوي د۲۰۰۲ کال داکتوبر په (۳۰) مه نېټه په کابل کې دچين ولسي جمهوريت سفير له خوا دژوبڼ مسوولينو ته وسپارل شول.

يوولس کلن الياس دکابل ښار حبيبيي لېسې زده کوونکی دخلکو په ګڼه ګوڼه کې ولاړ وو چې دکابل ژوبڼ دننه يې له دوه تورو يږو څخه ليدنه کوله الياس وايي: ((خوشاله يم چې دچين جمهوريت دکابل ماشومانو ليدو ته نوي ژوي راوليږل ماتر اوسه دومره غټې يږې نه وې ليدلي ډېر قوي حيوانات دي.)) داليياس په څېر ګڼ ماشومان او لوي خلك په هر ځای کې دنويو راوړل شويو ژويو پنجرو ته ولاړ وو فرشته دکابل اوسېدونکې دزمريانو لېدو ته ولاړه وه دا وايي: ((زموږ نور همسايه او دوست هېوادونه هم بايد دچين له اولس نه زده کړه وکړي او دوسلو پرځای موږ ته دتفريح وسايل، دژوبڼ حيوانات راوليږي او پارکونه جوړ کړي.)) دکابل ژوبڼ مسول شېراغا وايي: ((دنويو ژويو په راتګ سره دکابل د ژوبڼ په مراجعينو کې څو چنده زياتوالی راغلی دی او همدغه راز دژوبڼ عايد هم زيات شوی. پخوابه دورځې ۴۰ يا ۵۰ تنه دژوبڼ ليدو ته راتلل او اوس درسمياتو په وخت کې هره ورځ ۲۰۰۰ نه تر ۲۵۰۰ پورې ماشومان، ښځې او لويان راځي.)) دنويو ژويو تررارسېدو وړاندې په دغه موزيم کې (۲) وطني يږې، يو ښځينه ليوه (۵) بيزوګان (۳) دانې عقاب درې دانې غالموش (Miles migrans) درې دانې پك چرګان (vulture) (۲۴) دانې ادم چهره مرغۍ (Budgerigar) ۱۲ کفترې يو بوم او ځينې سويان لرل له دغې پورتنيو ژويو پرته يو (مرجان) زمری هم له ډېرو کالو راهيسې دلته موجود وو چې څو کاله پخوا دتوپك خاوندانو له خوا ړوند او بيا څه موده مخکې مړ شو. په کابل کې دچين سفارت اقتصادي او تجارتي استازی (Lu changin) وايي: ((دکابل ښاروالۍ او دژوبڼ مسولينو موږ ته ډاډ راکړی چې ددغو ژويو په ساتنه کې به خپل ټول امکانات په کار واچوي چې دا اړتيا پر مهال موږ هم ښايي مرستې ورسره وکړو)) نوموړي زياته کړه چې ددغو ژويو درانقلولو لګښت دچين ددولت پر غاړه دی موږ يوه ترکمنستانۍ طياره کرا کړې وه خو دکابل ژوبڼ اوسنی حال دپا ملرنې وړ دی ځکه دلته دژويو سمه ساتنه نه کېږي په ژوبڼ کې ديو عقاب سترګه ړنده او پربلې بېړانه راختلې وه چې زخم يې درلود، همداراز دپنجرو پاکۍ ته پاملرنه نه کيږي دوطني يېږو له پاره په جوړ شوي ډنډونو کې اوبه نه وې او پخوانۍ اوبه يې خرابې شوې وې. خو دژوبڼ مسول شېراغا وايي: دافغانانو علمي سويه ټيټه ده ځکه دوی دژويو په قدر نه پوهيږي او دژوبڼ اصولو ته پاملرنه نه کوي زيات وخت واړه کوچنيان دپنجرو دننه شيان غورزوي چې دناپاکۍ سبب ګرځي بايد معارف وزارت په ښونځيو کې توصيه وکړي چې له دغو کارونو لاس واخلي. ژوبڼ ديوه ټکټ بيه (۲۰۰۰) افغانۍ چې له (۲) نويو افغانيو سره برابرې دي ده او هر څوك يې پرې کولای شي.

له ښاغلي شازلمي زلمي سره مرکه

ښاغلی شازلمی دامن مجلې لوستونکو ته ځان ورو پيژنۍ؟

د خپل ځان په اړه به درته څه ووايم پلار مې (محمد اشرف خان) دې خدای راته ژوندی لري، راته کيسه کوله چې په د دموکراسۍ په لسيزه کې زوکړی يې دا مهال ۱۳۴۳ کال و، ټول ټبر مې د ننګرهار و بهسودو په غازي کلي کې مېشت دی او په ختېه محمدزی پښتون يم.

له څومره وخت نه مو شعر ويلو ته مخه کړيده؟

ان له وړکتوبه مې له شعر او شاعرۍ سره مينه وه، د شاعرانو اثار مې لوستل او له هغه څخه مې خوند اخيست خصوصا اروابښاد شهيد استاد ملنګيار نه ډېر متاثره وم او له همده نه مې د شعر اصلاح هم اخستې ده او قابو لس دولس کاله کيږي، چې يونيم مات ګوډ شعر هم ليکم.

د چاله شعرونو سره موعلاقه ده؟

د حمزه باب له شعر سره ډېره علاقه لرم د خدای ببښلي استاد ملنګيار شعرونه مې هم ډېر خوښيږي او د الحاج فضل کريم فضل شعر مې هم ډېر خوښيږي ځکه روان، ساده او دولس په اصطلاحاتو برابر دی.

د تیرې گڼې جایزه ایمل خان او احمد ضیاء ورونو گټلې چې زموږ پوښتنو ته یې سم ځوابونه ویلي دي

د امن مجلې پوښتنو ته جوابونه

- ماینونو پر ضد د افغانانو د مبارزې بنسټ په ۱۹۹۷م کال کیښودل شو.
- ACBL لومړی ځل پاره په مرکز (کابل) کې پیل شو.
- هغه درې نړیوالو غونډې چې ماینونه تحریموي عبارت دي له اوتاواغونډه، بروکسل غونډه، ACBL غونډه.
- او تاوا تړون لاسلیك پر مهال ACBL شرې د اومر موسسې په غاړه ده.
- د ماینونو د تحریم معاهده د لاسلیك له پاره ښاغلي حامد کرزي ته الحاج فضل کریم فضل عبدالرحمیزي وړاندې کړه.
- اومر د خبرتیا ټیمونه په ټولو ولایتو کې دنده اجراء کوي.
- ماین تحریم ژمنه د توکیو په غونډه کې وکړه (دولت رئیس)
- ماینونو لپاره د افغانانو د مبارزې هدف دماین لرونکې هیوادونو څخه غوښتنه ده تر څو ماینونه له منځه یوسي او په جګړه کې ماینونه استعمال نکړي.
- په ناپیژندل شوو ځایونو کې باید د عمومي لارې څه استفاده وشي او کوم ناپیژندل شوی شي ته لاس ورنه وړي او ورنږدې هم نه شي.
- که چیرې په یوه ملګرې باندې د ماین پیښه وشي باید مخکې ددې څخه چې د هغه کومك لپاره ورشو د هغه شاوخوا په ماین پال وګورو او بیا ټپي د پیښې د ځای څخه پاك ځای ته رانقل کړو او زخم یې وتړو او وروسته یې کلینیك ته منتقل دړو.
- که د ماین سیمې ته په ناڅاپي ډول ورداخل شو باید د خپلو پښو هغه پلونه بیرته تعقیب کړو پرکومو چې ساحې ته داخل شوی یو او بیرته د ساحې څخه پرشاولاړ شو.
- که په اشنا ځای کې نا اشناشیان وینو باید هغه سیمه پرننبه کړو او ماین پاکانو ټیم ته یې وریه ګوته کړو.
- په ماین پاکۍ کې د سرو او سپینو ډبرو هدف دادی چې په کوم ځای کې چې سرې ډبرې وي هغه د خطر علامه ده او هغه سیمې ته باید داخل نه شو اوسپیني ډبرې د پاکې شوی سیمې معنی ورکوي چې ماین پاکانو لخوا پاکه شوې ده.
- د ماینونو د خطر طبیعي نښې دادي چې عسکري بوټونه یادریشې همدرانګه وچ واښه او د ځارویو هډوکي پراته وي او نور تخریب شوي شیان د کباړ د ټولولو خطرات دادي چې کیدای شي، چې پدغه کباړ کې ناچاودي مهمات وي او په کباړ ټولونکي انفجار کوي.
- ناچاوده توکي هغه خطري شیان دي چې باروت، فیوزونه او نور خطرناك شیان ولري او انسان د وژنې ټپي کیدو سبب ګرځي.
- افغانستان ۲۶ هیواد دی، چې د اوتاوا تړون یې لاسلیك کړو.

ډاکتر ایمل خان کابل پوهنتون

جوابات سولهای ذهنی مجله امن

جواب سوال اول: هدف از مبارزه افغانها علیه ماین اینست که از کشته شدن و معیوب شدن میلون ها انسان معصوم و بی گناه جلوگیری شود. و ماین کاملا تحریم شود.

جواب سوال دوهم: معاهده اوتاوا را در سال (۱۹۹۷) (۱۲۲) مملکت و در سال (۱۹۹۹) ، ۱۲۵ مملکت و تا سال (۲۰۰۲) (۱۴۳) ممالك امضا و یا تصویب نموده است.

جواب سوال سوم: محترم حامد کرزی رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان در کنفرانس توکیو و عده امضا نمودن تحریم ماین را فرموده.

جواب سوال چارم: موسسه OMAR یک موسسه خیریه، غیر دولتی میباشد.

جواب سوال پنجم: تقریبا هفتاد الی هفتاد وپنج فیصد قربانیان ماین اطفال میباشند.

جواب سوال ششم: اطفال از این خاطر زیاد قربانی ماین میشود که سروکار اطفال با چیزهای بازیچه میباشد و یا جمع کردن کباړ و چراندن حیوانات در ساحه ماین میباشد.

جواب سوال هفتم: هموطنان به خاطر که در وطن ما ماین بسیار است پروگرام اگاهی و خطرات ماین بسیار هموطنان ما را اگاد ساختن و یک پروگرام مفید است.

جواب سوال نهم: کوچیها به خاطر که هم شب و روز زندگی و گشت گذر اینها در دشت ها و خرابها میباشد بیشتر قربانی ماین هستند.

جواب سوال دهم: علامات ماین پاکی نشانه های سرخ و آبی و سفید است.

جواب سوال یادزهم: نشانه های محلی عبارت از سر به سر ماندن سنگها و علف سبز و خشک، و غیره.

جواب سوال دوازدهم: ساحات نشانی شده به رنگ آبی ساحه جنگی میباشد.

جواب سوال سیزدهم: به خاطرکه هر فرد از نام ماین نفرت دارد و همه مردم باید به خاطر تحریم این مرض موزی باید داوطلبانه اشتراک نماید.

جواب سوال چهاردهم: خانه های خرابه امکانات ماین و همچنان مهمات منفجر ناشده را دارد.

جواب سوال پانزدهم: به خاطر که در ساحه مشکوک امکانات دامهای فریبنده و چیزهای خطرناک میباشد.

احمد ضیاء "میاخیل" متعلم صنف هفت
لیسه محمدی صاحب زاده
ولسوالی بهسود ولایت ننگرهار


AMN
کلاستر بمبکي پرتماس او فشار
دو اړوسره چوي او انسان ووژني
ځانونه او نور له ورنژدي
کيدونه و ساتی